(۹)

پر تهذیب او تمدن

د اسلام اغېزې

لیکوال

د اسلامي نړۍ نامتو عالم او منلی لیکوال

مولینا سید ابوالحسن علي ندوي

ژباړن:

محمد وزیر حامد

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

پرتهذیب او تمدن

د اسلام اغیزې

لیکنه

داسلامی نړۍ نامتو عالم او پیاوړی لیکوال

مولانا سید ابوالحسن علي ندوی رح

ژباړن

محمد وزیر حامد

نفیس خپرندویه ټولنه

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

کتاب پېژندنه

پرتهذیب او تمدن د اسلام اغیزې

لیکوال : مولانا سید ابوالحسن علي ندوی رح

ژباړن: : محمد وزیر حامد

کمپوزګر : محمد ابراهیم نبیل

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه.

چاپ نیټه : ۱۳۸۵ ل . ۱۴۲۷ شوال ، پشاور

د چاپ چارې او کمپوزګای

دنفیس خپرندویې ټولنې تخنیکي خانګه ډهکي

نعلبندي پېښور

تلفون: ۰۹۲۳۲۰۳۰۲۷+ ۰۰۹۲ ګرځنده: ۰۳۰۰۵۷۷۸۲۵۳

بریښنا لیک: nafeesqasam@yahoo.com

دخپرندويې ټولنې يادښت

اسلام چې پرتهذيب اوتمدن څومره بې شمېره لورينې اوګټورې اغيزې لري انساني نړۍ به يې ترقيامت پورې وي؛ خوپه دې بې شمېره لورينو کې ځينې يې داسې دي چې له برکته يې تهذيب اوتمدن خپله ورکه شوې رښتينې معنا بيرته ترلاسه کړه ،په دې ارزښناک اثر کې ارواښاد مولانا ابوالحسن علي ندوي (رح) دبيلګې په ډول ځينې همداسې لورينې راټولې کړې دي .

* په دې لورينوکې بيا ترټولو ستره لورينه دتوحيد بلنه اواعلان وچې انسانان يې له نامعلوم برخليک اوناهيلۍ څخه وژغورل ،پرځان يې ويسا اواعتماد پيداشو ،دغه راز اسلام دهغوی ترمنځ توپير پالنې ته دپای ټکی کېښود ، ددين او دنيا دواړه نعمتونه يې پرې ولورول اودهغې رسۍ واګې يې په لاس ورکړې چې ددين اوعلم ترمنځ يې تل پاتې تړون راوستی دی ، په دينې چاروکې يې له عقل څخه کاراخېستواوپه ځان اونړۍ کې فکر کولوته وهڅول اوديوداسې امت په توګه يې هم وستايل چې دانفرادي اوټولنيزواخلاقوڅارنه کوي: خوکه ليږ ځير شوداټول اوداهرڅه يواځې دپيغمبرﷺ دمبارکې هسنۍ له برکته دانسانانوپه برخه شول. (على صاحبها الف الف صلاة وتحية).

دغه ارزښناک اثر چې تردې دمخه د نړۍ ګڼوڅبوته ژباړل شوی پښتوته يې په راژباړلوسره دښاغلي مولوي محمد وزير حامد ډيره ستره ښيګڼه ده چې اجرونه يې دڅښتن ﷻ په دربارکې ورته غواړو اونفيس خپرندويه ټولنه يې تر تاسې دلوستلوپه هېله در رسوي .

حبيب الله قاسمي

دنفيس خپرندويې ټولنې خادم

دشوال ۲۰ مه ۱۴۲۷ هـ

لړلیک

سرلیک مخ

دټولنې یادښت ____ ۱

د نیکوال یادښت ____ ۶

لومړی لوړینه

دتوحید سپېڅلې اوروښانه عقیده

۱۰ــ۲۲

په بشري ژوندباندې دشرک اوبت پالنې اغیزې ____ ۱۰

په ژوند باندې دتوحید دعقیدې اغېز ____ ۱۱

په نړۍ کې دتوحید دعقیدې انگازه اوپه مذاهبو دهغې اغېز ____ ۱۳

په هندوستان باندې دتوحید دعقیدې اغېز ____ ۱۵

په مسیحي نړۍ باندې دتوحید اغېز ____ ۱۸

داهڅې ولې ناکامې شوې او ..... ؟ ____ ۲۰

دویمه لوړینه

دانساني یووالي او مساوات تصور

۲۳ــ۳۳

دوروروليې روښانه اوتاریخي اعلان ____ ۲۳

له اسلام نه مخکې بشري ټولنه اودوگړو اوپرگنو سپېڅلتیایې ____ ۲۷

دریمه لوړینه

دانسان دشرافت اولوړوالي اعلان

۳۴ _____ ۴۰

څلورمه لوړینه

دښځې دحیثیت اوحقوقوبیاترلاسه کېدل

۴۱ _____ ۵۶

له اسلام نه مخکې دښځو حالت _____ ۴۱

مانو مذهب _____ ۴۱

حمورابي مذهب _____ ۴۲

بودايي مذهب _____ ۴۶

هندو مذهب _____ ۴۶

چین _____ ۴۷

انګلستان _____ ۴۸

اسلامي ښوونې _____ ۴۸

دلویدیځ دانصاف خوښوونکوپوهانو اعتراف _____ ۵۲

نوی پیداښت او ستر بدلون _____ ۵۵

پنځمه لوړنه

دناامیدۍ له منځه وړل او په انساني روحیاتو کې ویسا اواعتماد پیداکول

۵۷ _____ ۶۳

دانسان په اړه د نظربدلون _____ ۵۷

دتوپې مقام _____ ۵۹

دتوبه ایستونکو وقار اومرتبه _____ ۶۰

پرانسان زړی او لوړنه _____ ۶۲

شپږمه لوړنه

ددین اودنیا یوځای کول اودجګړه مارو ټولنو یووالی

۶۴ _____ ۷۰

دوه ټوټې انسانیت اودجګړې ډګر نړۍ _____ ۶۴

دپورته فکر پایله _____ ۶۵

دیووالي دین اودهغه جامعیت _____ ۶۶

په مسیحي اروپا کې دحکومت اوکلیسا کشمکش ! _____ ۶۷

دپرېکون په ځای یووالی _____ ۶۸

ټول ژوند عبادت اوټوله نړۍ عبادت ځای _____ ۶۹

اوومه لوړینه

دعلم اودین په منځ کې سپېڅلی اوتلپاتې تړون پیداکول

۷۱ _____ ۸۴

یو سپېڅلی تړون پلي کول _____ ۷۱

داسې پیل چې توقع یې نه کېده _____ ۷۳

ددین دمزاج تعین _____ ۷۵

له علم اوپوهې نه وړېدونکي مذاهب _____ ۷۶

دشیندلیو علمي واحدونو په منځ کې یووالی _____ ۸۰

اتمه لوړینه

په دیني چارو کې له عقل نه کاراخیستل ، په ځان اونړۍ کې دغور اوفکر هڅې

۸۵ _____ ۹۲

دعلم او تفکر په اړه دپخوانیو مذاهبو چلند _____ ۸۵

دبصارت اوبصیرت بلنه _____ ۸۶

دفکر ددعوت اغېز اوپایله _____ ۹۰

نهمه لوړینه

دداسې لاربسود امت پیداکول چې

دانفرادي اوټولنيزو اخلاقو نګراني وکړای شي

۹۳ ــــــــــــــــــــ ۱۰۱

یوه مثالي لارښود امت ته اړتیا ــــــــــــــــــــ ۹۳
منتخب اومسؤل امت ــــــــــــــــــــ ۹۴
یوه مثبت اوښتون ته دټولنې اوتمدن اړتیا ــــــــــــــــــــ ۹۵
دکائناتو احتساب ــــــــــــــــــــ ۹۷
دامت پرلپسي مسؤلیتونه ــــــــــــــــــــ ۱۰۰

لسمه لوربنه

نړیوال اعتقادي اوتهذیبي یووالی

۱۰۲ ــــــــــــــــــــ ۱۱۳

نړیوال اعتقادي اوتهذیبي یووالی ــــــــــــــــــــ ۱۰۲
دوحدت او یووالي ځانګړې نښې ــــــــــــــــــــ ۱۰۳
دلویدیځوالو پوهانو ویناوې ــــــــــــــــــــ ۱۰۶
داسلامي تهذیب ضمیر ــــــــــــــــــــ ۱۰۸
دانساني تمدن دخوځښت کار باید جاري وي ــــــــــــــــــــ ۱۰۹
رحمت للعلمین پیغمبر اودنړۍ له پاره درحمت دین ــــــــــــــــــــ ۱۱۱
اخذلیکونه ــــــــــــــــــــ ۱۱۴

پرتهذیب او تمدن

د اسلام اغېزې

لیکنه

داسلامی نړۍ نامتو عالم او پیاوړی لیکوال

مولانا سید ابوالحسن علي ندوی رح

ژباړن

محمد وزیر حامد

نفیس خپرندویه ټولنه

تهذیب اوتمدن...

دسترې لیکنې ژباړه

دهېواد پیاوړی شاعر اوغښتلی لیکوال

استاد فضل ولي ناګار

لکه چې لوی خدای ﷻ ته منظوره ده ، چې دغرونو هیواد افغانستان به تل دکبرجنودنسکوریدوځای وي ، له یوناني سکندره نیولې تروحشي مغلو، پرنګیانو، روسانو اودادی نن ټول لویدیځ له دغسې یوه برخلیک سره لاس اوګریوان ښکاري .که ابدالي احمدشاه دهندبوت پالي له حیوانیته ژغوري ،نوپه څوکنوکې ورته دیوه روحاني فقیر(حضرت میا عمر) زرګونه، زرګونه سربښندونکي مریدان دقربانی له ستروولولوسره په استقبال ولاړوي . اودسترمرشد (میا فقیرالله حصارکي) دارشاد الفقرا پیغام مو چې پرګنې دغازي سلطان ملاتړ ته بدرګه کوي .

که شیخ الهند رح دازاری غورځنګ په څپو راولي . نودلاهورتوتي دهدې دفقیردنه ایلیدونکي پاڅون له مشاهدې

وروسته خپلې هیلې له کوهستانیانو (غرنیوافغانانو) سره تړي ، اود عربي ولس په کچه امتیازورکوي :

فطرت کې مقاصد کې کرتاهې نگهباني
یابنده صحرایي یامرد کهستاني

پرافغان مظلوم ولس له کلتوري یرغل وروسته دانه اټکلیدله ،چې دعلم اوفرهنگ پدې نابرابره مقابله کې به افغانان خپل تشخص وساتي .د (جدیدیت) په نامه فحش چې له تلویزون نیولې ترگردومطبوعاتو اوننداڑتونو پورې استخدام شوي ، دننگیالي ولس ترکوڅوراورسیدل ، خو:

دشرک په زړه کې دتوحید داناکراه څرېکې
رسالت ځکه دازرکره خلیل پسې ته

داسمه ده ، چې استوگن روحانیت او روڼ اندي به مودخاموشی ترحده خپه وي ، خودا مقابله ابوذري رض هوډ غواړي ،ماچې کله هم دنفیس ټولنې اوڅوان فرهنگیالي (محمدوزیرحامد) هلې ځلې لیدلي ، چې پکې داسلامي پیغام سمندرونه ځپاندښکاري .نودپښتوداتپه مې پر ذهن وگرځي چې :

دبیرسرولمن نیسه
دمیاملاپه دم کې نشته تاثیرونه

پر(تهذیب اوتمدن باندي داسلام اغیزې) داسلامي نړۍ دسترعالم اوپیژندلی شوي شخصیت اروابناد سیدابوالحسن علي ندوي رحمه الله تعالي علیه یولاڅوابه اولازوانه اثردی ،اودا پرافغان ولس دنفیس علمي ټولنې یوداسې احسان دی ،چې د جاریه صدقې په توګه به یې ترقیامته اروپالونکي وړمي داخورې وي .

علي میا رحمه الله تعالي علیه خودخپلوهغونومیالیو اسلافو یو خلف صادق دی ، چې اسلامي اونړیوال تاریخ به پرې ویاړي ،او زما دپاره پرې قلم اوچتول هغه درحمن بابا خبره ،چې

قدته دې څوک نه شي رسیدی که بلندۍ ته
ځکه چې اسمان وته خاته دپیغمبردی

رښتیاهم دځمکې اواسمان خبره ده . خوددغې سترستانه پرافغان ولس یوبل حق هم شته ،هغه داچې دعلامه اقبال اونوروپوهانو غوندې دافغانانو مینه وال و. افغانستان ته راغلی ، اوپخپل یونلیک کې دکابل پوهنتون دشرعیاتودپوهنځي دهغه وخت دیوه ځوان استاذسیاف دعربي ژباړې ډېره ستاینه کوي،خومتاسفانه:

زناریي نه شوپټ په رنګینوشیبو
په سردپرودني امام راځوړنده ځړۍ ده

لکه څنګه چې دکایناتوعظیم څښتن دفرعون په کورکې(کلیم)لویوي،همدغسې د نړیوال کفردنابرابرۍ مقابلې له پاره

دپښتونخوا له فرهنګي ديرونه ملکوتي اوازونه راپورته کيږي ،چې دايمان يخې هواګانې يې دمعاصر جاهليت کرغيړنې څپې چيلنجوي . اوداغږ چې ماته ترټولو زيات ازرښمن ښکاري ،دنفيس فرهنګي ټولنې دی . ماچې دوخت ارزښت وليد نوپخپل مذهب اومجاهدامام ابوحينفه رح مې عقيده نوره هم پخه شوه ، ځکه ځينې لنډاندي پدې باب په نامسؤلانه ويناووبوخت دي. اوچې پدې کتاب کې دنړيوالو پوهانو پراعترافاتواواغيزو منلوسربيره ددرانه حامد يوه نښلونه (تعليق) چې داذان په باب ده ، وکتل شي ، نوسړی ورته يې اختياره وپسخيږي ، چې کاش! په دې ثواب کې زه هم شريک وي .

زه ددرانه ليکوال ښاغلي حامد په نامه داسلامي فرهنګ ټولو قلمکارانو ته ډاډورکوم ، اودحمزه باباهغه ويناوريادوم ، چې بخارايې عالم ته يې ويلي وو ، چې زما قام غيرتي دی ،خوپوهه نه لري ،پراخروي ثوابونوسربيره په دتکبيرونواوقربانيوهېوادبه ستاسودقربانۍ په کچه فرهنګي کارنامې هيڅکله هيري نه کړې، اوپه تګ تګ کې دګنوعلمي هڅوترڅنګ نفيس فرهنګي ټولنې ته داوړانديزهم کوم ، چې که امکان ولري، دتلپاتې جهادي اسلامي اشعارويوغوړچاڼ که هغه ژباړه هم وي، نشرشي ، نوديرغل دتلې داپله به هم تشه پاتې نه شي .

پرمعنويت اوروحانيت دسرتاسري نړۍ دځلولوهيله من

ناګار_ پوهنتون مينه ،۱۳۸۵ _۸-۱۱

بسم الله الرحمن الرحیم

د لیکوال یادښت

دپنځلمسې هجري پیړۍ راتګ چې داسلامي نړۍ ډېرو هېوادونو دبیلابیلو مراسموپه ترڅ کې ولمانځه (۱) په همدې لړکې د کویت هېواد داطلاعاتو اوکلتور وزارت دثقافت اوفنونو څانګې له لوري جوړوونکې غونډې ته ددې تورو لیکوال هم بلل شوی ؤ، چې "پرانساني تمدن باندې داسلام اغیزې" تر سرلیک لاندې خبرې وکړي.

له بلنې وروسته ددې تورو لیکونکي ته څرګنده شوه چې فکر اوزړه دواړه یې له دې موضوع سره ښه مینه لري، بله داچې دلیکونکي په زړه کې له بیله ددې موضوع ارزښت پروت ؤ اوله پخواراهیسې یې ورسره

---

(۱) په همدې لړکې یوه غونډه دهند داسلامی تنظیمsimدزده کونکؤوه چې د ذی الحجی په ۲۲مه کال ۱۴۰۰ه کې دلکهنو ښار د(کنګا پرشاد) نومي هال کې جوړشوې ؤه همدې غونډې ته ددې تورو لیکوال یوه یادګاره وینا (پنځلسمی پیړۍ دحال اوراتلونکې په هېنداره کې) ترنامه لاندې واوروله چې وروسته په دریو ژبو(عربی اردوانګریزی) چاپ اودهند اوعربی نړۍ په دینی کړیوکې یې ښه مقبولیت اوارزښت ترلاسه کړ.

دزړه له کومې مینه لرله، څرنګه چې لیکونکي پوخ باور درلود چې دهمدې نوې بلنې له لاامله به په نوموړې موضوع کې (له ژورې مطالعې اوفکر)وروسته نورګټور زیاتوالی هم راوستلای شي ځکه خو یې دغه بلنه دزړه له کومې ومنله، دزیاتوکارونو اودسفر له سترو اوستومانیو سره سره بیاهم لیکوال پدې وتوانید چې دالیکنه په یو څوورځو کې بشپړه کړي .

کله چې غونډه دکویت پوهنتون دسائنس پوهنځې په انګرکې دچهارشنبې په ماښام ۱۴۰۴هـ کال / نومبر ۲۳مه ۱۹۸۳م کال دهغه هیواد داطلاعاتو اوکلتوروزارت ترڅارنې لاندې جوړه شوه په غونډه کې ددې هېواد له مشرانواونامتوعلماوو پرته داوچتو زده کړو بې شمیره زده کونکو هم برخه واخېسته، چې وروسته همدا لیکنه دمکې مکرمې په (النادی ا لثقافي) غونډه کې هم ولوستل شوه اوبیازمادلیکنو په ټولګه " احادیث صریحه مع اخواننا العرب والمسلمین" کې هم چاپ شوه(۱).

که څه هم په دې لیکنه کې ټولې بنیادي اوفکرورکونکې خبرې راغلي دي ؛خو دوخت دکموالي اوزیاتو بوختیاوو له لاامله پدې لیکنه کې له لنډون څخه کار اخیستل شوی دی .کله چې ددې تورو لیکونکی دجامعې ازهر ترڅارنې لاندې د"سیرت اوسنت" په موضوع جوړیدونکي څلورم کانفرس ته وبلل شو، نابېره دهغه کانفرس په اجنډا کې یوه موضوع هم د(اثر الرسالة الاسلامیة فی الحضارة الإنسانیة) " پرانساني تهذیب باندې داسلام اغیزې" ترنامه لاندې وه ،پدې توګه دغې بلنې دې ته وهڅولم چې پدې موضوع کې نوره مطالعه اوزیاتونې وکړم اوپدې څېر زما ذهن له

---

(۱) دارعدفات رای بریلي چاپ مخونه ۲۳-۸

هغه وروسته چې ددې موضوع له ستړیو خلاص شوی ؤ یووار بیا پرې بوخت شو، لکه همدا تجربه په ژوند کې ځوواري راسره تکرار شو.

له همدې لاامله چې یو واربیا دسوچ اوفکر لړۍ پیل شوه له نویو سرلیکونولاندې واړه عنوانه هم راغلل،دنړۍ پر ولسونو اوپرګنو باندې داسلام ښکاره اغیزې ،دمحمدي ﷺ بعثت دغوره اوګټورو لورینو په لړ کې نوي معلوماتواو غښتلو دلائلو، دنامسلمانو پوهانو دګواهیو په راوړلو سره دې لیکنې ځان ترنورو عاموسطحي لیکنو لوړمقام ترلاسه اودیوې تحقیقی علمي اوتاریخي لیکنې بڼه یې غوره کړه چې له لاامله یې ددې وړوګرځیده چې ځانته دمسلمانو اونامسلمانو نیاو خوښونکو څیړنکو زړه رامات کړي ،دنړۍ په ګڼوژبو وژباړل شي اوعلمي کړیو ته وړاندې شي.

په دې لیکنه کې تاسې دحق ملګرتیااعترافونه ،نیاومندي، دزړه لوی والی،د نظردپراخي ارزښتاک جوهرموندلای شئ. له کومو نه چې هیڅ وخت دانړۍخالي شوې نه ده . په همدې ترڅ کې لیکوال له اړتیاپرته له بې ځایه خاکساری نه کار نه دی اخیستی بلکې پدې لیکنه کې یې له خپلو پخوانیو لیکنو څخه هم ګټه ترلاسه کړې چې ددې موضوع دمقاصدو او موخو په لاروښانه کولو کې مرسته کولای‌شوی،اوداخبره به هر لیکوال او دقلم خاوند ازمائلې وي چې ذهن ته دمضامینو راتلنه ،دقلم روان والی اودطبیعت مستی داسې شیان دي چې تل نه وي ځکه خوداکار دهیڅ یوه لیکوال له پاره دعیب خبره نه ده چې کله ناکله له خپلې پخوانې پانګې په نویولیکنو کې ګټه واخلي له همدې لاامله به تاسې ډیرځله هغه عبارات هم ووینې چې دلیکوال په نوروکتابونوکې لکه "پرانساني دنیا دمسلمانانو دلوړتیا اوځوړتیا اغیز" ، "نبی رحمت" اونورو کې لوستلي

وي ،دغه رازي له نوي سره ترتیب اوځانګړې اوډنه لاامله یوه لیکنه او مقاله ځان ته دجلاکتاب نوم غوره کولای شي داسې چې په خپل منځ کې دموضوعاتو دتړاو اویوالی له لاامله ځانته ګوښې بڼه غوره کوي .

لیکوال ته چې کله په قاهره کې د(سیرت اوسنت) پر موضوع دخلورم کانفرس دځنډ خبر ورسیده (چې هغه لیکوال ته یوواربیاله نوي سره پردې موضوع دسوچ اوفکر کولو هڅونکی و) خوځرنګه لوستونکو دې کتاب ته اړتیا درلوده هغوی ته درسونې په خاطراودغه راز هغه موضوعاګانې چې داکتاب یې له ځانه سره لري چې لوستونکی ته فکراودنیاومندي درس ورکوي بله داچې داموضوع نوره هم پنځېدلې وې اوپوره حق یې اداشي او هغه پټه بلنه اوخوځښت چې داکتاب یې په خپل غېږ کې لري . همدا لاملونه ووچې غوره وبلل شوه څو داهرڅه دکتاب په بڼه دچاپ په ګاڼه وپسولل شي (وعلی الله قصد السبیل).

پدې لړکې لیکوال دخپل کار دګران ملګري مولو ی شمس تبریز نه هم دزړه له کومې مننه کوي چې نوموړي داکتاب په ډېره روانه اوپسته ژبه له عربی څخه اردو ته ژباړلی اوپه پدې توګه یې داردو په هغو کتابونو کې یوه ګټوره زیاتونه را وستله چې له عربي اردوته ژباړل شوي دي .

ابوالحسن علي ندوي

۱۹شوال ۱۲۰۵ه \۸جولائي ۱۹۸۵م،

لومړی لوړینه

د توحید سپېڅلې اوروښانه عقیده

مونږ دلته داسلام په لومړی ورکړه اودحضرت محمد رسول الله ﷺ په ستر احسان باندې ګړیږو اوهغه داچې ده بشریت ته دتوحید نګه او ارزښتناکه ورکړه اوعطیه وبښله . دایوه داسې انقلابي، عاجزه کوونکې، له ځواک اوژوند څخه ډکه ، ماهیت بدلوونکې، دباطلو معبودانو تخته نسکوروونکې عقیده ده چې نه بشریت له دې مخکې داسې عقیده ترلاسه کړې وه اونه به یې ترقیامته پورې پیداکړي.

په بشري ژوندباندې دشرک اوبت پالنې اغیزې

هغه انسان چې دشعر اوفلسفې ، سیاست اوټولنیزو چارو په اړه لویې لویې دعوې کوي اوزیاته خوشباوري لري ، هغه چې ډېر ځله یې ملتونه او هیوادونه غلامان کړي دي ، هغه چې په خپل هنر اوپوهه سره یې له سپېرو ډبرو څخه تازه اوښکلي ګلان جوړ کړي دي ،اودغرونو له سینو څخه یې نهرونه راایستلي دي اوهغه انسان چې کله کله یې دخدایي دعوه هم کړې ده ، همدې انسان داسې سپکو او ذلیلو څېزونو ته سجدې هم

کړې دي چې نه څه ګټه ورته رسولای شي اونه څه تاوان ، نه چاته څه ورکولای شي اونه څه ورڅخه ګرځولای شي :

﴿ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لاَّ يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴾ [الحج ۷۳]

(اوکه چېرته کوم مچ له هغوی څخه څه شی واخلي نو هغوی یې بېرته نشي ورڅخه اخیستلای ، داډول طالب او مطلوب دواړه کمزوري دي) .

دې انسان به داسې شیانو ته سرټیټاوه اوله هغو څخه به وېریده یابه یې ډېرتمه ځنې کوله چې هغه په خپلو لاسونو جوړ کړی و ، انسان یواځې غرونو ، نهرونو ، ونو ، څارویو ، ارباب الانواعو ، شیطانانو ، اودفطرت مظاهرو ته سجدې نه کولې ؟ بلکې آن چې ځمکنیو ژویو او چینجیوته به یې هم سجدې کولې ، خپل ټول ژوند یې په وسوسو ، اندېښنو ، امیدونو او ارزوګانو او اوهامو کې تېراوه ، چې ددې فطري نتیجه دبزدلۍ اولږ ځواکۍ ، فکري انارشي ، روحي اضطراب اوبې اطمینانې په رنځونو اخته کېدل دي ، په دې برخه کې لرغوني هند دارباب الانواعو په ډېرښت کې ځانګړتیا او امتیاز درلود ، په شپږمه مسیحي پیړۍ کې چې بت پرستي خپل اوج ته رسېدلې وه ، په دې پیړۍ کې دمعبودانو شمېر ۳۳ کروړه ته رسیدلی و (۱) ، هر ښکلی څېز ، هیبتناک او په ښکاره ګټور شی دعبادت وړبلل کېده .

په ژوند باندې دتوحید دعقیدې اغېز

قران اومحمدي رسالت دا اعلان کړی دی چې دانړۍ دیوڅو واکمنو ګډ ملکیت نه ده ، بلکې ددې لپاره یو پاچا دی ، چې هغه ددې دنیا خالق

(۱) R-C-Dutt: Ancient India Vo.III..P۲۷۶-۱۸۹۱ and L.S.S.D. Malley: Popular Himduism The Religion Of Masses Cambridge . ۱۹۳۵

اوجوړوونکی دی ، اوهم یې واکمن او چلوونکی دی ، دپیدایښت اوتصرف اختیار دهغه په لاس کې دی :

﴿ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ﴾

دهغه کارپیداکول اوحکم کول دي)[الاعراف ٥٤] .

ددې نړۍ هرڅه دده دامر اوقدرت په واسطه موجود کړل شوي دي ، اودهغو دوجود اصلي لامل دهغه اراده اوقدرت دی . داراز ټول موجودات په خپل پیدایښ او وجود کې دده دامرتابع دي

﴿ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ [آل عمران ٨٣] .

له دې کبله دامخلوقات چې څه اراده اواختیار ولري نو بیادی دهغه دفرمان منونکي واوسي

﴿ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ﴾ [الزمر ٣] .

په انسان باندې ددې عقیدې لومړی ذهني اغیز داوي چې داټوله نړۍ دیوه مرکزیت اوواحدې اډانې تابع ده اوانسان ددې نړۍ په خورو اجزاوو کې یو ربط اوقانوني یووالی محسوسوي، بیانو ددې عقیدې په برکت سره دژوند په تمامه معنا پوهیږي اودمخلوقاتو په اړه په هوښیاری اودانشمندانه توګه سره رایه قائمولای شي .

رسول الله ﷺ انسان ته ددې سپېڅلې ، آسانه ، دمنلو وړ، هوسا ژوند ښښونکې عقیدې په ذریعه ژوند وبانښه چې په نتیجه کې یې هغه له هرې وېرې او خطر څخه آزاد شو اوس له خدایه پرته هغه له بل هیڅ شي نه وېرېده . دهغه دایقین شو چې خدای یو دی ، نقصان اوګټه رسوونکی دی . ښښونکی اومنعه کوونکی دی . اویواځې هماغه دبشري اړتیاوو پوره کوونکی دی، ددې عقیدې. ددې نوي معرفت اوانکشاف په ذریعه دهغوی په سترګوکې دنړۍ تصویر بدل شو، اوله هر ډول غلامۍ، دمخلوق له وېرې اوتمې . دزړه او دماغ له پرېشانه کوونکو څېزونو څخه

آزادشول، په ډېروخلکوکې دوحدت او یووالي شعور پیداشو. بشري نوغې داشرف المخلوقات په توګه دالله ﷻ له لورې د ځمکې دحاکم اوچلوونکي په توګه ومنل شو. انسان دخپل رښتوني خالق اوځښتن پیروي دهغه داحکامو منل اواجراء خپله فریضه وبلله ، اوپه دې توګه هغه خپل تلپاته بشري شرافت اوعظمت ترلاسه کړ چې اوږده موده بشریت له هغه څخه بې برخې وُ.

په نړۍ کې دتوحید دعقیدې انګازه اوپه مذاهبو دهغې اغېز

دامحمدي بعثت وُ چې انسانیت ته یې دتوحیددعقیدې نادره تحفه ورکړه چې له پېړیو راهیسې نایابه اوهیرشوی حقیقت ګرځېدلی وُ، له دې بعثت نه وروسته ټولې نړۍ دهغې انګازه واورېده او تقریباً ټولې نړیوالې فلسفې اودینې غورځنګونه کم اوزیات له هغې نه اغېزمن شول.

ځینې ستر مذاهب چې په شرک اوبت پالنه کې یې وده شوې وه اوپه وینه کې یې سرایت کړی و هغه هم بالآخره په پټه خوله په دې اعتراف مجبور شول چې خدای ﷻ یو دی اوهیڅ شریک نه لري، هغو مذاهبو په خپلو شرکي عقیدو کې فلسفیانه تاویلونه پیل کړل څو دشرک اوبدعت له تهمت نه وژغورل شي اوداسلام دتوحید له عقیدې سره ورته والی ښکاره کړي نو دهغو پیروان او پالونکي دشرک الزام اورېدلوته تیارنه وو ، هغه مشرکانه تحریکونه دیو ډول دکمترۍ احساس Imferiority Complox ښکارشول ، په دې حالت کې د توحید تحفه ترټولو ارزښتناکه تحفه وه چې درسول ﷺ دبعثت په ذریعه انسانیت ترلاسه کړه.

حضرت استاد مولانا سید سلیمان ندوي رح په دې حقیقت رڼا اچوي اولیکي : هغه قومونه چې له توحید سره نااشنا وو هغو دانسانیت مرتبه هم نه وه پېژندلې، هغوی انسان دفطرت د هرشي غلام باله، دایواځې دمحمد ﷺ دتوحید ښوونې وې چې له خدایه پرته دهرشې وېره یې دانسان له زړونو وایستله له لمرنه نیولې دځمکې تردریابونواوډنډونوپورې هرشی‌دانسان دبادار اوآقا کېدلو په ځای دهغه دغلام په توګه ورته رامخته شو ، دباچاهانو دجلال اوظلم طلسم ټوټه ټوټه شو اوهغه دبابل ، مصر ، هند اوایران دخدای او " ربکم الأعلی " کېدلو په ځای دانسانانو خادمان، ساتونکي اوپهره داران وګرځېدل چې دهغوی عزل اونصب دارباب الانواعو اوفرښتو په لاسونوکې نه وو بلکې په خپله دانسانانو په لاس کې و، ټوله انساني ټولنه د" دیوتاو" حکومتونو په لوړ اوټیټ ، شرف اوذلیل اومختلفو طبقو اوذاتونو باندې وېشلې وه ..... او راز راز عقیدې به خلکو لرلې . دهمدې عقیدو له کبله په ګڼ شمېر جنسونو باندې وېشل شوي وُ چې په هیڅ ډول یوکیدای نه شوای اوپه دې توګه دانساني مساوات نعمت له نړۍ نه ورک شوی و، اوځمکه دقومونو اوذاتونو دظلم ، جبر ، غرور اوفخر مرکزګرځېدلې وه ، کله چې توحید راغی دا لوړوالی اوټیټ والی او اواري اونا اواري یې سره برابرې کړې ټول انسانان دخدای ﷻ بندګان ټول دهغه په وړاندې سره برابر ، ټول په خپلو کې سره ورونه اودټولو حقوقو په لحاظ سره برابر شول .

دې ښوونو چې دنړۍ په ټولنیزو، اخلاقي اوسیاسي اصلاحاتو کې کوم کاروکړ دهغه پایلې دتاریخ په پاڼوکې ثبت دي ، بالآخر ددې اصولو صداقت هغو هم ومانه چې له حقیقي توحید سره نااشنادي اوله همدې امله هغه دانساني مساواتو له حقیقت سره تراوسه پورې نابلده دي ، چې دخدای ﷻ په کورکې به هم دمراتبو دتوپیر فکرددوی له زړه نه ووت

اودشتمني اوفقيري . رنګ اونژاد امتيازات يې دخداى ﷻ په وړاندې د سرتيتولو په مهال هم نه هيرول .

مسلمانانو له ديارلس سوه کاله راهيسې دمساوات نعمت دهمدې کامل توحيد په برکت ترلاسه کړی دی اوله هرډول مصنوعي امتيازاتو نه پاک دي، د اسلام په نظرکې ټول ديوه خداى ﷻ بندګان دي اوټول يو ډول هغه ته سرونه ټيټوي دشتمني او غريبي ، رنګ اوشکل، قوميت اونژاد هيڅ امتياز دوی نه شي سره ويشلای، که چېرته څه امتيازوي نوهغه يواځې د تقوا اودخداى ﷻ دپيروي امتياز دی:

﴿إنّ أكرمكم عندالله أتقاكم﴾ [الحجرات ۱۳] (په تاسوکې دخداى ﷻ په نزدترټولوزيات عزتمن هغه دی چې ترټولوزياته تقوالري) (۲) .

په هندوستان باندې دتوحيد دعقيدې اغېز

مشهورهندي عالم پانيکر K-M-Panikkar په هندوستاني ذهن او فلسفه باندې داسلام دتوحيد دعقيدې له اغيزونه بحث کوي اوليکي : دامنل شوې خبره ده چې په هندو مذهب باندې په اسلامي عهد کې اسلام ډېر ژور اغېز کړی په هندوانوکې دالله ﷻ دعبادت فکر داسلام نتيجه ده په دې زمانه کې دفلسفې اومذهب سرلارو که څه هم دخپلو معبودانو لپاره مختلف نومونه ايښي دي خو هغوی دخداى ﷻ دعبادت دعوت هم ورکړی دی اوداخرکندونې يې کړې دي چې خداى يو اودعبادت مستحق دی اوله هغه نه دنجات اونيکمرغۍ غوښتنه بايد وشي ، دا اغېز په

---

(۲) دمولانا سيد سليمان ندوي سيرت النبي څلرم ټوک مخونه ۵۲۳-۵۲۴ .

اسلامي پیر کې د هندوستان په مذاهبواوتحریکونوکې ښکاره شو لکه د بهګتي Bhagti اوکبیرداس (۳) تحریکونه (۴).

نامتو هندو پوهاند ډاکټر تاراچند په هندوستان باندې داسلام د اغېزو په لړ کې لیکي چې : دخلافت دزمانې عرب دجنوبي هند سواحلو ته دسیاحانو په حیث راغلي وو اودخپل هم مذهبه افغانانو ، ترکانو اومنګول فاتحینو له راتګه ډېرمخکې یې تجارتي اړیکې اوراشه درشه لرله دهیواد په دې برخه کې له نهمې پیړۍ نه تر دولسمې پیړۍ پورې سترمذهبي غورځنګونه پیل شول چې له شنکر sankara ، رامانج Ramanuja آنسند تیرتها Anamda Tirtha ، اوباسوا Basava سره یې تړاو درلود ، ددوی په ذریعه هغه تاریخي ډلې پیداشوې چې دهغو ساری وروسته په هندوازم کې نه دی لیدل شوی ، داخبر سپینول هم ضروري دي چې دجنوبي هند دافلسفي اومذهبي مکاتب بیل بیل له زړو فکري نظامونو نه اخیستل شوي دي ، خو په مجموعي توګه اودخپلو ځانګړو تمایلاتو په لحاظ داسلام اغېزې ښکاره کوي او په دې ډول له اسلام نه داغېز قبلولو نظریه له قیاست سره برابروي(۵).

ډاکټر تاراچند په خپل یوه بل کتاب کې په بهګتي تحریک باندې داسلام داغېزو نه بحث کوي او لیکي : یوبل فکري مکتب د سنتو Mysties هم و چې دعوامو ژبه یې کارولې اودخپلو انقلابي افکارو تبلیغ یې وکړ ، دې زیات له تیتو ذاتونوسره تړاودرلود ، ددوی له تحریک نه معلومیږي چې د محرومو عوامو له پاره راپورته شوي و، په دوی کې یې

---

(۳) یو صوفي شاعر چې په هندي ټولنه تنقید کوي اوداصلاح بلنه ورکوي ، دده دمذهب په باره کې اختلاف دی .

(۴) A survey of Indian History - p-۱۳۲

(۵) Inkluence of Islam on Indian Culture-p-۱۰۷

ځیني دحکومت له سختي سره په ډغره شول ، ځیني دټولنې له ناراضي سره مخ شول اودځینې یې ددې وړ ونه بلل شو چې تعقیب کړل شي خو په غریبو خلکو کې دوی ډېر عزت درلود او ددوی په ښوونو یې په ډېره لېوالتیاسره عمل کاوه، دې خلکو د انسانیت په احترام باندې ډېرټینګار کاوه ځکه ددوی دښوونواوتعلیماتوله مخې هرڅوک په خپل عمل سره دانسانیت لوړې سطحې ته رسیدلای شوای ... دا تحریک په پنځلسمه پېړۍ کې پیل شو اود اوولسمې ۱۷ پېړۍ ترنیمایي پورې پاتې شو خوله دې وروسته ورو ورو مخ په ځوړ روان و ددې مشران دهندوستان دمختلفو سیمو اوسیدونکي وو خو ددوی په تعلیماتو اوعقایدو کې داسلام اغېز په روښانه توګه موجود ؤ(۶) .

همدا حال دسکانو دډلې هم دی کومو چې دهندوستان په ټولنه اودهیواد په سیاسي ، نظامي اوتهذیبي ډګرونوکې مهم رول لوبولی دی ، ددې ډلې له تاریخ نه داسې برېښې چې په هندو مذهب کې ددې ډلې دودې اصلي لامل ددینې عقایدو پاکوالی دی ، ددې ډلې بانې " باباګرونانک" له اسلامي ښوونو نه ډېر اغېزمن و، فارسي ژبه اومذهبي معلومات هغه له یوه صوفي سیدحسن شاه نه ترلاسه کړي ؤ ،ده هغه ډېر زیات مانه دګرونانک دنورو مسلمانو استادانو یادونه هم شوې ده چې شمېر یې شپږوته رسیږي ،ویل کیږي چې هغه دحرمینو شریفینو زیارت هم کړی ؤ اوخوشپې یې په بغداد کې تېرې کړې وې ، دهغه دپنجاب له یوه لوی دطریقت پیر شیخ فرید سره هم ځانګړی تعلق ؤ .بابا نانک په خپلو ښوونو اودعوت کې دتوحید په عقیده، انساني مساوات اوبت

(۶) society and the state in the mughol period lydr tarachand dilhi ۱۹۹٤ p-۹۱
Macauliffe, the sikh religion serasam

پرستي پرېښودلو باندې ډېرټينګار کوي (۷).

په مسيحي نړۍ باندې دتوحيد اغېز

نامتو مصري ليکوال ډاکټر احمد امين په خپل مشهور کتاب " ضحى الاسلام" کې ليکي : په مسيحي نړۍ کې ځينې داسې اختلافات شته چې داسلام اغېز په څرګنده توګه پکې ښکارېږي لکه په اتمه ميلادي پيړۍ يعنې دويمه اودريمه هجري پيړۍ کې دسپتمانيه (۸) Septmania په سيمه کې يوداسې تحريک رامنځته شو چې دپادريانو په وړاندې دګناه داعتراف قائل نه و. دوی په دې فکر وو چې پادري داسې اختيارنه لري انسان دخپلوګناوو دبښنې له پاره بايد يواځې خداى ﷻ ته زارۍ وکړي اوپه اسلام کې خو پادريان اوراهبان وجود نه لري نو دداډول اعتراف کې څه مشکل نشته.

داراز يوداسې تحريک هم و چې دعکسونو اومجسمو Statues مخالفت يې کاوه چې Iconocla يې ورته ويلي په اتمه نهمه ميلادي پيړۍ يادريمه څلرمه هجري پيړۍ کې يوه داسې عيسايي ډله راڅرګنده شوه چې دعکسونو اومجسمو له تعظيم نه منکروؤ ، رومي واکمن ډريم ليو په کال ۷۲۶م کې يو فرمان جاري کړ اودعکسونو اومجسمو تعظيم يې حرام کړ بيا په کال ۷۳۰م کې داعمل بت پرستي وبلل شو داراز دويم

---

(۷) Singh Life of Gurunanak.

(۸) سپتمانيه يو لرغونی فرانسوي ولايت دی چې دفرانسې په جنوب لويديځ کې دبحرروم په غاړه پروت دی.

اودریم پاپ ګریګوري او دقسطنطنیه بطریق جرمانیوس اوامیر دبریني دعکس پرستي پلویان وو اودپنځم قسطنطنین اوځلرم لیویي مخالف ؤ او ددوی په منځ کې داسې کشمکش تېرشوی چې دتفصیل له پاره یې دلته ځای نشته مونږ دلته یواځې داویل غواړو چې دمؤرخینو په آند تصویر مخالف تحریک له اسلام نه اغېزمن شوی ؤ هغه وایي چې : دکلوډیوس Clodus تورین اسقف (لوی پادري) (چې په ۷۲۸م نږدې ۲۱۳هـ کې په دې منصب ټاکل شوی ؤ) به عکسونه اودصلیب نښې سوځولې اودخپل کارپه ساحه کې یې دهغو عبادت ته خلک نه پرېښودل . دی په هسپانیه (اندلس) کې پیداشوی اولوی شوی ؤ .

په اسلام کې له مجسمو او عکسونو نه نفرت اوکرکه ښکاره خبره ده په صحیح بخاري اومسلم کې له حضرت عائشې ﷺ نه روایت دی ه هغه وایي : " قدم رسول الله ﷺ من سفرٍ و قد سترت سهوةً لي بقرام فیه تماثیل فلمارآه هتکه وتلوّن وجهه وقال یا عائشة ! أشدالنّاس عذاباً یوم القیامة الذین یضاهؤن بخلق الله قالت فقطعناه فجعلناه وسادةً أو وسادتین [۹] (رسول الله ﷺ له یوه سفره راستون شو ماپه کړکۍ باندې یوه پرده ځړولې وه چې په هغه کې عکسونه ؤ ده ﷺ چې کله هغه ولېده نو چېرې یې کړه اودمبارکې څېرې رنګ یې بدل شو اوماته یې وویل چې عائشې ! دقیامت په ورځ به زیات سخت عذاب هغه چاته ورکول کیږي چې دالله ﷻ دتخلیق دقدرت نقل کوي داوایي ماچې که داو اوربدل هغه پرده مې چېرې کړه یو یادوه بالښتونه مې ترې جوړکړل) .

دعیسایانو یوه ډله دتثلیث دعقیدې تشریح دتوحید په وړ کوي (۱۰) اودعیسی علیه السلام له الهویت نه منکردي (۱۱) .. داروپا دخپل تاریخ

---

[۹] صحیح بخاري شریف اوصحیح مسلم شریف .

[۱۰] Haines: Christiamity and Islam In Spain

اودعیسایي کلیسا دتاریخ مطالعه کوونکي دپاپایي نظام مصلحین اودهغود موسسینو په جګړوباندې داسلام دذهني اوفکري اغېزو څه اندازه لګېدلای شي په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې پورته شوي "دلو تهر" داصلاح تحریک کې هم داسلامي تعلیماتو څرک لېدل کیږي ، داسې لکه په یوه شیشه کې چې له لري رڼایي شغلې ترسترګوکیږي ، داراز دمنځنیو پیړیو دزوړپالي اودکلیسا دجبر له پیړو پردونه داتته رڼاترسترګوکیږي ، لکه مسیحي پوهاند J.Bass Mullinger چې دې لورته نغوته کوي (۱۲)، دارنسټ دي بنسنErnest Debunsenپه فکر داحالات په نصرانیت باندې د پولس Paul's دمسلط کېدو اودنصرانیت دهغه دذهن اوافکارو تابع کېدلو له امله پیداشوی (۱۳). دلوتهر په قیادت کې پروټیستنټ ازم په دیني اودنیوي چاروکې دازاد خیالۍ افکار لري اودفرد دازادۍ او دیني اسانتیاخوښونې قائل دي چې دزوړ پالي مطلق العنان دیني مشرتابه په ضد دی . دپرتستنټ ازم روح داده چې فرد دالله ﷻپه وړاندې مسوؤل دی نه د کلیسا په وړاندې .

داهڅې ولې ناکامې شوې او ولې یې په زړه پورې پایلې ورنکړې ؟

دلته یوه تاریخي او علمي حقیقت ته توجه کول ضروري دي چې دمذاهبو تاریخ اودقومونو نفسیاتو ثابت کړی دی هغه داچې : دې اصلاحي اوانقلابي تحریکونو ددې مذهب له عامو منونکو نه ځانونه لرې

---

(۱۱) ضحی الاسلام لومړی ټوک مخونه ۲۶۴-۲۶۵.

(۱۲) په برتانکیا دائرة المعارف کې په " مارټن لوتهر" باندې دمالنګر Mullinger مقاله وګورئ !

(۱۳) وګورئ Islam or true Christianity Ernest de bunsen

نکړای شول اوهغه ډله په پرلپسې توګه له خپلې دې لویې ټولنې سره تړلې پاتې شوه . سره له دې چې دهغو له اساسي عقیدو نه منکر ؤ خو بیاهم دوی له چشم پوشي نه کارواخیست اود مسؤلیت احساس یې ونکړ آخر ددې تحریکونو انجام داسې شو چې په هغه زاړه تحریف شوي مذهب کې ضم شول اوټولې اصلاحي اوانقلابي هڅې یې ضایع شوې .دمسیحیت دانقلابي تحریکونواوپه هندوستان کې دتوحیداوانساني مساوات د دعوت تحریکونو انجام زمونږ په مخکې دي .

ددې په مقابل کې دانبیاء کرامو علیهم السلام اواسلام دریځ په دې معامله کې بالکل روښانه اودلمر په څېر څرګند دی . دادریځ دحضرت ابراهیم علیه السلام اودهغه دایمانداره پیروانو له وینا نه څرګندې چې هغوی په خپل وخت کې مشرکینو ته ویلي ؤ اوقرآن یې رانقل کوي :

﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَاؤُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلاَّ قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لأَبِيهِ لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴾ [الممتحنه ٤]

(بیشکه ستاسو لپاره په ابراهیم علیه السلام اودهغه په ملګروکې یوه ښه نمونه شته ده چې کله دوی خپل قوم ته وویلي چې مونږ له تاسو اوهغه شي چې تاسویې پرته له خدایه عبادت کوئ : بېزاره یو، مونږ له تاسونه منکر یو اوزمونږ اوستاسو په منځ کې دهمېشه لپاره دښمني اوبغض څرګند شو، څو پورې چې تاسو په واحد خدای ایمان رانه وړئ. البته ابراهیم خپل پلارته دا ویلي ؤ چې زه به ستاله پاره خامخا ښښنه غواړم او زه دخدای په وړاندې دیوې خبرې اختیارهم نه لرم ای خدایه ! یواځې په تاباندې توکل کوو او ستالورته درګرځېدونکي یو) .

دادریخ په کومه زمانه اوټولنه پورې خاص نه وړ بلکې حضرت ابراهیم علیه السلام ائنده خلکوته هم ددې وصیت کړی دی ،قرانکریم وایي :

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ٢٦ إِلاَّ الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ٢٧ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ٢٨ ﴾ [الزخرف ٢٦-٢٨]

او(هغه وخت هم دیادولو وړ دی) چې کله ابراهیم خپل پلاراوقوم ته وویل چې زه له هغه شي بیزاره یم دکوم چې تاسو عبادت کوئ ، هوکې عبادت دهغه چاکوم چې زه یې پیداکړی یم اوهغه به ماته هدایت کوي اوګرځولې وه "ابراهیم" دغه کلمه (توحید) باقي پاتې کیدونکې په پشت اواولاد خپل کې ددې لپاره چې دوی بېرته راوګرځي (له شرک نه توحیدته)

ددې دریخ په برکت سره اسلام خپل تعلیمات اوروح خوندي ساتلې ده اودیوه روښانه اومعلوم دین په شکل کې تراوسه هم موجود دی :

﴿ لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ ﴾ [الانفال ٤٢] (له پاره ددې چې هلاک شي هغه څوک چې شان یې هلاکت وي وروسته له موجودېدلو دروښانه دلیل او حجت اوژوندی پاتې شي هغه څوک چې شان یې ژوندون وي وروسته له موجودېدلو دروښانه دلیل اوحجت .

دویمه لوړینه

دانساني یووالي او مساوات تصور

دوروروڼی روښانه اوتاریخي اعلان

بشریت ته دپیغمبر ﷺ دویمه ورکړه اودنړۍ په اوسیدونکو ستراحسان د بشریت دیووالي تصور دی له دې وړاندې انسان په قومونو اوپرګنو په لوړواوټیټو تنګو توکمیزو کړیو کې وېشل شوی ؤ، ددې طبقاتو خپل منځي توپیر دومره څرګند ؤ لکه دانسان اوحیوان توپیر، دحر اوغلام توپیر، دعابداومعبود توپیر.له ده ﷺنه مخکې دبشري مساوات اویووالي تصور تش خوب اوخیال ګرځېدلی ؤ، رسول الله ﷺ دپېړیو په اوږده چوپتیا اوخپره تیاره کې دا انقلابي، عقل هېښوونکی اوحالت بدلوونکی اعلان وکړ:

أیهاالنّاس إنّ ربّکم واحد وإنّ أباکم واحد ، کلّکم من آدم وآدم من تراب إنّ أکرمکم عندالله أتقاکم ولیس لعربيّ علی أعجميّ فضلٌ إلّا بالتّقوا [کنزالعمال]

ای خلکو ستاسو رب یو اوستاسو پلارهم یودی تاسو ټول له آدم علیه السلام څخه پیداشوی یاست او آدم له خاورو څخه . په تاسوکې خدای ﷻ ته نږدې اوشریف انسان هغه څوک دی چې زیاته تقوا ولري . هیڅ عربي په عجمي باندې فضیلت نه لري مګر په تقواسره .

په دې فرمان کې دوه خبرې دي چې دامنیت لپاره د دوو ستنو حیثیت لري .چې دعربي ژبې په تعبیر کې په " وحدت الرب ووحدت الاب" سره یادیږي ، چې په دې سره هرځای اوپه هره زمانه کې دامن اوامان دودانی ستنې ټینګې شوې دي ، یودربوبیت یووالی اوبل دبشریت یووالی په توګه سره یو انسان دبل انسان په دوو رشتو سره ورور کیږي یوه اساسي رشته ده چې ددواړو خدای ﷻ یودی بله ددویمې درجې ده چې ددواړو پلاریو دی .

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾ [نساء ۱]

(ای خلکو ! له خپل ښښتن څخه ووېرېږئ هغه چې تاسو ټول یې له یوه نفس څخه پیداکړی یاست اوله هغه څخه یې دده جوړه پیداکړې ده ، اوله دې دواړو څخه یې ډېرنارینه اوښځینه پنځولي دي اوله هغه خدایه ﷻ څخه ووېرېږئ چې دهغه په واسطه له یوه بل څخه سوالونه کوئ اودخپلویو په اړه هم (تقوا غوره کړئ) بیشکه الله ستاسو څارونکی دی) .

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ [الحجرات ۱۳]

(ای خلکو! مونږ تاسو "ټول" له یوه نر او یوې ښځې څخه پیداکړی یاست اوتاسو مومختلف قومونه اوپرګنې ګرځولي یاست څو یوبل سره وپیژنئ ، بیشکه چې ستاسو ډېرمتقي خدای ﷻ ته ډېر عزتمن دی بیشکه چې الله ﷻ ډېر پوه اوښه خبردار دی) .

رسول الله ﷺ فرمایي : إنّ الله قد أذهب عنكم عصبية الجاهلية وفخرها بالأباء إنما هو مؤمن تقي اوفاجر شقيّ النّاس بنوادم وادم خلق من تراب لافضل لعربيّ على

عجميّ إلا بالتّقوا [ترمذي] (خدای ﷻ له تاسو څخه جاهلي عصبيت (تربګنۍ) اوپه پلرونو ویاړل ختم کړل اوس به یا نیکمرغه مومن وي یا بدمرغه فاجر ، خلک دادم زامن دي اوآدم له خاورو پیداشوی ، عربي په عجمي باندې هیڅ فضیلیت نه لري مګر په تقواسره .

له دې کبله اسلام دټولو قومونو ، امتونو ، توکمونو ، کورنیو اوټولو هیوادونو له پاره دټولنیز حق او " ګډې شتمنۍ" حیثیت لري چاته دیهودو دبنې لاوی اودهندوانو دبرهمنو په څېر ځانګړی اختیارات نشته ،نه یونسل په بل نسل باندې اونه یوه قبیله په بلې باندې فوقیت اولوړوالی لري اوپه دې تفوق اولوړتیا کې دنسل اووېنې هیڅ رول نشته ، دفضیلیت اساسي معیار دیوه فرد هڅې اومینه ، محنت اولیاقت ، جهاد اواجتهاد دی اوپه همدې صفاتو سره لوړوالی ترلاسه کولای شي .امام احمد رح په خپل سندسره له رسول ﷺ څخه روایت کوي چې :

لوکان العلم باالثّریاء لتناله أناس من ابناء فارس

(که چېرته په ثریاپورې علم وي نو فارسي ځوانان به یې ترلاسه کړي) ، ځکه خو عربو په هره زمانه کې ددیني علومو نامتو عجمي علماء په سرسترګومنلي دي دهغوی ژوره پوهه ، امانت اوعلمي قیادت یې منلی اوهغوی ته یې داسې دعظمت القاب ورکړي دي چې عربي علماوته یې نه دي ورکړي . هغوی دبخاري شریف مصنف امام محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن مغیره بن بردزبه الجعقي البخاري "مړ ۲۵۶هـ" ته د " امیرالمومنین في الحدیث" لقب ورکړی اودهغه کتاب یې له قرانکریم څخه وروسته ترټولو ښه کتاب بللی دی ، دا راز عربو امام ابوالمعالي عبدالملک الجویني النیشاپورې "مړ ۴۶۸هـ" ته د " دامام الحرمین" لقب

ورکړی دی ،اوامام ابوحامد محمدبن محمد الغزالي طوسي "مړ ۵۰۵هـ" په " حجې الاسلام" سره یادوي .

له دې پرته دلومړې هجري پیړې په آخرکې داسلامي حکومت په اداروکې زیات مریونه اوعجم دمسلمانانو مشران اودرجوع ځای وُ ، اوله دوی څخه به علم اوفتوا . فقه اوحدیث خلکو زده کول ، دایوروښانه حقیقت دی دطبقاتو اوژوند لیکونو . داسلام دتمدن تاریخ په کتابونو کې یې تفصیل پروت دی داپه داسې مهال کې چې داسلام دځواکمنې زمانه بلل کیږي اوپه هغه وخت کې مشرتوب دعربانو په لاس کې وُ .

دعربانو نابغه علامه عبدالرحمن بن خلدون المغربي " مړ ۸۰۸هـ " لیکي چې : دایوعجیب اوهیښوونکی حقیقت دی چې دمسلمان ملت دشرعي اوعقلي علومو زیات علماء په عجمو کې پیداشوي دي اوپه عربوکې داسې علماء ډېر کم پیداشوي دي ، داپه داسې حال کې چې داملت عربي ملت دی اودشریعت څښتن هم عرب دی ، په علم نحوکې نامتو امام سیبویه ، له هغه وروسته بوعلي فارسي اوله هغه وروسته الزجاج داټول له عجمي نژاد سره تړاو لري ، داراز دحدیثو ، اصول فقه ، علم کلام زیات ماهرین اومفسرین عجم وو .[مقدمه ابن خلدون دمصر چاپ مخ ۴۰۱]

تیرشوی حدیث هغه ابدي کلمات دي چې درسول الله ﷺ له مبارکې خولې څخه په حجة الوداع کې وتلې وې .په هغه وخت کې چې داستر تاریخي اعلان کېده دنړې حالات سم اومعتدل normal نه وه اوپه دې نړې لړزوونکي اعلان نه پوهېده اونه یې منلوته چمتو و .

زمونږ عادت دی چې ځینې څېزونه په تدریج اوبالراسطه توګه منو لکه دبریښنا شاټ چې کله پټ اوپه تارونوکې نغښتی وي نوبیا لاس ورلګول

کیدای شي .خو چې کله له واسطې پرته لاس پرې ولګول شي نودسختې صدمې shoch اوآن چې دمرګ خطرلري ، دعلم او پوهې ، فکر اوفلسفې دا اوږدمسافت چې انساني نړۍ داسلامي دعوت اواسلامي ټولنې دبلونکو اومصلحینو د هڅو په نتیجه کې وهلی دی ، دحق دا انقلابي اولړزونکی اعلان تل دیوه حقیقت په صورت کې رامنځته کیږي ، هغه دنړۍ سیاسي اوټولنیز تنظیمونه خپلوي چې یوه نتجه یې دبشر دحقوقو منشور Humans Rights Charter هم وي چې دملل متحد له خوا رامنځته شوی دی .اودا راز هغه ټول اعلانات چې جمهوري هیوادونو دبشري حقوقوډلې یې کوي ، اوڅه دتعجب ځای نه پکې لیدل کیږي .

له اسلام نه مخکې بشري ټولنه اودوګړو اوپرګنو سپېڅلتیایې

په انسان باندې داسې دوره هم تېره شوې ده چې دهغه په ذهن کې ځینې قامونو او پرګنو زیاته سپېڅلتیا لرله اودمافوق البشر ګومان پرې کېده ، لکه ځینې کورنیو اوتوکمونو چې داعقیده لرله چې ددوی نسب له لمره ،سپوږمۍ او خدای ﷻ سره تړلی دی ، قرانکریم دیهودواو نصاراوو داسې ویناوې رانقل کړې دي : ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ ﴾ [المائده ۱۸] (یهودو اونصاراوو به ویل چې مونږ دالله تعالی زامن اودوستان یو) .

دمصر دفراعنه و دافکر و چې دوی دلمر د رب النوع (راع) "RE" مجسمې اوبڑي دي ، دهند دوو کورنیوته " سورج بتسي" دلمرزامن او " چندرنسي " دسپوږمۍ زامن ویل کېده ، دایران کسری په دې فکر و چې په رګونوکې یې خدایي وینه چلیږي . له همدې امله ولس هغه ته دتقدس اوسپېڅلتیا په

سترګه کتل ، دکسری پرویز " ۵۹۰- ۶۲۸ع " تعریف به داسې کېده چې " هغه په خدایانو کې نه فناکېدونکی انسان دی اوپه انسانانوکې بې ساری خدای دی ، دهغه خبره عالي اوشرافت یې لوړ دی . له لمره سره یوځای راخیږي اوپه خپل نور سره توري شپې روښانه کوي "(۱۴) دروم قیاصروو ته هم دخدای په سترګه کتل کېدل August ستر اولوړ دهغه لقب ؤ (۱۵) ، چینایانو به خپل باچا " اسمان زوی " باله ، دوی په دې ګروهه وو چې اسمان نر اوځمکه ښځه ده او ددواړو له یوځای کېدلو څخه دا مخلوقات پنځېدلي دي اوباچ "لومړی ختا"ددې جوړې لومړی اولاد دی(۱۶) .

عربو له خپلو ځانونو پرته نور هرچاته عجم (بې ژبې) ویل ، قریشو په ټولو عربو باندې ځان ښه باله او دحج په موسم کې به یې هم خپله ځانګړتیا خوندي ساتله ، له خلکو سره به یې ګډون نه کاوه ، عرفات ته به له حاجیانو سره نه تلل ، په حرم کې به پاته کېدل اوپه مزدلفه کې به یې قیام کاوه ، او ویل به یې چې مونږ دالله کلیوال اودهغه دکور اوسیدونکي یو اوکله به یې ویل چې مونږ خواص یو(۱۷) .

هند په خپلو ګاونډیو هیوادونوکې په توکمیزو او طبقاتي اختلافاتو کې ترټولو مخکې ؤ دهغه ټولنیزه اډانه دومره ظالمانه او جابرانه وه چې هیڅ نرمي نه وه پکې ، اوداجابرانه چلند دمذهب له خواهم تائیدکېده، هغه له باندې څخه دراغلي نسل اودمذهب اوتقدس اجاره دار برهمنو په ګټو پورې تړلې وه، په هغه کې میراثي پېښې، نسلونه اوکورنۍ اساس ګرځېدلې وې ، اودې دسیاسي اودیني قانون حیثیت درلود چې دهند

---

(۱۴) دارترکه ستین سن کتاب " ایران بعهد سانانیان " مخ ۶۴

(۱۵) The Roman world By Victor Chopper P.۴۱۸

(۱۶) دجیمس کارکرن کتاب " تاریخ چین "

(۱۷) بخاري شریف دعائشې رضی الله عنها روایت

مذهبي مشرانو جوړ کړی ؤ اوهغه دټولنې عام قانون اودژوند دود ګرځېدلی ؤ چې دهند اوسیدونکي یې په څلورو طبقو ویشلي وؤ

: ۱ = برهمن اومذهبي طبقه .

۲= فوځیان اوعسکرچې چهتري یې ورته ویل

۳= دتجارت اوکرهنې واله چې " وېش" ورته ویل کېده .

۴= چوړیان یعنې "شود"داترټولو ټیټه طبقه وه چې دمخلوقاتو څښتن له خپلو پښو څخه پیداکړې اودتېرودریوطبقو چوپړ ددوی دنده وه .

دې قانون برهمنو ته هغه مرکزیت اوعظمت ورکړی وه چې هیڅوک ورسره پکې شریک نه وو ، برهمن په هر صورت دنجات څښتنان وؤ که څه هم دهغوی په ګناوو اوبد عملیوسره ټوله نړۍ تباه شوې وای ، په هغوی باندې هیڅ مالیه نه وه ، په هیڅ صورت دهغوی لپاره دمرګ سزانه وه ، ددې په خلاف شودر دمال ګټلو ، له برهمن سره دکښېنستلو ، اوهغه ته لاس ورورلو ، دسپېڅلو کتابودزده کړې هیڅ حق نه درلود(۱۸) . اهل حرفت ،قصابانو ،بنګیانو، د"منو سمرتي" له احکامو سره سم په ښار کې داوسېدلو حق نه درلود، له دې کبله به هغوی په کلیوکې اوسېدل دلمر ختلو په مهال به دخپلو کارونو لپاره ښارونو ته راتلل اودلمرله ډوبېدو مخکې به له ښارونو څخه وتل، ددې قانون له کبله هغوی نشوای کولای چې له ښاري ژوند څخه خوند واخلي ، هغوی مجبور وو چې سپک کلیوال ژوند وکړي (۱۹).

---

(۱۸) دهند دتمدني اوټولنیزو قوانینو دتفصیل لپاره د " منوشاستر" داببونه وګورئ ! : ۱-۲-۸-۹-۱۰-۱۱

(۱۹) منوسمترتي او Manu And Yajnavalkya Jyjayaswal. P۸۵

دمسلمانانو هند ته په راتګ سره عجیب شی راوړل دبشري مساواتو تصور ؤ چې له هغه سره هند ناآشنا ؤ ، په مسلمانه ټولنه کې نه طبقاتي اوتوکمیز وېش ؤ ، اونه شودر ، نه څوک پیدایشي پلیت او نه په چاردزده کړې بندیز اونه دپیشو تلپاتې ځانګړتیا ، هغوی ګډ سره اوسېدل په یوه دسترخوان یې خوراک کاوه ، ټولو په یوه ځای لیک اولوست کاوه اوله خپلې خوښې سره سم کارونه یې کول دادهندي ذهنیت اوټولنې لپاره یوه ننګینه او چیلینج ؤ خو دې هند ته خورا زیاته ګټه ورسوله اودتوکمپز وېش شدت یې کم کړ اودهغه مخالف غبرګون اوعکس العمل لپاره ځواکمن هڅوونکی شو چې دټولنیزې اصلاح داعیانو پیل کړی ؤ .

دهند پخوانی صدراعظم "جواهر لال نهرو" هم ددې تاریخي حقیقت اعتراف کړی دی، دی لیکي: دهند په تاریخ کې دشمال لویدیځ هند فاتحین اوداسلام راتګ خورا زیات اهمیت لري، دوی دهندي ټولنې فساد څرګند کړ ، دوی توکمیز وېش او له نړۍ څخه دهندبیلتون هم څرګند اوښکاره کړ، اسلامي ورولۍ اومساوات چې مسلمانان ایمان پرې لري او عمل پرې کوي په هندوانوزیاته اغېزه وکړیه، له دې څخه زیات هغه محروم اوبې وزله خلک اغېزمن شول چې هندي ټولنې دمساوات اوبشري حقوقو دروازې پرې تړلې وې(۲۰).

په هندو مذهب باندې داسلام داغېزې په نتیجه کې په جنوبي هند کې دبګتي غورځنګ راپورته شو اوپه ټوله هیوادکې خپورشو ددې غورځنګ په اړه ډاکټر تاراچند لیکي:" .....په دې غورځنګ کې ډېر خدای پرست خلک وو دوی له عام ولس سره خبرې کولې، اونصیحتونه به یې کول، په خپلو نصیحتونو کې یې ولسي ژبه کاروله ، دوی زیات شاعران هم وو ،

(۲۰) Discovery of India Calcutta ۱۹٤٦ p. ۲۲٥

اوددوی شاعري دخلکو په زړونواغېزه کوله دوی له علمي اصطلاحاتو څخه ډډه کوله، دخدای ﷻ اوانسان په مینه یې ټینګار کاوه، په بت پالنه، قومیت، ریاکاری، نابرابري او ظاهر پالنه یې بدویل، ددوی خلوص، پاکي، سپیڅلي ژوند په خلکوباندې ژوره اغېزه کړې وه.

دې خلکو دهند دموجوده ژبو اساس ایښی دی، ددوی ولولودخلکو په ژوند کې خوځښت پیداکړ، خلک یې دلوړاوبې غرضه چوپړلپاره تیار کړل، په پنځلسمه، شپاړلسمه، اولسمه پیړیوکې هغوی دهیواد په هره برخه کې نوې هیلې پیداکړې چې داددوی دروحاني اقدارو له برکته وې، په دې پېړیوکې اوس هم دهغواوازونو انګازې ښکارې چې دخلکود بیدارولو اولوړهمتي لپاره پورته شوي وۀ، داخلک په رښتیا سره دلویو نیتونو څښتنان وۀ اوددوی شمېر هم زیات وو ددوی زیاتو له ټیټو طبقو سره تړاو درلود، دوی دپیدایښې په اساس شرافتونه له منځه یوړل (۲۱).

نامتوختیځ پوه پروفیسر ګب Gibb دنړیوال تهذیب لپاره اسلام ډېر ضروري بولي، دی په دې اړه لیکي: اسلام اوس باید دبشریت یوبل خدمت وکړي دخلکو رتبې دکاراوعمل له پلوه دمختلفو نسلونو په منځ کې په مساوات راوستلوکې داسلام په څېربریالیتوب بلې یوې ټولنې هم نه دی ترلاسه کړی. دافریقا، هند، اندونشیاله تسروټولنو اودجاپان له محدودې مسلمانې ټولنې څخه داخبره ښه جوتیږي چې اسلام دمختلفو پرګنو په منځ کې اختلافات څنګه له منځه وړي دي، که دختیځ اولویدیځ دټولنو په منځ کې دمخالفت په ځای دخپل منځي مرستې پیداکول دي نوددې لپاره اسلام ډېرڅه کولای شي (۲۲).

---

(۲۱) Dr- Tara chand. Society and state in the mughal period publications divinion mimisrry of inbormaton and brood casting ۱۹۶۱ p. ۸۸-۸۹

(۲۲) H.A.R. GIBB. Whither Islam " London" ۱۹۳۲ p.۳۷۹

نامتو برتانوی فیلسوف مورخ ټائن بي " A.T.Toynbee داسلامي مساواتو داعتراف په ترڅ کې لیکي : داسلام په سترو کارناموکې یوهم دتوکمیزامتیاز ختمول دي ، اوپه موجوده دور کې خوداسلام داستره نیکمرغي دوخت ترټولو زیاته اړتیاده که څه هم له ځینې نورو حیثیتونو څخه دانګلیسي ویونکي قامونو بریالیتوبونه دبشري نړۍ لپاره دسوکالۍ لامل شوي دي ، خو له دې څخه انکار نشي کیدای چې دتوکمیزوجذباتو په معامله کې دوی بدمرغه پاتې شوي دي (۲۳).

دهندنامتواووتلې مېرمن سروجني نائډو داسلام مساوات او ورورولۍ اعتراف په څرګنده توګه سره داسې کوي:دالومړی‌مذهب دی چې د جمهوریت او ولسواکۍ تبلیغ یې وکړ اوپه هغه یې عمل وکړ .. په جومات کې دآذان په اورېدلو سره ټول دعبادت لپاره راجمعه شي اوپه ورځ کې پنځه ځله دالله اکبر په اعلان سره په ګډه په سجده کیږي په اسلامي جمهوریت باندې عمل کوي ، ما څو څو ځله محسوسه کړې ده چې اسلام دعمل په یووالي سره یوانسان دبل انسان ورور ګرځوي ، کله چې تاسو په لندن کې له کوم مصري ، الجیریایي ، هندي اوترکي سره مخامخ شئ نوداخبر څه اهمیت نه لري چې دیوه وطن مصردی اودبل هند(۲۴)-.

نامتو افریقایي لېډ " مالکم ایکس "Malcolm.x " په خپل ژوند لیک کې داسلامي ټولنې اوتهذیب په یووالي اوبشري مساوات باندې داسې لیکي : داتېرې یولس ورځې کیږي چې زه په دې اسلامي هیوادونوکې په یوه کاسه کې خوراک کوم اوپه یوه ګیلاس کې اوبه څښم اوله هغوی سره په یوه غالۍ وېده کیږم .... ما په هغوی کې هغه اخلاص بیاموند چې

---

(۲۳) A.T. Toynbee. Civilization on Trial Newyork ۱۹٤۸.p. ۲۰٥

(۲٤) Sarojimi Naidu Speeches and Writings of sarojimi naidu Madras ۱۹۱۸ p.۱٦۷

دکوم احساس مې دناجیریا ،سوډان،ګانا ، په تورو افریقایي مسلمانانوکې کړی و. مونږ ټول ورونه ورونه وو ځکه چې په الله پاک باندې ایمان زمونږ له ذهنونو، رویو و اوچال چلند څخه دتور پوستي والي مشکل لري کړی ده .

زه پوه شوم چې که چېرته امریکایان په توحید باندې ایمان راوړي نوکیدای شي چې هغوی هم بشري وحدت ومني اوله نورو خلکو سره به درنګ په اساس مخالفت اودښمني نه کوي، ما داخبرله ځانه سره غوټه کړه چې زه به امریکایانو ته وایم چې دلته دهر رنګ انسانانو په منځ کې رښتونې ورورولي ده، دلته هیڅوک هم دیواځېتوب او تنهایي احساس نه کوي اونه څوک دلوړوالي احساس کوي اونه څوک دکمترۍ احساس کوي(۲۵) .

(۲۵) The Autobiography of .....Malcolm.x "Essex" ۱۹٦٥. P.٤١٩-٤٢٠

دریمه لوړینه

دانسان دشرافت اولوړوالي اعلان

په بشري نوغې باندې داسلام دریم لوی احسان دانساني شرافت اودانسان درتبې دلوړوالي اعلان دی ، له محمدي بعثت څخه مخکې انسان دذلت اوسپکاوي کندې ته لوېدلی ؤ اودځمکې په مخ دانسان په څېربل سپک اوذلیل شی نه ؤ،ځینې سپېڅلي حیوانات او ونې چې خرافاتي Legendary کېسې وروپورې تړلې وې هغه دخپلو نمانځونکو له پاره خورا زیاتې محترمې وې اودانسانانو په نسبت هغوی دساتنې اوحفاظت زیات مستحق وو ، آن تردې پورې چې د دوی دساتنې اوسپېڅلتیا دخوندیتوب په خاطر دډېرو سپېڅلو اوبې ګناه انسانانو وینې بهول کېدې دداسې ونو او ډبرو په مخکې دانسان وینې اوغوښې بې تکلیفه نذرانه کېدې ، مونږ ددې کرغېړن تصویرونه په دې شلمه پېړۍ کې دهند په څېر په مترقي هیوادونو کې هم لیدلي دي .

حضرت محمد ﷺ انسانیت ته دهغه شرافت او عظمت بېرته راستون کړ اودهغه له لاسه وتلی وقار اوپرستېژ یې بیرته په خپل حال کړ اودا اعلان یې وکړ چې انسان ددې مخلوقاتو ترټولو زیات ارزښتناک موجود اوګران بیه جوهر دی اودلته له ده څخه پرته بل هیڅ شی ددومره عظمت ، محبت اوساتنې وړندې ، هغه ﷺ دانسان مرتبه دومره لوړه کړه چې هغه یې دالله

پاک نایب اوخلیفه وټاکه دهغه له پاره یې ټوله نړۍ پیدا کړه اوهغه یې دځان له پاره پیداکړ:

﴿ هوالّذي خلق لكم مافي الأرض جميعاً﴾ [البقره ۲۹]

(دی هغه (خدای) دی چې دځمکې هرڅه یې ستاسو له پاره پیداکړي دي)

،قرانکریم انسان " اشرف المخلوقات " بللی دی:

﴿ ولقد كرّمنا بني آدم وحملناهم في البروالبحر ورزقناهم من الطّيبت وفضّلنهم على كثير ممّن خلقناتفضيلاً ﴾ [الأسراء ۷۰]

(اومونږ بنیادم عزتمند کړی اوپه وچه اولنده باندې مو سپورکړی دی. اوهغه ته مو سپېڅلي اوپاک شیان ورکړي دي او په خپلو ډېرو مخلوقاتو باندې مو فضیلت ورکړی دی).

اودپیغمبر ﷺ له دې وینا څخه زیات دانسان دعزت اوشرافت له پاره بل څه ویل کیدای شي :

" الخق عيال الله فأحب ولي الله من أحسن إلى عياله " [سنن بيهقي] . (ټول مخلوق دالله پاک عیال دی اودخدای ﷻ په مخلوق کې هغه ته ترټولو زیات محبوب هغه څوک دی چې دخدای ﷻ له مخلوق سره یې ښه وکړل)

دانسان دلوړوالي اودهغه په چوپړ سره الله پاک ته دنږدې کېدلو په اړه داحدیث ډېر روښانه اوله معنی ډک دی چې ابوهریره ﷺ له رسول ﷺ څخه روایت کوي : الله پاک به په قیامت کې پوښتنه وکړي چې : ای بنیادمه ! زه ناروغه شوی وم خو تازما دناروغۍ پوښتنه ونکړه ؟ بنیادم به ووایي : یاخدایه ! ته خو رب العلمین یې ماستاد دناروغۍ پوښتنه څنګه کړې

وای ؟ په دې سره به الله پاک ورته وفرمايي چې اياته نه وې خبر چې زما فلانکی بنده ناروغه شوی ؤ خوتادهغه دناروغۍ پوښتنه نه وه کړې ؟ ته نه يې خبر چې که تادهغه دناروغۍ پوښتنه کړې وای؛ نو زه به دې دهغه خواته موندلای وای ، ماله تاڅخه ډوډۍ وغوښتله خوتاماته رانکړه ؟ بنيادم به ووايي چې ياخدايه ! ته خو دټولې نړۍ پالونکی وې ماڅنکه تاته ډوډۍ درکړې وای ؟ الله پاک به ورته ووايي چې آيا تاته نده معلومه چې زما فلانکي بنده له تاڅخه ډوډۍ غوښتې وه خو تاهغه ته ورنکړه که تاهغه ته ډوډۍ ورکړې وای نو زه به دې دهغه خواته موندلای وای .

ای بنيادمه! ماله تاڅخه اوبه غوښتې وې خو تارانکړې! بنده به ووايي ياخدايه ته خورب العلمين يې نو ماپه تاڅنګه اوبه څښلې وای؟ الله پاک به ورته ووايي چې زما فلاني بنده له تااوبه غوښتې وې خوتانه وې ورکړې که تاپه هغه اوبه څښلې وای نوزه به دې هغه ته نږدې بيامونډلی وای.
[صحيح مسلم]

آيا دانسان لوړوالی اوعظمت له پاره ددې په څېر څرګند اوروښانه اعلان بل کيدلای شي کوم چې دتوحيد دين وړاندې کړی دی؟ اود زړې او نوې نړۍ په اديانواوفلسفوکې کله هم انسان داسې عظمت ترلاسه کړی دی ؟ رسول الله ﷺ په بنيادمانو باندې رحم کول دالهي رحمت دنزول له پاره شرط ګرځولی دی : "الراحمون يرحمهم الرحمن إرحموا من في الأرض يرحمكم الله من في السماء " (په رحم کوونکو باندې رحمن ذات هم رحم کوي تاسو دځمکې په والو باندې رحم وکړئ داسمان وال به په تاسو باندې رحم وکړي) .
[سنن ابي داود]

انساني وحدت اوعظمت اودهغه له پاره درسول الله ﷺ هڅې له دې مخکې دنړۍ دسياسي اوټولنيزحالت يوڅه اندازه کول ضروري دي،له

محمدي بعثت څخه مخکې دیوه یوه انسان په خوښه پورې دزرګونو انسانانو ژوند تړلي وه ، یو باچا به راپورته شو هیوادونه ، قومونه ، ځمکې او ودانۍ به یې په پښو کې دل کړې ، اودسیاسي لوړتابه په خاطربه یې وچ اولانده تس نس کړل . لوی سکندر ۳۲۴-۳۵۶ ق م " Alexander The Great "دړوندو اوبو په څېر راپورته شو ، دایران ، شام ، ساحلي هیوادو ، مصر اوترکستان زیاتې برخې یې لوټ اوتالان کړې شمالي هند ته ورسېده، هغه دسوبو اوایل کولو په دې اوږده سفرکې دپېړیو پېړیو لرغونې اوپرمختللي تهذیبونه اوتمدنونه له خاورو سره خاورې کړل .

جولیس سیزر " Julius Caesar ۴۴ قـ م " او نوروفوځي مشران فاتحین اوپراخې غوښتونکي لکه قرطاجه " Cartmage "هني بال "Hannibal" ۱۸۳-۲۴۷ق م" اوداراز نوروبه دانسانانو داسې ښکارکاوه اوپه زرګونو، لکونو انسانابه یې دمرګ کومې ته سپارل لکه یو تجربه کار اوبې رحمه ښکاري چې بې له څه توپیره دځنګله څاروی ښکارکوي . له بریادۍ اوانساني ژوندسره یوځای داتبر دحضرت عیسی علیه السلام له راښکاره کېدلو وروسته هم جاري وه لکه له دې وروسته دبشروژونکیو اوسخت زړو په ډله کې په کال " ۶۸ م" کې دنېرو " Nero" په څېر انسان هم پیداشو چې خپل وطنوال یې هم له ظلم اویتري څخه خلاص نشول خپله مور اوښځه یې هم نه پرېښودلې و همدغه شخص د" روما" دسترې اوراچونې مسوؤل هم دی ، کله چې روما داورپه لمبوکې سوځېدله نوده دآرام اوخوښي دروی ورته واهه (۲۶)، داروپا وحشي قبائلو " لویدیځووال اوختیځ وال ګاتهـ وندال اونرو " چې له محمدي بعثت څخه یوه پیړۍ

---

(۲۶) دائرة المعارف دنړۍ تاریخ : ولیم لینګر " William.Langer " ۱۹۶۴ کال چاپ.

مخکې په پنځمه مسیحي پیړۍ کې هڅاند اوسرګرم وو دوی دنړۍ ستري متمدني پاچاهۍ ترپښو لاندې کړي اودځمکې په مخ یې په لویه پیمانه سره وېره او دهشت خپورکړی و (۲۷).

دعربو په نظرکې دانساني ژوند ارزښت دومره کم ؤ چې جنګونه ، وینې بهول او..... ددوی له پاره یوه لوبه ګرځېدلې وه، اوپه یوه کوچنۍ پېښه سره به خونړۍ جګړې ونښتې ، دښو وائل ددو پښو : بکر او تغلب ترمنځ څلوېښت کاله دجګړې لړۍ جاري وه چې داوبو په څېرویني پکې وبهېدلې ، دا اوږدې جګړې ځکه پیل شوې وې چې " دمعدرئیس" کُلیب دبسوس بنت منقذ اوښه په غولانځ باندې په غشي وېشتلې وه چې په دې سره یې په شېدوکې وینې ګډې شوې وې له دې امله جساس بن مره کلیب وواژه اودبکر اوتغلب په منځ کې جګړه ونښته ددې کورنۍ د جګړې په اړه دکلیب ورور مهلهل وایي :(" انسانان فناشول ، میندې بورې شوې ، زامن یتیمان شول و اوښکو دتم کېدو نوم نه اخیست اومړي بې کفنه دفن کړل شول "). دا راز "داحس" او "غبر"جګړه په دې ډول پیل شوه چې داحس (چې دقیس بن زهیر آس و) دقیس اوحذیفه بن بدر ترمنځ په مقابله کې مخکې شو،حذیفه یوه اسدي ته امر وکړ چې آس تم کړي اوپه مخ یې ووهي اوله دې سره هغه اس وروسته پاتې شو ، له دې پېښې وروسته وژنې ، غچ اخېستنې اوقومې جګړې پیل شوې ، دحبسونو اوقیدونو، دکورنیو جلاوطن کېدلو لړۍ پیل شوې اوپه زرګونو انسانان ووژل شول (۲۸).

درسول الله ﷺ په زمانه کې ټولې اووېشت یا اته وېشت غزوات ترسره شوي دي اودسریاوو یادغازیانو دډلو شمېر شپېتوته رسیږي ، که دجګړو

---

(۲۷) دائرة المعارف دنړۍ تاریخ : ولیم لینګر " William.Langer "

(۲۸) ایام العرب نومی کتاب وګورئ !

ټول تاریخونه وکتل شي نو معلومه به شي چې درسول الله ﷺ په غزواتوکې ترټولو کمې وینې تویه شوې دي ، په دې ټولو جګړو کې له دواړو خواوو څخه یواځې "۱۰۱۸" تنه وژل شوي دي ، په حقیقت کې ددغزواتو موخه دانسانانو ژغورنه ، اودانساني ګټو دفاع وه اوله دې سره هغوی دښو اخلاقو اوغوره تعلیماتو داډول پابند وُ چې دبشریت په حق کې دتعذیب په ځای دتأدیب حیثیت لري (۲۹).

اسلام دایمان اواخلاقي ښوونو په ذریعه سره دانسان دعظمت اوشرافت داسې شعور پیداکوي چې په هغه سره یومسلمان په دې اړه ډېر ژر دتېزحس خاوند ګرځي، هغه په هیڅ وخت کې هم انسان دخارویو درجې ته نه ټیټوي اونه له هغه سره دحیواناتو په څېر چلند غوره کول خوښوي اونه یې دخپل ذاتي لوړتابه له پاره غلام ګرځوي ، دخپلو اونورو انسانانو په منځ کې څه توپیر نه مني چې له هغه سره دې سپکه رویه وشي ، دلته دانساني مساوات اودانسانیت داحترام په اړه دنمونې په توګه یواځې یوه پېښه وړاندې کوو :

حضرت انس ﷺ روایت کوي چې مونږ له حضرت عمر ﷺ سره ناست وو چې ده ته دمصر یوه قبطي فریاد وکړ، ده پوښتنه ځینې وکړه نوهغه ورته وویل چې عمروبن العاص ﷺ (دمصروالي) په مصر کې داس ځغلونې لوبه کوله په هغه کې زما آس ترټولو مخکې شو اوداحالت ټولو خلکوهم ولید ، خود عمروبن العاص زوی محمد وویل چې په خدای سوګند دازما آس دی، کله چې آس رانږدې شو نو ماهغه وپیژاند او ومې ویل نه په خدای سوګند

---

(۲۹) دفوځونو دروانولو په مهال درسول الله ﷺ دهدایاتو لپاره دحدیثو اوسیرت کتابونه وګورئ اودتفصیل لپاره دلیکوال کتاب " نبي رحمت" دویمه برخه د " غزواتو ته یوه کتنه " باب ۱۱۵ مخ وګورئ

چې دازما آس دی ، په دې سره هغه زه په دورو ووهلم اوراته ویې ویل چې ته نه یې خبر چې زه ابن الاکرمین (شریف زاده) یم ، په دې سره حضرت عمر ﷺ هغه ته وویل چې ښه ته کښینه ! بیایې عمروبن العاص ته ولیکل چې کله زما لیک درورسیږي نوته اوستازوی محمد ماته حاضرشئ ! .

راوي وایي چې عمروبن العاص خپل زوی وروغوښت اوپوښتنه یې ځینې وکړه چې آیاتاڅه جرم کړی ؟ هغه منفي ځواب ورکړ، ده ورته وویل چې بیا نو عمر ﷺ ته ولې غوښتی یې ؟ له دې وروسته هغوی حضرت عمر ﷺ ته حاضر شول، انس ﷺ وایي چې مونږ له حضرت عمر ﷺ سره ناست وو چې عمروبن العاص ﷺ په یوه پټکي اوڅادرکې راښکاره شو نوحضرت عمر وویل : چې تاسو وګورئ چې زوی یې هم ورسره شته اوکه نه ! زوی یې په ده پسې شاته راروان وُ ، حضرت عمر ﷺ وویل چې مصری چېرته دی ؟ هغه ورته وویل چې زه دلته یم حضرت عمر ﷺ هغه ته حکم وکړ چې دوره واخله اودابن الاکرمین " شریف زاده" کاروکړه .

راوي وایي چې مصر هغه ښه وډباوه ، بیا حضرت عمر ورته وویل چې عمرو(والي) ته هم یوڅه دورې ورکړه ځکه دده په زور سره هغه ته وهلی یې ، مصري ورته وویل چې بس ماهغه څوک وواهه چې زه یې وهلی وم .

حضرت عمر ورته وویل چې که تاترڅو پورې هغه وهلی اوپه خپله دې پرې اېښی نه وای نومابه څه نه و درته ویلي ، بیایې وویل : عمره ! تاله کله نه خلک دځان مریونه ګرځولي دي په داسې حال کې چې هغوی میندو آزاد زېږولي دي ؟ بیایې مصري ته وویل چې په ډاډه زړه سره ولاړ شه که بیا څه خبره رامنځته کېده نوماته لیک رالېږه (۳۰).

---

(۳۰) سیرت عمربن الخطاب لابن الجوزي : مخونه ۸۶-۸۷

خلورمه لوړينه

دښځې دحيثيت اوحقوقوبيا ترلاسه کېدل
(له اسلام نه مخکې دښځو حالت)

اسلام چې دښځو دګټو له پاره کوم اقدامات کړي دي په هغو دپوهېدو له پاره په سرکې څو تمهيدي خبرې ضروري دي . استاد عباس محمود عقاد په دې موضوع باندې ژوره څېړنه کړې ده دلته دده له کتاب " المرأة في القران" څخه څو اقتباسات رااخلم . ليکوال له اسلام نه مخکې مذاهب اوټولنو ته کتنه کړې اودښځې دهغه مهال په حالت باندې داسې ليکي :

مانو مذهب

په هند کې د " مانو"[٣١] په شريعت کې دپلار، مېړه يا دواړو په مړينه سره له زويه پرته دښځې له پاره مستقل حق نه ؤ اوددې ټولو له مړينې

---

[٣١] له مانوڅخه داستاد عقاد مراد " منو" دی چې دهند دټولنيزو اوکورنيوقوانينو ماخذ بلل کيږي دده شخصيت ناڅرګند ، دتوهم اوتقدس په پردوکې پټ دی، نه يې دزمانې تعين کيږي اونه يې شخصيت معلوم دی ، دی دهندوانو په سپېڅلي کتاب " ويد" کې له بشر څخه پورته رب النوع بلل کيږي ، دهغه له ځينې عباراتو څخه معلوميږي چې دی دبشري نوغې غورنيکه اودمخلوقاتو د څښتن لومړی نماينده دی ، اودانوم او وصف دلرغوني هند په ډېرو شخصيتونو منطبق کيږي " منوسمرتي " (چې دلرغوني هند ټولنيز اودکورنی دستور دی)هغه هم مهاراج (چې دلرغوني هند «سترقانون پوه دی) ته منسوب کيږي، چې هغه بيا دمنو روحاني وارث بلل کيږي ،

وروسته دهغې دمېړه له کوم نږدې خپل سره ددې تعلق لرل ضروري ؤ هغه په هيڅ صورت هم دخپل ځان په اړه خپلواکه کيدای نشوه ، دهغې په حق باندې زښت زيات تېری کېده ، له مېړه پرته دهغې ژوند نه وه ، دمېړه دمرګ په ورځ دهغې مرګ اودهغه دسوځولو په لرګيو باندې ددې سوځول هم ضروري ؤ ، دازوړ رسم دبرهمني تمدن له لرغوني زماني څخه تراوولسمې پيړی پورې په خپل حال پاتې و اوله هغه وروسته دمذهبي کړيو دخوښې په خلاف پای ته ورسېده .

حمورابي مذهب

دحمورابي [۳۲] په شريعت کې (دکوم له امله چې بابل مشهور ؤ) ښځه بې ګټې څاروی بلل کېده دهغه په نظرکې دښځې دحيثيت اندازه له دې څخه کيدای شي چې ددې شريعت له مخې به که چا دچا لور ووژله نودقاتل لوربه دهغې مړې لور په بدل کې ورکول کېده څو دمقتولې پلار هغه ووژني يايې مينځه کړي اويايې وبښي ، خواکثره به هغوی دخپل شريعت دنفاذ له پاره وژل کېدې ، په لرغوني يونان کې ښځې له ټولو حقوقو اوازاديو څخه بې برخې وې ، هغوی به په داسې سترو کورونوکې ساتل کېدې چې له لارې به يې لرې و ، کړکۍ به يې کمې وې اوپه دروازوکې به يې ساتونکي ناست وو ، په لويو يوناني ښارونوکې به داسې

په هرصورت منوسمرتي دلرغوني هند ترټولو زوړ دقانون کتاب بلل کيږي ،زيات څېړونکي په دې فکر دي چې داکتاب په دريمه مسيحي پيړۍ کې ليکل شوی دی (په دې نوټ کې دډاکټر ګنګاناتھ جهااو ډاکټر جيسوال له کتابونو څخه استفاده شوې ده چې هغه دهند دقانوني تاريخ تکړه ماهر دی .)

[۳۲] دعراق دواکمنې کورنۍ نامتو باچا چې ديوه مظبوط حکومت اساس يې کېښوداودری کاله له مېلاد څخه مخکې هغه دعراق واکمن ؤ ليکوال

مجلسونه جوړېدل چې هلته به ښکلې ښځې پکې نڅول کېدې ، داددې له پاره چې دخلکو له خپلو ښځو څخه زړونه تور شي .

مهذبو مجلسونوته به له نارینه وو سره دښځو تګ ته ډېره کمه اجازه ورکول کېده ، له دې کبله به دفیلسوفانو په مجلس کې ښځې نه لېدل کېدې ، دشریفو ښځو هیڅ عزت نه کېده ،ارسطو به دسپارټا **Sparta** په خلکوباندې نېوکې کولې چې هغوی دخپلوکورنیو له ښځو سره نرمي کوي ، اوهغوی خیلو ښځو ته دوراثت ، طلاق او آزادۍ حقوق ورکړي دي چې په دې سره هغو لوړ مقام ترلاسه کړی دی ، دسپارټادزوال او ختمېدو لامل دښځو د بې ځایه آزادۍنتیجه بولي ، له ښځو سره دمخکنیو رومیانو معامله دپخوانیو هندوانو په څېروه دهغوی په قانون کې ښځه دپلار، مېړه او زامنولاسکتویه (محتاجه) وه، دخپل تهذیب او په خپله زمانه کې هغوی په دې فکر وو چې " نه دښځې زولنې ماتېدای شي اونه دهغې له غاړې څخه زغ کوزېدای شي "لکه کاټو به چې ویل : **Nunyuam Eviturx Servituemulie Brio** رومي ښځې له دې بندیزونو څخه هغه مهال خلاصې شوې چې کله دبغاوت اونافرمانۍ په نتیجه کې رومي مریونه ازاد شول اودښځې مینځه کول ناشوني شول .

استاد عقاد دمصر په لرغوني تهذیب کې دښځو دځینې حقوقو او اختیاراتو له یادونې وروسته لیکي : له اسلام نه لامخکې مصري تهذیب اودهغه قوانین ختم شوي و، په منځني ختیځ کې په هغه دورکې درومي تهذیب دسقوط اودهغه دعیاشي اولذت پرستي په غبرګون کې له دنیوي ژوند څخه دکرکې اونفرت تمایل پیداشوی ؤ اوآن چې له ژوند او اولادونو څخه زړونه ساړه شوي ؤ و له زاهدانه ژوند سره دمینې په نتیجه کې بدن اوښځه پلیت بلل کېده ، اوښځه یې دګناوو مسوله بلله . چې دچا به ښځې ته اړتیاوه دهغه له پاره له ښځې څخه لرې کېدل ښه کار بلل کېده .

دادمنځنیو پیړیو دهغه رجحان اواغېزه وه چې ترپنځلسمې پیړۍ پورې دتصوف ځینې لویو پوهانو دښځې د فطرت په اړه په دقت سره غور کاوه ، او د" ماکون" **Macon** په غونډه کې به یې داپوښتنه کوله چې ایا ښځه بې روحه بدن دی اوکه روح لرونکی بدن چې نجات اویاهلاکت ورسره تړلی دی ؟زیات یې په دې اند و چې هغه نجات لرونکې روح نه لري اوله دې څخه یواځې دحضرت عیسی ﷺ مور پیغله مریم مستثنی کیدای شي ، دروم دهغه مهال له تمایلاتو وروسته په مصري تهذیب کې دښځې مقام اغېزمن کړ .

په مصریانوباندې درومیانو سخت ظلمونه ددې لامل شول چې هغوی درهبانیت لورته مخه کړه اوله دنیا څخه دبېزارۍ طبیعت پکې پیداشو ، لکه څرنګه چې ډیرو زاهدانو رهبانیت خدای ﷻ ته دنږدېوالي ذریعه بلله . اوشیطان له مکر څخه (چې ښځه یې په سرکې وه) دنجات وسیله ، ځینې لویدیځوال تاریخپوهان داتور لګوي چې اسلام دخپل شریعت له پاره له مخکنیو شریعتونو خصوصاً موسوي شریعت څخه ډېرڅه اخذ کړي دي ددې دعوې بطلان په توراتي شریعت اوقراني شریعت کې دښځې دمقام له پرتله کولو څخه په ښه توګه کیږي، ځکه حضرت موسی ﷺ ته په منسوب شویو کتابونوکې راغلي دي چې که یوڅوک زامن ولري نو لونه یې په میراث کې حق نه لري .

دادهغې هېې په څېرده چې پلارې په خپل ژوندکې اختیارکړی څو له مرګه وروسته دشرعي واجباتو په څېر میراث واجب نشي ،دمېراث په اړه داخرګند حکم موجود دی چې کله نارینه اولاد وي نو نجلۍ له مېراث څخه محرومه ده. اوکه کومې نجلۍ ته مېراث ورکړل شي هغې ته اجازه نشته چې په بل قوم کې مېړه وکړي اونه ددې اجازه ورته شته چې خپل

میراث بل قوم ته انتقال کړي ، داحکم په تورات کې څوځایه ذکر شوی دی .

اوس مونږ هغو سپېڅلو اومقدسوښارونوته مخه کوو په کوم ځای کې چې دقرانکریم دعوت پیل شوی دی ، یعنې دعربو جزیره ، خو تاسو دافکرمه کوئ ! چې هورې به له ښځو سره دانصاف اوعزت ځانګړی چلند کېده ،بلکې دعربو دجزبرې په ځینې ځایونوکې له ښځو سره دومره بدسلوک کېده چې په ګرده نړۍ کې یې ساری نه ؤ . اوپه ځینوبرخوکې به که یوڅه ښه چلند ورسره کېده هغه ځکه چې هغه به دیوه زورور مشر لور وه اویادیوه ګران هلک مور وه اویواځې له دې کبله یې عزت نه کېده چې هغه ښځه ده ، اویا له دې حیثیته چې هغه دڅه حقوقو مستحقه ده ، نه ! داسې هیڅ ممکنه وه ، پلار ، مېړه ، ورور، زوی دهغې یواځې دومره ساتنه کوله لکه دخپل مال اوشتمنۍ ځکه دادسړي له پاره عیب ؤ چې په حرم اوناموس یې تېری وشي لکه څرنګه چې داعیب وه چې دیوچا په ممنوعه شي باندې تجاوز وشي لکه آسان ، څاروي ، چیني ، اوڅړځایونه ، هغه به له څارویو سره ګډه یوه بل ته په میراث پاتې کېده ، سړي به له شرمه خپله لور په ماشومتوب کې ژوندۍ خښوله . اوپه هغې لګښت کول به یې په ځان پېټی باله . په داسې حال کې چې په خپله مینځه اوګټورڅاروي باندې لګښت یې پیټی نه باله . دهغې ارزښت دمیراثي مال و چې له پلارڅخه زامنوته پاته کېده ، دقرض یاسود په بدل کې به یې ورکوله اوپه ګروي کې به یې کښېنوله ، له داډول انجام څخه هلته ژغورل کېدای شوای که چېرته به دکومې عزتمنې کورنۍ غړیتوب ورپه برخه و چې دهغې مرستې او نړدیوالی به ارزښت درلود [۳۳]

---

[۳۳] داستاد عباس محمود عقاد له کتاب " المرأة في القران " ددارالهلال مصر چاپ . مخونه ۵۱-۵۷

بودايي مذهب

په بودايي مذهب کې دښځو په اړه دنظرياتو يوه نمونه " دمذهب اواخلاقو دائرې المعارف " ليکوال ديوه بودايي پوهاند **Chullavagga** له خولې رانقل کړي دي چې هغه **Oldenberg** په خپل کتاب (**Buddha**) د ۱۹۰۶ دکال چاپ مخ ۱۶۹ کې رااخيستي دي : په اوبوکې داوسېدونکي کب دمشکلو عاداتو په څېر دښځې فطرت هم دی ، هغه دغلو په څېر زياتې چلبازي لري اودهغې خواته دربښتياوو بوی هم نشته [۳۴].

هندو مذهب

دمخکنۍ دائرې المعارف ليکوال دښځو په اړه دهندو مذهب دنظرياتو په باب ليکي: په برهمنيزم کې واده زيات اهميت لري، هرسړی بايد واده وکړي خو دمنودقوانينو له مخې مېړه دښځې دسرتاج دی ، دابايد هيڅ داسې کارونکړي چې مېړه يې پرې خفه شي ، تردې پورې چې که هغه له پرديوښځو سره اړيکې ولري اويا ومري بيا به هم دبل مېړه نوم په خوله نه راوړي ، که دی دويمه نکاح وکړي نودابه له جنت څخه محرومه وي چې په هغه کې ددې لومړی مېړه اوسېده ، دښځې دنافرمانۍ په صورت کې هغې ته بايد سخته سزا ورکړای شي ،ښځه هيڅکله هم آزادي نشي ترلاسه کولای ، هغه مېراث نشي ترلاسه کولای ، دمېړه له مړينې وروسته به دمشرزوی ترلاس لاندې ژوند تېروي ، مېړه خپله ښځه په لرګي هم وهلای شي [۳۵].

---

(۳۴) Encyclopedia of Religion and Ethics.vol.v p. ۲۷۱-Newyork. ۱۹۱۲.

(۳۵) Universal History of the World. Ed.j.a. Hamerton . vol. I - p.۳۷۸ London

په "یونیورسل هستري آف دي ورلډ" کې Ray Strachey دهند په اړه لیکي: په رګ وید کې(چې دانسان دغورنیکه کېسې هم پکې دي) ښځو ته ډېر سپک مقام ورکړل شوی دی ، وروسته داوپتېیل شوه چې هغه په روحاني توګه دوېساوړ نه ده بلکې تقریباً هغه بې روحه ده اوله مرګه وروسته دنارینه وو له نیکیو پرته هغه بقانه لري ، دهغې دټولو امیدونو له ختم کونکي مذهب سره سره دهغې پښوته درسمونو او رواجونو ولچکونه هم لوېدلي و،هغوی دناشونې کړې وه چې دادې کوم وتلی شخصیت پیداکړای شي ، دښځو پیداکوونکي منو هغې ته خپل کور ، بستره، دګانې مینه،بدي غوښتنې، غصه، بې ایماني اوبدخویونه ورکړل.

ښځې دومره بدې دي لکه څومره چې درواغ بد دي اودایومنل شوی حقیقت و، دښځو په فطرت کې په دیناکې دنارینه وو بېلاري کول پراته دي له دې امله دهوښیارو ښځو په ملتیاکې هم باید سړی بې فکره نشي ، په ماشومتوب کې دواده رسم ، له کونډو څخه کرکه ، سوځول او پرده دیوې داسې ټولنې برخورد و چې هغې ښځه یواځې داسې مخلوق بلله چې هغه دماشوم له زېږولو پرته دبل شي له پاره نه ده پیداشوې ، کیدای شي په یوه داسې نړۍ کې دنویو پیداشویو نجلیو وژل دهغوی له پاره رحمت وي چې هلته هغوی ته دشک په سترګه کتل کیږي ، دبدي سرچېنه یې بولي،دروهجنه ، دجنت په لار کې پروت کمر او ددوزخ دروازه بلل کیږي.

چین

مستر ري استریچي دښځې دحیثیت په هکله لیکي : په لېري ختیځ یعنې چین کې هم حالات تردې څخه ښه نه ؤ دکوچنیو نجلیو په پښو وهلو رسم موخه داوه چې هغوی بې سپکه اونازکې شي . دارسم که څه هم په

لوړو کورنیوکې رواج نه و خوله دې څخه معلومولای شو چې د" اسماني حکومت" په دور کې دښځو څه ډول حالت و؟ [۳۶]

انګلستان

دامخکینی لیکوال په انګلستان کې دښځو دحالت په اړه کاږي : هوري دوی له ټولو تمدني حقوقو څخه بې برخې شوې وې . دزده کړې دروازې په دوی باندې تړل شوې وې ، له کوچنیو کارونو او مزدوري پرته هغوی هیڅ کارنشوکولای ، دواده په وخت هغوی له ټولې شتمنۍ څخه بې برخې کېدلې ، داسې ویل کیږي چې په منځنیو پېړیوکې ترنولسمې پېړۍ پورې چې ښځو ته کوم مقام ورکړل شوی و له هغه څخه دڅه بهتري تمه نشوای کیدای [۳۷]

اسلامي ښوونې

تاسو دامخکې تعلیمات داسلام له نویو اوځانګړو کړنو سره پرتله کړی !چې دښځو دعزت اووقار په حال کولو ، په انساني ټولنه کې هغې ته مناسب مقام ورکولو ، دظالمو قوانینو ، بې انصافه رسمونو او رواجونو دنارینه وو ځان پرستي اوتکبر نه دخلاصون ، په لړکې یې سرته رسولي دي، قران کریم ته په سرسري نظرکولو سره هم هغه توپیرمعلومیدای شي چې دښځې په اړه دجاهلي نظر اوقراني نظریه منځ کې شته دی ، چې په انفرادي چلند اواجتماعي قوانینو پورې تړاو لري، هغه قراني آیتونه چې دنیمي انساني نوغې اولطیف جنس په اړه نازل شوي دي هغه په ښځه کې دا اعتماد پیداکوي چې ددې په سبب داپه ټولنه اودخدای ﷻ په نزد یو ټاکلی اومعین مقام لرې اوهغه مقام په دین اوعلم ، داسلام خدمت ، په خیر

---

[۳۶] یونیورسل هسټري آف دي ورلډ ، ترتیب کوونکی همیرتن ۱/۳۷۸ لندن

[۳۷] همدا ماخذ.

اوتقواکې مرسته ، اودنیکې ټولنې په جوړولو کې په پوره توګه برخه اخیستل دي .

قرآني آیتونه داعمالو دقبلېدلو ، خلاصون اونیکمرغي او دآخرت د بریالیتوب په بیان کې هروخت له نارینه وو سره یوځای دښځو یادونه هم کوي خدای ﷻ فرمایي:

﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَـئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلاَ يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴾ [النساء ۱۲۴]

اوڅوک چې نیک عمل وکړي که هغه نر وي یاښځه اوهغه دایمان خاوند وي نوداټول خلک به جنت ته ځي اویوه زره ظلم به نه پرې کیږي .

بل ځای فرمایي : ﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ﴾ [آ ل عمران ۱۹۵] (نودهغوی دعاګانې دهغوی رب ومنلې څکه چې ستاسې دعمل کوونکي که هغه نروي یاښځه عمل نه ضایع کوم تاسوپه خپلوکې دیوه بل جز یاست) .

داراز هغه دښه ژوند په موقع اودوسائلو دورکولو په موقع باندې هم له نارینه وو سره دښځو یادونه یوځای کوي بلکې ددې له پاره ضمانت ورکوي او وعده یې کوي، ښه ژوند یا حیات طیبه یوه جامع اوډیره معنې لرونکې کلمه ده چې دمثالي او کامیاب ژوند مفهوم اودعزت او اطمینان ګڼ شمېر معناوې لري .

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴾ [النحل ۹۷] (نیک عمل چې هرڅوک وکړي که نروي یاښځه په دې شرط چې ایمان ولري

نومونږ به خامخا هغه ته پاک اوښه ژوند ورکړو اومونږ به هغه ته دهغه دښو کارونو په عوض کې اجر ورکوو).

دښو صفاتو اوښو اعمالو اوددين دمهمو ځانګو دیادونې په مهال قران مجید یواځې له نارینه وو سره دښځو یادونه اوداشاره نه کوي چې په ښو صفاتو او اعمالو کې په نر اوښځه کې هیڅ توپیر نشته بلکې ددې په خلاف هغه یویوصفت جلاجلا بیانوي اوکله چې له نارینه و سره داصفت یادوي نوښځې هم په دې صفت سره موصوف کوي اوپه ځانګړي توګه یې یادونه کوي که څه هم دهغه له پاره اوږدو عباراتو راوړلو ته اړتیا پیداکیږي .

په دې کې داحکمت دی چې په دې صفاتوکې په قوت او صلاحیت لرونکو نارینه وو باندې دښځې قیاس کولو ته هغه انساني.ذهن نه دی تیا رچې دغیراسلامي مذاهبو او فلسفو ، او زړو ټولنو په سیوري کې روزل شوي دي دا ډول ذهنونو هروخت دنارینه وو اوښځو په منځ کې توپیر راوستی اوښځې یې په ډېرو فضائلو اوښېګڼو کې له نارینه وو نه بېلې کړې دي څه معنی چې دهغو ګډون یا مخکې کېدل وزغمي تاسوله ماسره دا آیتونه تلاوت کړئ ! :

﴿ انَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴾ [الأحزاب ۳۵]

ژباړه : بېشکه مسلمانان نارینه اومسلمانې ښځې، مومنان نارینه او مومنانې ښځې فرمانبردار نارینه او فرمانبرادارې ښځې، رښتوني نارینه

اوربښتونې ښځې، صبر کوونکي نارينه او صبرکوونکې ښځې ، خشوع لرونکي نارينه او خشوع لرونکې ښځې ، خيرات کوونکي نارينه اوخيرات کوونکې ښځې، ، روژه نيونکي نارينه اوروژه نيونکې ښځې دخپل شرمځای ساتونکي نارينه اوښځې اوخدای ډېر يادوونکي نارينه اوښځې، دې ټولو ته خدای ﷻ مغفرت تيارکړی او لوی اجرهم .

قرانکريم يواځې دطاعاتو اوعباداتو په لړکې دهغوی يادونه نه کوي بلکې له وړتيالرونکيو نارينه وو، علماوو ، دلوی عزم لرونکو ، ديني اواخلاقي احتساب والو ، دامر بالمعروف او نهي عن المنکر په لاره کې دريږو او ستونزو ګالونکو ، سره يې هم دهغو يادونه کړې ده او غواړي چې دايمان لرونکو نارينه وو او ښځو يومتحد ټولی او دخير اوتقوا په لاره کې مرسته کوونکي جماعت په شکل نراوښځې ګډ وليدل شي .

﴿ وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ [التوبه ۷۱]

(اوايمان لرونکي نارينه اوايمان لرونکې ښځې په خپلوکې سره دوستان دي په خپلوکې په نيکيوباندې امرکوي اوله بدونه خلک منعه کوي لمنځونه کوي اوزکاتونه ورکوي اودخدای ﷻ اودهغه درسول اطاعت اوپيروي کوي داهغه خلک دي چې خدای ﷻ به په دوی باندې رحم کوي بېشکه خدای ﷻ ډېرغالب اودحکمت وال دی)

هغه دانساني شرافت لوړ پوړ اواخري منزل تقوي بولي اوجنس، رنګ ، اوتوکم ته اعتبار نه ورکوي : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ [الحجرات ۱۳] (ای خلکو ! ماتاسو" ټول" له يوه نر اويوې ښځې نه

پيداکړي ياست اوتاسو مو مختلف قومونه اوکورنۍ ګرځولي ياست ځويوبل سره وپيژنئ ، بې شکه په تاسو کې ډېره تقوالرونکی دالله په نزد ترټولو عزتمن او غوره دی ، بېشکه الله پاک ښه پوه اوخبردار دی) .

داټولې خبرې په ښځوکې همت، په ځان باوري او اعتماد پيداکوي اودنوي روحياتو په اصطلاح کې يې دکمترۍ له احساس **Inferiority Complex** نه ژغوري . دهمدې تعليماتو او ښوونو په نتيجه کې له رسول الله ﷺ نه وروسته تردې موجوده زمانې پورې داسلام په نوميالیو مېرمنوکې ګڼ شمېر ښوونکې ، روزونکې، جهاد اوله جهاد سره اړوند خدمت کوونکې ،اديبې اوليکوالې ، دقرآن حافظانې ، دحديثو راويانې ، عبادت کوونکې ښځې ليدل کيږي چې په ټولنه کې يې ښه حيثيت اودروند مقام درلود له هغوی نه علمي استفادې شوې دي ، دوی خلک روزلي دي اودمثالي او نمونيز شخصيت لرونکي وې . هغه حقوق چې اسلام مسلمانې مېرمن ته ورکړي دي ځينې يې دادې : دملکيت اوميراث حق، دپېرلواو پېرودلو حق ، له مېړه نه دبېلېدولو(خلع) حق، که رازي نه وه او ضروري يې بلله، د کوژدې ردکولو حق، داخترونو، جمعې او جماعت په لمنځونوکې دګډون حق ، اوله دې پرته نورهم ډېر حقوق لري چې دفقهي په کتابونوکې يې تفصيل پروت دی .

دلويديځ دانصاف خوښوونکوپوهانو اعتراف

ګڼ شمېر انصاف خوښوونکي لويديځ والو پوهانو اودټولنيز اوتمدني تاريخ ماهرينو دهغه قرآني اوشرعي تعليماتو دبرتري اعتراف کړی دی چې دښځو داحترام اودهغوی دحقوقو يادونه پکې شوې ده . مونږ دلته

ددوی په دوه دريو شهادتونو باندې بسنه کوو ، چې په دوی کې يې يوه لويديځواله پوهه مېرمن ده داپه هندوستان کې ديوه تربيتي اواصلاحي تحريک مشره اوپه جنوبي هند کې ديوې ثقافتي ادارې " تهياسوفيکل سوسائټي" صدره پاتې شوې ده دې دهندوستان دازادۍ په غورځنګ کې هم برخه اخېستې وه ، ديوې ښځې شهادت ډېرمهم او دارزښت وړ وي ځکه دادښځو په معامله کې ډېره حساسه وي اودښځو په دفاع کې دلچسپي لري.

" مسزاينې بسنت Mrs Annie Besantوايي : تاسو به داسې خلک هم ليدلي وي چې په اسلام باندې ددې له پاره انتقادونه کوي چې هغه څو ښځې کول يا تعدد ازواج رواکړی دی خو ماتاسوته خپل هغه تنقيد نه دی ويلی چې ماپه لندن کې په يوه وينا کې کړی ؤ ما اورېدونکو ته ويلي ؤ چې : ديوې ښځې کولو په څنګ کې په پراخه پيمانه د" زنان بازاري" شتوالی نفاق او منافقت Hypocrisy ده اوله محدودو ښځو کولونه زيات لذت لري ، طبعاً دادؤل خبرې په خلکوبدې لګيږي خوداخبرې کول ضروري دي ځکه مونږ بايد په يادولرو چې دښځو په اړه اسلامي قوانين تردې موجوده زماني پورې په انګلېنډکې عملي کېدل داچې په دنياکې وجود لري ترټولو منصفانه قانون دی، دادجائداد دوراثت په حقوقوکې اودطلاق په معاملاتو کې له لوديديځ نه څو برخې مخکې دی اودښځو دحقوقو ساتونکی دی ، دادیوې ښځې کولو خبرې اودڅو ښځو کولو خبرو په خلکو باندې په څېر اغېز کړی دی، خودوی په لويديځ کې دښځې هغه ذلت ته نه ګوري چې هغه خپل لومړنی ساتونکی يواځې ددې له پاره په

سرک غورځوي چې له دې نه يې زړه موړ شوی اودی بيا دهغې هيڅ مرسته نه شي کولای [۳۸].

مستر N.L.Coulsen ليکي : بې شکه دښځې دحيثيت په معامله کې په ځانګړې توګه دواده شوې ښځې دحقوقو په معامله کې قراني قوانين ترټولو غوره اوښه دي ، هغه دنکاح اوطلاق ګڼ شمېر قوانين لري چې ټولنيزه موخه يې دښځو حيثيت ښه کول دي اوهغه دعربو په قوانينوکې خورازيات بدلون رامنځته کړ دوی ته يې قانوني شخصيت ورکړ چې مخکې يې نه درلود ، دطلاق په قوانينوکې چې قران ترټولو زيات بدلون راوست هغه په طلاق کې دعدت شاملول ؤ [۳۹].

دمذهب اواخلاقو ددائرې المعارف ليکوال ليکي : په پخوانيو عربوکې چې دښځې کوم حثيثت ؤ داسلام پيغمبر ښځې ته دهغې درجې له هغه نه ډېره ورزياته کړه ، په ځانګړې توګه دکومې ښځې چې خاوند مړشي نوهغه دمېراثي ځاروي په څېرنه ده بلکې په خپله په ميراث کې ونډه لري اودېوه آزاد انسان په څېر هغه په بل واده باندې نه شي مجبوره کېدای ، دطلاق په وخت کې په خاوند باندې لازمه ده چې دی هغې ته ټول هغه څېزونه ورکړي چې دواده په وخت کې ورکړل شوي ؤ .

له دې پرته دلوړو طبقو مېرمنو له علومو اوشاعرې سره دلچسپي پيداکړه اوځينو يې دښوونکې په حيث هم کاروکړ دعوامو دخپل کور دښښتنو په حيث دخپلو مېړونو په غم اوخوښي کې ګډې شوې اودموربه عزت کېده [۴۰].

---

(۳۸) The lile and Teachings of Muhammad . by annie Besant . Madras..۱۹۳۲.p.۳

(۳۹) A.History of Islamic Law (Edinbury.۱۹۷۱. P ۱۴)

(۴۰) انسائکلوپيديا آف ايليچن اينډ ايتهکس مخ ۲۷۱ ، نيويارک ۱۹۱۲م

نوی پیدابښت او ستر بدلون

دښځې دمقام په اړه دقراني آيتونواونبوي تعليماتو دغه نظر ګواکې په بشري نړۍ کې دښځينه نوغې له پاره دنوي پيدابښت په معنی دی ، ځکه لکه مخکې چې مونږ وويل په لرغونوزمانوکې دښځې اوپه بې ګټې ځاروي يابې روحه شي په منځ کې کوم توپيرنه و ؛ هغه ژوندی دفن کېده ، په ګروي کې کېښودل کېده ، ديوه محل نانځکه بلل کېده ، په داسې حالت کې دا انقلابي تعليمات په تمدن او اخلاقو اوکورنۍ او ازدواجي ژوند کې ديوه مبارک اتفاق په حيث رامنځته شول ، چې لږ اوډېر يې په ټولو هيوادونو اوټولنوکې هرکلی وشو . په ځانګړي توګه په هغو هيوادونوکې چې هلته اسلام په بريمنه توګه ننوت يادحکومت موکه په لاس ورغله ياکومو هيوادوته داصلاحي دعوت اوعملي نمونې په توګه ورسيده .

داسلام ددې انساني تحفې ارزښت په هغو هيوادونوکې بېخي څرګندو چېرته چې کونډو خپل ځانونه د خپلو مړو مېړونو دلرګيو په ډېريو کې سوځول ، اوټولنې دوی ته ددوی دمېړونو له مړينې وروسته دژوند کولو حق نه ورکاوه اونه يې په خپله ځانونه دژوند حقدار بلل . مسلمانانو باچاهانو په خپل وخت کې دځينې هندوستاني رسمونو اوروجونو په ځانګړې توګه د " ځان سوځولو" رسم په دې ډول اصلاح کړ چې نه ديني عقايدو او هندوستاني عنعناتو ته تاوان ورسيږي اونه يې بې حرمتي وشي.

په دې لړ کې نامتو فرانسوي سياح او ډاکټر برنيير **Bernier** " چې دشاهجهان په زمانه کې هندوستان ته تللی وُ ليکي : نن سبا دپخوا په نسبت دځان سوځولو شمېر کم شوی دی ځکه ددې هيواد واکمن

مسلمانان ددي وحشیانه رسم دله منځه وړلوړله ترخپله وسه زیاتې هڅې کوي که څه هم په هغه باندې دبندیز کوم قانون نشته ځکه دهغوی د پالیسۍ اوتګلارې یوه برخه داهم ده چې څرنګه چې هندوان له مسلمانانو په دې هیوادکې زیات دي باید دهغو په خصوصیاتوکې لاسوهنه ونه شي بلکې هغوته یې مذهبي آزادي ورکړې ده خو بیاهم دځان سوځولو رسم په څه هیلو بانو سره منعه کوي تردې پورې چې یوه ښځه دخپل ولایت دوالي له اجازې پرته نه شي سوځول کېدای ، والي هم دهغې دسوځولو اجازه بالکل نه ورکوي څو په دې پوهېدلی نه وي چې دابښځه خامخا په خپله ځان سوځول غواړي ، والي په خپله هڅه کوي څو له هغې سره اوږدې خبرې وکړې اوډېرې وعدې ورکړې چې له دې کاره لاس واخلي اوکه په دې هم کارونه شي بیا دابښځه دوالي کورته ولېږل شي چې که چېرته دوالي دکورښځووکولای شول چې دا له ځان سوځولو منعه کړه ، خوله دې هرڅه سره دځان سوځولو شمېر بیاهم زیات دی په ځانګړې توګه دهغو راجګانو په سیمه کې چې هتله مسلمان والي نه وي [۴۱].

[۴۱] دډاکټر برنیر یونلیک دویم ټوک مخونه :۱۷۲-۱۷۴ - امرتسر ۱۸۷۶م -

پنځمه لوړپنه

دناامیدی له منځه وړل او په انساني روحیاتو کې ویسا اواعتماد پیداکول

دانسان په اړه د نظربدلون

انساني تهذیب ته داسلام پنځمه ورکړه داده چې له دې نه مخکې دبشري نوغې زیات وګړي دخدای ﷻ له تام اوعام رحمت نه ناامیده وو اودانساني فطرت په سلامتیا بد ګومانه وو ددې ځانګړې ذهني فضاپه پیداکولوکې دځینې لرغونو ختیځ والو مذهبونو اودمنځني ختیځ د تحریف شوي مسیحیت لاس وُ ، دهندوستان لرغوني مذاهب دتناسخ د عقیدې اوفلسفې قائل وو چې دداډول عقیدې په لرلو سره انسان خپله اراده اوخپلواکي له لاسه ورکوي اوآن چې دهغه تصور هم نشي کولای اوددې له مخې هرانسان دخپلو مخکنیو کړنو سزاتېرولوته مجبورکیږي .

له هغه نه درنده جوړیږي کله څریدونکی څاروی یابل سپک ځناور یادکوم بدمرغه اوپه عذاب لړلي انسان په شکل کې راپیداکیږي . عیسایت اعلان کړی چې انسان پیداشي اوفطري ګناهګاردی اوحضرت

مسیح دهغه دګناهونو کفاره دی، دې ګروهې دنړۍ په سلهاوو زره متمدن مسیحیان دخپل ځان په اړه بدګومانه کړي او دالله ﷻ له رحمت نه یې مایوسه کړي وو.

دمایوسي اوناامیدي په دې حالت کې دانسانیت پیغمبر ﷺ په پوره ځواک اوځرګندوتګوکې اعلان وکړ چې انساني فطرت یوه پاکه اوسپېڅلې تخته ده چې څه لیکل ورباندې نشته ، او اوس په دې باندې یوښکلی نقش اوښایسته لیکنه لیکل کیدای شي اوانسان خپل ژوند په خپله اراده سره پیل کولای شي اودخپل عمل په نتیجه کې دثواب اوعذاب اوجنت او جهنم وړ ګرځېدلای شي اودبل چا دعمل پوښتنه نشي ځینې کیدای ، قرانکریم ځای ځای ددې یادونه کړې ده چې انسان یواځې دخپل عمل مسوؤل اودخپلو هڅو دنتېجې مستحق دی.

﴿ أَلاَّ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ۳۸ وَأَن لَّيْسَ لِلإِنسَانِ إِلاَّ مَا سَعَى ۳۹ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى ٤٠ ﴾ [النجم ۳۸-۴۰]

(هیڅ پیټی پورته کوونکی نشي کولای دبل چا پیټی پورته کړي او انسان ته به یواځې خپله ګټه په لاس ورځي اوداچې دانسان هڅې به ډېرې ژرولېدل شي ، بیا به ده ته پوره پوره بدل ورکړل شي).

دې اعلان دانسانانو په فطرت بې باوري ختمه کړه اوبېرته یې چمتوکړل چې په خپل فطرت ویسا اوباور وکړي اوله کلک عزم ، مینې اولېوالتیا ، جرات اومېړانې سره مخ په وړاندې ولاړ شي ځو خپل راتلونکې اود انسانیت راتلونکی برابر کړي اوپه دې ستر و امکاناتو اوارزښتناکو ګړیو کې خپل قسمت او ځواک وازمویي ، محمد رسول الله ﷺ وفرمایل چې : ګناه اوښوئیدل ، تېروتنه او خطا دانساني ژوند یوعارضي اولنډمهاله ځنډ دی ، چې په هغه کې انسان دخپلې ناپوهۍ اوسادګۍ اوکله دنفس

اوشیطان دپاروني له کبله پکې کیوزي اوخیراوصلاح په ګناه اعتراف اواقرار اوپه هغه پښیمانتیا دانسان اصلي فطرت اودانسانیت جوهر دی ، اودالله ﷻ لورته ګرځېدل عاجزي اوخشوع ، دګناه نه کولو کلک عزم دانسان دشرافت اونجابت نښه اودحضرت آدم ﷺ مېراث دی .

دتوبې مقام

محمد رسول الله ﷺ دداسې ګناهګارمسلمان په مخ باندې چې ترسپوږمو پورې دګناه په تمبلي کې غرق وي دتوبې دروازه پرانستې پرېښوده اوپه عامه توګه یې خلک دهغې لورته راوبلل اودتوبې فضیلت اوغوره والی یې په دومره تفصیل سره بیان کړچې هغه ته په لیدلو سره داویل کیدای شي چې ده ددین داستر رکن بیا ژوندی کړ اوله دې کبله دده دنورو تومونو په څنګ کې یونوم " نبي توبه" هم و، ده توبه یوه ضطراري وسیله نه ده بللې چې په هغې سره انسان د خپلو تېرو کړنو تلافي وکړي بلکې ده دتوبې مقام دومره لوړ کړ چې هغه بهترین عبادت اوپه کم وخت دقرب اوولایت اخري درجوته درسېدلو آسانه لاره یې وګرځوله چې دهغه په لیدلو لوی لوی عابدان اونیکان اودپاکو نفسونو خاوندان هم رخه کوي .

قرانکریم دتوبې فضیلیت په ډېر تفصیل سره بیان کړی دی چه دد په ذریعه انسان په خپل تصور کې له راتلونکو لویو لویو ګناهونو نه پاکیدای شي ، داخبره قرانکریم په ډېره دلچسپه توګه بیان کړې ده ، ګناهګارو، خطاکارو اوله نفس اوشیطان نه ماته خوړونکوته الله پاک په خپله پناه کې دوروستلو اودهغه درحمت په سیوری کې دداخلېدو عامه بلنه ورکړې ده ، اودخپل رحمت دخپانده اوبې پایه سمندر یې داسې ښکلی اوزړه وړونکی تصویر وړاند کړی دی چې له هغه نه څرګندیږي چې

خدای ﷻ نه یواځې داچې رحیم حلیم اوکریم دی بلکې که داویل سم شي نو هغه له توبه کوونکو سره مینه کوونکی دی اودهغوی دهڅو پوره قدرداني کوي. تاسو دا آیت شریف تلاوت کړئ نو هغه لطف اوکرم اودمینې فضابه حس کړی چې په دې آیت شریف ګ نغښتې ده:

﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ [الزمر ۵۳] . (ته ! (زمونږ له خوانه) ورته ووایه چې ای زما بندګانو ! چې په خپلو ځانونو مو زیادت او تېری کړی دی دخدای ﷻ له رحمت نه مه ناامیده کیږئ بېشکه خدای ﷻ ټولې ګناوې بښي، بې شکه هغه ډېربښونکی اوزیات مهربانه دی

اوله دې آیت نه هم مونږ په هغه آیت شریف کې ډېر څه احساس کوو چې هلته دخپلو نیکوبندګانو دمختلفو ډلو یادونه کړې ده او ددې نوراني فهرست پیل یې په توبه ایستونکو سره کړی دی : ﴿ التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ [التوبه ۱۱۲]. (هغه مجاهدین) توبه ایستونکي دي ، دنیکو خبرو حکم کوونکي دي ، حمد ویونکي دي ، روژه نیونکي دي ، رکوع کوونکي دي ، سجده کوونکي دي ، په ښو خبرو امر کوونکي دي اوله بدو خبرو منعه کوونکي دي ، اودخدای ﷻ دحدودو ساتونکي دي ، مؤمنانو ته خوشخبري واوروه .

دتوبه ایستونکو وقار اومرتبه

داعزت اودتوبه ایستونکي بنده له ګناهونو نه برات ، په هغه باند دا طمنان او اعتماد څرګندول هغه وخت په ښه توګه روښانه شو چې کله قرآنکریم دهغو دریو صحابه کرامو دتوبې قبلولو اعلان وکړ چې له څه

معقول عذر پرته دتبوک له غزا نه په مدینه منوره کې پاتې شوي وو نو قرانکریم مخکې دهغو مهاجرینو او انصارو یادونه وکړه چې په دې غزاکې یې برخه اخېستې وه ، بیایې په دوی پسې سمدستي دهغو دریو تنو یادونه وکړه څو دوی یواځې دا احساس نه کړي چې ددوی توبه قبوله شوې اوپه نیکو مومنانو کې شمارل شوي دي بلکې دوی دذلت له احساس نه هم لري اوباید هېڅ دکمتري احساس پکې پیدانه شي ، دې ایماندارہ او اخلاصمنې ډلې ته داخبر روښانه کړل شوه چې ددوی فطري مقام دربښتینو اولومړنیو انصارو اومهاجرینو له هغه سره برابر دي نوځکه دشرم او عارځه خبر نشته ایا دا دیانو ، اخلاقو اواصلاح اوتربیت په تاریخ کې دتوبه اېستونکي دتوبې دقبلولو ،دهغه دعزت ، له هغه سره دمینې اومحبت اودهغه دغم غلطولو له پاره له دې زیات روښانه ، زړه وړونکی ژور ، دقیق او خوږ مثال پیداکیدای شي ؟ راځئ ! دا آیت شریف سره تلاوت کړو :

﴿ لَقَد تَّابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ ١١٧ وَعَلَى الثَّلاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّواْ أَن لاَّ مَلْجَأَ مِنَ اللّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُواْ إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴾ [التوبه ١١٧-١١٨] .

(بې شکه خدای ﷻ نبي ، مهاجرینو او انصارو ته په رحمت سره توجه وکړه هغه چې له نبي سره یې په تنګسیا کې ملګرتیاوکړه له هغه وروسته چې ددوی دیوې ډلې په زړونو کې کړوالی او تزلزل پیداشو. بیا (خدای پاک) هغو خلکو ته په رحمت سره توجه وکړه بېشکه هغه ددوی په حق کې ډېر شفیق اومهربان دی ، او هغو دریوته یې هم توجه وکړه چې ددوی خبره

پاتې شوې وه تردې پورې چې ځمکه سره له خپل پراخوالي په دوی باندې تنګه شوه او دوی له خپلو ځانونه په تنګ شول او دوی پوه شول چې له الله پرته بل ځای دپناه ځای نشته بیا هغه دوی ته درحمت توجه وکړه څو دوی رجوع وکړي بیشکه الله پاک زیات توبه قبلوونکی او ډېر مهربان دی).

بیاقرانکریم دیوه عام اصل په توګه اعلان وکړ چې دالله ﷻ رحمت له هرشي نه زیات دی اورحمت یې په غضب اوجلال باندې مخکې دی خدای ﷻ فرمایي : ﴿ ورحمتي وسعت کلّ شئ ﴾ [الأعراف ۱۵۶](اوزما رحمت هرشي ته رسیدلی اوپراخه دی). په یوه قدسي حدیث کې راځي:﴿إنّ رحمتي سبقت غضبي ﴾ زما رحمت په غضب باندې مخکې دی [رواه مسلم].

قرآن مایوسي اونا امیدي کفر او جهالت بللی ده اودیعقوب ﷺ په ژبه سره یې بیانوي :

﴿ إِنَّهُ لاَ يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ ﴾ [یوسف ۸۷](بیشکه چې دالله پاک له رحمت نه یواځې کافران ناامیده کیږي) . اوبل ځای دحضرت ابراهیم ﷺ خبره رانقل کوي : ﴿ ومن يَقنط من رَحمة ربّه إلّا الضّالون ﴾ [الحجر ۵۶] (دخپل رب له رحمت نه یواځې ګمراه خلک ناامیده کیږي) .

پرانسان زړی او لوړنه

داراز رسول الله ﷺ دتوبې په ښکاره اوعام دعوت اودهغې دپراخې اوفضائلو په بیانولو سره هغه وړې اخبستې انسانیت ته تسلي ورکړه چې دناامیدي اوقنوطیت له پېټي لاندې یې زګیروي کول اودعتاب اوعذاب له ګوت څنډنو اودغضب اوجلال له کبله په لرزه کې وُ .

دې احساس ته په وده ورکولو کې دیهودي علماوو ، دمقدسو کتابونو دشارځېلو ، افراطي مسیحي علماو اومذهبي سرلارو زیاته برخه وه خوده انسانیت ته یو نوی او ښکلی ژوند ورکړ اودانسانیت په لږ ځواکه اوناست زړه کې اودهغه په ساړه بدن کې یې نوی روح اونوی حرارت پیداکړ ، دهغو په پټونو یې پټې کېښودې اودځمکې له مخ نه یې پورته کړ دعزت اوسیادت ، اعتماد او خپلواکي اوداعتماد علي الله ترآسمانه پورې یې ورساوه .

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا :
www.taleemulislam-radio.com

شپږمه لوړینه

ددین اودنیا یوځای کول اودجګړه مارو ټولنو یووالی

دوه ټوټې انسانیت اودجګړې ډګر نړۍ

پخوانیو مذاهبو اوپه ځانګړې توګه مسیحیت انساني ژوند په دوو برخو وېشلی وو چې یو یې ددنیا له پاره اوبل ددین له پاره ځانګړی شوی ؤ ، داراز دځمکې کره هم په دوو کیمپونو وېشل شوې وه ، یو کیمپ ددیني خلکوؤ اوبل ددنیاوالو او دادواړه کیمپونه نه یواځې سره بېل او جلانه وو بلکې په منځ کې یې ستر خلیج هم پروت ؤ ددواړو په منځ کې اوسپنیز دېوال ولاړ ؤ او ددواړو په منځ کې زور ازمویل اوکش وګېر روان ؤ ،هر یو په دې ګروهه ؤ چې ددین اودنیا په منځ کې ازلي دښمني ده .

له دې کبله که څوک له یوه سره تړاو نیسي نوله بل نه به تعلق پرېکوي بلکې دهغه په خلاف به جګړه کوي ځکه ددوی له وینا سره سم نشي کیدای چې سړی په یوه وخت په دوو کشتیوکې سپور شي ټولنیزې هڅې اودژوند خوشالي ترلاسه کول هلته شوني دي چې له آخرت اودمخلوقاتو له پیداکوونکي نه سړی غافل شي ، داراز حکومت اوسلطنت هلته باقي

پاتې کیدای شي چې له دیني اواخلاقي تعلیماتو اودخدای ﷻ له وېرې آزاد واوسي. اوبل لورته مذهبي ژوند له رهبانیت اوله دنیا او مافیها نه له پرېکون پرته نه شي رامنځته کیدای.

دپورته فکر پایله

داخرګند حقیقت دی چې انسان په فطري توګه اسانتیا خوښوونکی دی اوکوم مذهب چې له مباح څیزونو داستفادې اجازه او دترقي، عزت، قوت اوحکومت ترلاسه کولو اجازه نه ورکوي هغه دبشري نوغې له پاره دمنلو وړ نه دی. اوله سلیم عقل سره دکشمکش اودانسان په فطري غوښتنودبندیز شکل غوره کوي چې په نتیجه کې یې دذهني اوعلمي وړتیالرونکوخلکو زیات شمېر دنیا ته په دین باندې ترجیح ورکوي اودوی دایوه ټولنیزه اړتیا اوحقیقت وبولي او ډاډه شي اودهمدې ژوند په برابرولو اوترقي اوله هغه نه په خوند اخېستلو بوخت شول، دیني اوروحاني ترقي یې له نظره وغورځوله ډېروخلکو چې دین پرېښود هغوی ددین اودنیا تضاد یو مسلم حقیقت وباله او ددیني قیادت لرونکو کلیسا اوددین دنمایندګانو په خلاف یې بغاوت وکړ اوله ټولنیزو بندیزونو یې ځان آزاد وباله چې په نتیجه کې یې په منطقي توګه حکومتونه هم دهغه مست فیل په څېر شول چې زنځېرونه یې شکولي وي یادهغه اوښ په څېر چې مهار یې پرېکړی وي، ددین اودنیا په منځ کې دابدترین جلاوالی اود "دینداره" او "دنیاداره" خلکو دې بېځایه دښمني دالحاد اوبې دیني څلوړ واړه دروازې پرانستلې چې ددې لومړی ښکار اروپا اوبیا وروسته هغه هیوادونه شول چې دفکر اونظر، علم اوتمدن په ډګر کې یې دهغې تقلید کاوه یاله هغې نه اغېزمن و.

داحالت هغو مسیحي افراطیانو نور پسې خراب کړ چاچې انساني فطرت دروحاني تزکیې اوالهي قرب په لاره کې ترټولو لوی خنډ باله اوهغوی ددوی دګمراه کولو اودسختو احکامو او ظالمانه تعلیماتو په ذریعه هغوی ته په سزاورکولو له هیڅ شي نه مخ نه اړاوه [۴۳].

دوی دین په داسې وحشتناک اومتنفر شکل کې وړاندې کړ چې له هغه نه دخپلو منونکو غوني هم زړېدل . چې په نتیجه کې یې بالآخره دیني کړۍ په ګونجې کېدو شوې ، نفسانیت اوهوا پرستي په پراخه پیمانه اوج ته ورسېده او دنیا د ددو متضادو اړخونو په منځ کې راغله بیا ددیني احساس دکمزورۍ له کبله دلادینیت اوټولنیزاخلاقي انتشار په ژوره کنده کې ولوېده [۴۴].

دیووالي دین اودهغه جامعیت

دمحمدي بعثت ښکلې تحفه اوخورا ستره ښېګڼه دهغه دانړیوال اعلان ؤ چې داعمالو اواخلاقو داساس ترلاسه کول اوموندل دانسان یواځینۍ موخه اوهدف دی چې شریعت د هغه تعبیر په داسې کوچني توري سره کړی چې خورا پراخي معناوې پکې نغښتې دي اوهغه د " نیت "توری دی

" إنّما الأعمال بالنّيّات وإنّما لكلّ إمراءٍ مَا نوى [۴۵] ".

داعمالو دار ومدار په نیتونو پورې تړلی دی اوهرکس ته به هغه څه رسیږي چې دکوم شي نیت یې کړی وي ، هرهغه کار چې انسان یې په

---

(۴۳) د لیکي "Lecky" کتاب تاریخ اخلاق یورپ دویم ټوک

(۴۴) دتفصیل لپاره د ډرپیر کتاب " Conflict Betweem Religion and Science

(۴۵) الجامع الصحیح للإمام البخاري کتاب الوحی .

اخلاص سره دالله درضاکولو له پاره کوي اودهغه دامر منلو په موخه يې سرته رسوي هغه دده له پاره دقرب الهي ديقين دلوړو درجو اودايمان لوړو پوړو ته درسېدلو ذريعه ګرځي ، اوداهغه خالص دين دی، چې په هغه کې هيڅ دنيوي شائبه نه پيداکيږي ، په دې کې هر ډول کار راځي: جهاد اوقتال ،حکومت کول ،له دنيوي خوندونو استفاده کول، دطبعي غوښتنو پوره کول ، روزي پيداکول ، روا اومباح ساتېری اولوبې، کورنی او ازدواجي ژوند اوهر عبادت اودیني خدمت .

ددې په خلاف همداڅېز ونه هغه وخت په دنيوي چاروکې داخليږي چې کله دخدای درضا کولو نيت نه وي پکې شوی اودهغه دحکم دمنلو په نيت سرته ونه رسول شي ، بلکې موخه يې غيرالله وي اود غفلت او آخرت هيروني پردې پرې پرتې وي ، په داسې حالت کې فرض لمونځ ، هجرت . اوجهاد ، ذکر اوتسبيح هم دنيوي عمل ګرځي اود داډول عمل کوونکي سړي ، عالم ، مجاهد اوداعي له پاره داکارونه دثواب په ځای وبال ګرځي او دده اوخدای ﷻ په منځ کې پرده جوړوي .

په مسيحي اروپا کې دحکومت او کليسا کشمکش !

په منځنيو پېړيوکې عيسايي نړۍ په خونړي کشمکش کې راګېره وه يوه لوري ته کليسا وه چې ددين استازې وه او په " رهبانيت" باندې يې اساس ايښی وُ بل لورته حکومت وُ چې دجاه اوجلال ذريعه وه ددوی په منځ کې داسې کشمکش پېښ شو چې بالآخره دين اوسياست سره بېل شول چې نتيجه يې ټولو ته معلومه ده او اوس يې هم نړۍ لاسزا ګالي اوپه دې لاره کې تيندکونه خوري . علامه اقبال لاهوري ددې تاريخي حقيقت تصوير په

ډېروخرګندو ټکوکې کړی دی ، دی ددین اوسیاست ترعنوان لاندې په یوه ښکلي نظم کې وایي :

کلیسا کے بنیاد رهبانیت تهی = سماتی کهان اس فقیرے مین امیرے
خصومت تهی سلطانے وراهبے مین = که وه سربلند هے یه سربزیرے
سیاست نے مذهب سے پیچها چهڑایا = چلے کچھ نه پیر کلیسا کے پیرے
هوی دین ودولت مین جس دم جدایي = هوس کے امیري هوس کے وزیرے
دولئ ملک و دین کے لئے نامرادے = دولئ چشم تهذیب کے نابصیرے
یه اعجاز هے ایک صحرانشین کا = بشیر هے آئینه دار نذیرے
اسے مین حفاظت هے انسانیت کے = که هون این جنیدي واردشیرے [۴۶]

دپرېکون په ځای یووالی

دمحمد رسول الله ﷺ په تل پاتې آثاروکې داهم ده چې ده ددین اودنیا په منځ کې پروت خلیج لري کړ اودادوه سیال اوپه جګړه اخته کیمپونه چې له ډېرې مودې راهېسې په خپل منځ کې په جګړه اوسیالي اخته وو اوله یوه بله یې نفرت کاوه ، په سوله ایزه توګه اوډېره مینه سره یوځای کړل اوله امن او یووالي سره یې ژوند ور وښود ، دی ﷺ دخپلې دې کارنامې په رڼاکې دیووالي پیغمبر اوپه یوه وخت کې زیری ورکوونکی او وېروونکی ترسترګو کیږي.ده ﷺ بشري نوغې له دوو جګړنیزو محاذونو نه پوره کړ او دایمان او احتساب ، انسان پالنې اوخدای رضاکولو په

---

[۴۶] بال جبریل

محاذ يې ولګاوه ، اومونږ ته يې دامعجزه اوپراخه معنی لرونکې دعا راوښودله

﴿ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴾ البقره ۲۰۱.
ژباړه : زمونږ ربه مونږ ته په دنيا کې هم نعمت راکړه او په اخرت کې هم نعمت راکړه او ددوزخ له عذابه مو وژغوره .ده ﷺ ددې قرآني آيت په ذريعه اعلان وکړ چې :

﴿ قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١٦٢ ﴾ [الأنعام ١٦٢].(ورته ووايه چې زما لمونځ . زما عبادت اوزما ژوند اوزما مرګ ټول يواځې درب العلمين ذات له پاره دي) .

ټول ژوند عبادت اوټوله نړۍ عبادت ځای

دمومن ژوند دمتفرقو او متضادو واحدونو ټولګه نه دی، بلکې دايو داسې دوحدت او يووالي ژوند دی چې په هغه کې دعبادت اواحتساب روح کارکوي اوپه خدای ايمان اودهغه دپيروي جذبه يې قيادت کوي اوهغه دژوند ټولو څانګو دهاند او هڅو ټولو ډولونو ته شامل دی ، په دې شرط چې هغه داخلاص ، رښتينوني نيت ، دالله ﷻ درضا اودپيغمبرانو په لاره روان وي ، داخبره داحقيقت روښانه کوي چې رسول الله ﷺ دپوره يووالي اومکمل اتحاد رسول دی ، اوپه يوه وخت کې انسانيت ته په ښه عمل باندې زيری ورکوونکی اوله الهي عذاب نه وېروونکی دی ده ددين اودنيا دبېلوالي نظريه غلطه ثابته کړه ټول ژوند يې عبادت اوټوله ځمکه يې عبادت ځای وګرځوله ، اوانسانيت يې له په جګړه اخته اومتضادو توليو نه راويوېست ، دښه عمل ، دانسانيت دچوپړ اودالله ﷻ درضا

غوښتنې په پراخه محاذ يې ودراوه ، چې هلته باچادفقيرانو په ګډ ناست ليدل کېږي ،عابد اوزاهد داميرانو په جامه کې ليدل کيږي څوک چې دحلم اوبرداشت غوروي او دعلم اوحکمت سرچېنه ، دشپې عبادت کوونکی اودورځې توره وهونکي وي خوپه شخصيت کې به يې هيڅ تضاد اوبې اعتدالي نه لېدله کيږي .



اوومه لوړینه

دعلم اودین په منځ کې سپېڅلی اوتلپاتې تړون پیداکول

یو سپېڅلی تړون پلي کول :

دحضرت رسول الله ﷺ په تلپاتې ښېګڼواودده دبعثت او دعوت په ځانګړتیاووکې داهم راځي چې ده ددین اوعلم په منځ کې سپېڅلی اوتلپاتې تړون اورابطه رامنځته کړه اودیوه بل آئنده اوپای یې په خپلوکې وتاړه اوعلم یې داسې عزتمن کړ چې په هغه زیادت نه شي کیدای . اودهغه په طبعي نتیجه کې په اسلامي تاریخ کې داسې علمي اوتصنیفي تحریک پیداشو چې ددین او آسماني پیغام ترسیوري لاندې تهذیبونو اونورو زمانوکې یې ساری نه لیدل کیږي .

ددې یو لوی دلیل دادی چې په حضرت رسول الله ﷺ باندې نازلې شوې لومړنۍ وحې کې لوی ښښتن تعالی بشریت ته دعلم دورکړې داحسان یادونه کړې ده اوپه هغه کې یې قلم دعلم لویه وسیله ګرځولې ده ،چې په هغه پورې دعلم تاریخي سفر تړلی دی اودهغه په ذریعه دتصنیف اوتعلیم نړیوال تحریک پیل شواوپه هغه سره علم له یوه فرد نه بل ته او له یوقوم نه بل ته ، له یوې زمانې نه بلې ته ، اوله یوه نسل نه بل نسل ته نقل

کیږي ، په نړۍ کې دعلم دخپرولو اوله انساني اړتیاسره سم دهغه دعام کولو ویاړ همده ته حاصل دی اوددہ په حرکت اوخوځښت سره دمدارسو ، پوهنتونونو ، علمي ادارو اوکتابخونو نړۍ ودانه ده ، ترکومه ځایه چې دبشري قرائنو اوقیاسیاتو تړاو دی نو ددې خبرې هیڅ تاریخي اوعقلي نښه نه وه چې په لومړۍوحې کې دی دقلم یادونه هم وشي ځکه داوحې په یوه امي انسان باندې دیوه نالوستي قوم په منځکې په یوه وروسته پاتې سیمه کې نازله شوې ده چې هلته دالرګینه ټوټه یعنې قلم ترهرشي زیات نادر اونه پیداکیدونکی شی ؤ له دې امله عربو ته د " امیین" اونالوستو لقب ورکړل شوی دی :

﴿ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ ﴾ [الجمعه ۲] (دی هغه ذات دی چې په نالوستوخلکو یې له دوی نه یوپیغمبر راولیږه چې دوی ته دخدای ﷻ آیتونه تلاوت کوي اوهغو ی پاکوي او دوی ته دکتاب اوحکمت خبرې ورښیي په داسې حال کې چې داخلک مخکې په ښکاره ګمراهي کې وو) .

قران دیهودو قول رانقل کړی چې په مدینه کې دعربو ګاونډیان وو اوله دې امله یې دوی ښه پیژندل دوی به ویل چې : ﴿ لیس علینا في الأمیین سبیل﴾ په مونږ باندې دامیانو (نالوستوعربو) په اړه څه مسؤلیت نشته ، اوپه دې امت کې هماغه رسول چې وحې پرې نازلیده په پوره امیت اونالوستوب سره ممتاز ؤ خدای ﷻ فرمایي :

﴿ وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلاَ الإِيمَانُ وَلَكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَنْ نَّشَاء مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ [الشورا ۵۲] (اوداراز مونږ تاته وحې یعنې خپل

حکم درلېږلی ده ته نه په دې پوهېدلی چې کتاب څه شی دی اونه داچې ایمان څه شی دی ، خومونږ دا" قرآن" نور وګرځاوه چې دده په ذریعه مونږ هدایت کوو کومو بندګانو ته موچې خوښه شي اوپه دې کې شک نشته چې ته ښې اوسمې لارې ته هدایت کوې) .

بل ځای فرمايي : ﴿ وَمَا كُنتَ تَتْلُو مِن قَبْلِهِ مِن كِتَابٍ وَلاَ تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لاَّرْتَابَ الْمُبْطِلُونَ ﴾ [العنكبوت ۴۸] (اوتاله دې "قرآن " نه مخکې نه کوم کتاب لوستی دی اونه دا " يعني کوم کتاب " په خپل لاس ليکلی شې ، اوکه نه بيا به دې حق نه پېژندونکو خلکو شک کاوه .

داسې پيل چې توقع يې نه کېده

دحراء په غارکې په امي اونالوستي نبي باندې دالومړۍ وحې نازلېده (چې له شپږ سوه کلن اوږده ځنډ وروسته دځمکې له آسمان سره بلکې دآسمان له ځمکې سره دوحې اونبوت په ذريعه رابطه پيداکېدونکې وه)[۴۷] ، نو په دې کې دعبادت دالله دمعرفت او اطاعت کوم ايجابي حکم نه وُ اونه دبتانو دپرېښودلو دجاهليت په عاداتو او رواجونو څه نبوکه اوسلبي حکم هم نه وُ پکې، که څه هم داتولې خبرې په خپل ځای کې ډېرې مهمې وې اوپه خپلو ځايونو کې يې وضاحت اوڅرګندونه شوې ده خو په لومړي ځل وحې کې ددې يوه يادونه هم ونه شوه بلکې د اوحې د (اقراء) په کلمه سره پيل شوه : ﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۱ خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۲ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ ۳ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ٤ عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ [العلق ۱-۵] . (ولوله ! دخپل رب په نامه سره چې هغه هرڅه پيداکړي دي چې

---

[۴۷] دا اوږده موده دحضرت عيسی عليه السلام په نبوت تېره شوې وه

انسان یې دوینې له توتې نه پیداکړی دی، ته قرآن ولوله اوستارب ډېر کریم دی چې هغه دقلم په ذرېعه تعلیم ورکړی هغه انسان ته هغه څه ورښودلي دي چې دی نه پرې پوهېده).

په دې ډول داتاریخي پېښه رامنځته شوه چې دموژخینو اومفکرینو دغور اوفکر له پاره یې پراخه میدانونه برابر کړل اودادې حقیقت ته څرګنده نغوته وه چې ددې امي نبي ﷺ په ذرېعه بد دانسانیت اومذاهبو په تاریخ کې یو نوی دور پیل شي چې په ژورۍ توګه اوپراخه پیمانه سره به دقرآت اولیک لوست ترقي خوښوونکی دور اودعلم دواکمني زرینه زمانه به وي اوعلم اودین به دواړه په یوه ځای دانسانیت دښېرازي اوتکمیل له پاره کارکوي ، خوددې علم اوتعلم پیل به دنبوت په غېږ کې دهغه څښتن په نامه سره کیږي چې ټوله مخلوقات اوانسانان یې پیداکړي دي څوهغه دالله تعالی دیقین اودهغه دسهي معرفت په رنګ کې رنګ کړل شي اودهغه په رڼاکې خپل سفر جاري وساتي له دې امله وایي :﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ..﴾ دهغه رب په نامه ولوله چې (هرڅه) یې پیداکړي دي .

له دې سره انسان بایدخپل حقیقت اوخلقت هم وپیژني څوخپله هستي هېره نه کړي اوله حده تېری ونه کړي ، اودعلم اوعقل ، صفت اوحرفت اودمخلوقاتو دابل کولو په لړکې خپلو سوبو باندې ونه دروهل شي ځکه خو یې وفرمایل ﴿ خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴾ هغه چې انسان یې د وینې له توتې نه پیداکړی دی ، بیا یې دقلم په عزت خبرې کړي دي اودهغه ارزښت یې لوړ کړی دی . دعلم .لوست، ښوونې اوروزنې په ډګرکې یې

دهغه دکارنامو یادونه کړې ده چې په مکه اوعربي جزیره کې په هغه پوهیدل آسانه کارنه ؤ اوهلته چې دګوتو په شمېر کسانو قلم درلود [۴۸].

له دې امله یې په عربي جزیره کې په لیک لوست پوه سړي ته " کاتب " ویلي ، په دې اړه وایي ﴿ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴾ چې دقلم په ذریعه یې تعلیم ورکړ ، بیادانسان هغې وړتیا اوصلاحیت ته نغوته کوي چې هغه دیني اوتکویني حقایق ، علوم اوصنائع دانکشافاتو اوایجاداتو نوي معلومات ترلاسه کولای شي اودخپل علم پولې پراخولی شي، خوددې ټولو مأخذ الهي ښوونې اودانسان داسې تخلیق دی چې هغه مجهول ؛ معلوم او ورک شی موجود کړی ، ځکه خو فرمایي ﴿ عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ انسان ته یې هغه څه وروښودل چې په هغو نه پوهېده .

ددین دمزاج تعین

داپه رسول الله ﷺ باندې دنازل شوې لومړۍ اودوحې دلړۍ دپیل ټکی ؤ چې په راتلونکو ټولو مراحلو اودهغه دمزاج په تعیین کې یې ځانګړی رول درلود اوپه علم اوفن ، دعوت اوتحریک یا فکري مکتب باندې مسلط کیږي ، اوداسلام اوعلم اوحکمت په منځ کې تلپاتې ملګرتیا پیداشوه ، اودادین دتل له پاره دعلم دزده کړې له انساني جذبې سره ملګری شواو دهغو نویو مشکلاتو دحل کولو وړتیا پکې پیداشوه چې دانساني عقل

دین اوعلم سره ملګری

---

[۴۸] په قریشو کې یواځې اوولس "۱۷" تنه په لیک لوست پوهیدل لکه نومیالي عرب لیکوال ابن عبدربه چې په خپل مشهور کتاب " العقد الفرید" کې لیکلي دي وګورئ څلرم ټوک ۲۴۲ مخ - او فتوح البلدان بلاذري ۴۵۷ مخ ، ځیني خلکو له دې نه زیات کسان ښودلي دي خو په هرصورت هغه هم محدود دي

اوغوره تمدن راوستلو په مخکې پراته وو ، اوداديـن له علم نه هيڅکله نه دی بېزاره شوی اودعقل له کړنو نه نه دی وېرېدلی .

له علم اوپوهې نه وېرېدونکي مذاهب

ځيني داسې مذاهب هم شته چې دعلم په مرګ کې خپل ژوند لټوي اودهغه په شکست کې خپله سوبه احساسوي ، په دې مثال باندې هلته ښه پوهيدلای شو چې دالاندې کيسه واورو هغه داچې ويل کيږي ، يوځل مياشو (غوماشو) سليمان عليه السلام ته دتېزې هوا شکايت وکړ چې په مونږ باندې ډېرظلم کوي او ددې په شته والي کې مونږ ژوند نه شو کولای کله چې داراشي مونږ ځغاستې ته اړشو ، سليمان عليه السلام ورته وويل چې دمدعي عليه حاضرېدل ضروري دي نو تېز باد راوغوښتل شو دده په راتګ سره مياشې ورک شول ، سليمان عليه السلام وويل چې دمدعي دنشتوالي په صورت کې مونږ څنګه پرېکړه وکړو ؟

دډېرو مذاهبو داحال دی دهندوستان ځيني پخواني مذاهب اودهغو دمشرانو طرز العمل هم داډول شهادتونه لري ، په اروپاکې دعيسايي کليسا اوعلم ترمنځ دشخړې اوکشمکش کېسې ډېرې مشهورې دي اودامريکايي ليکوال ډرېپر کتاب " Confict Between Religion and Science " ډېرتاريخي اسناد اوخورا په زړه پورې معلومات لري (۴۹)

---

(۴۹) ددرېپر ددې کتاب اردو ژباړه مولانا ظفر علي خان بي - ای عليګ د " زميندار" مدير د " معرکه ء مذهب وسائنس " په نامه سره کړې ده هماغه وګورئ!

په اروپا کې په منځنيو پيړيوکې دجوړې شويو تفتيشي محاکمو اوتحقيقي عدالتونو (Courts of Inquisition) اودکليسا دظلم اوجبر دمړيو شمېره له زرهاوو نه اوړي ، له هغو بوږنوونکو سزاوو نه چې هغو محکمو ورکړې وي اوس دانسان غوني زيږ شي . دمسيحي عقايدو دڅېړنې دامذهبي عدالتونه (Courts of Inquisition) چې د رومن کيتوليک کليسا له خوا په اټاليا ، هسپانيا ، جرمني اوفرانس کې جوړ شوي وو دالحاد په تور نيول شويو کسانوته په بوږنوونکو سزاوو ورکولوکې مشهور وو .

په هسپانيه کې دعربو له زوال نه وروسته په کال ۱۴۹۰ م کې ددې عدالتونو دسمبالولو کارحکومت په لاس کې واخېست ، په اوولسمه پيړۍ کې دهغو زوال پيل شو . نيپولين په کال ۱۸۰۸ م کې دهغو دفتحه کولو هڅې پيل کړې خوپه ۱۸۲۰ م کې بېرته جوړې شوې اوتر ۱۸۳۵ م پورې په يونه يو ډول چلېدلې ، داويل ګران دي چې وويل شي ټول څومره انسانان ددې خونړيو عدالتونو قرباني شول ، خوداسې معلوميږي چې شمېر يې سلهاوو زرو ته رسيږي .

قرآن چې نازل شو علم اوعلماووته يې دومره عزت او وقار ورکړ چې په مخکينيو صحيفواو پخوانيو مذاهبوکې يې ساری نه ليدل کيږي دعلم اوعلماوو يې داسې تعريف وکړ چې په هغه سره ددوی درجه دانبياوو له هغې نه خو ټيټه خو په نورو ټولو بشري طبقاتو کې اودرجاتو باندې لوړه شوه خدای ﷻ فرمايي : ﴿ شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ [آل عمران ۱۸] . (الله ګواهي ورکوي چې له ده پرته بل معبود نشته اوملائکې اوعلماء هم"داګواهي

وركوي" هغه په عدل سره چارې پرمخ بيايي له ده پرته بل معبودنشته اودزبردست حکمت خاوند دی)

﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ [طه- ۱۱۴] (ته ووايه چې زما ربه زما علم زيات کړه !) ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الأَلْبَابِ ﴾ [الزمر -۹] ته ووايه! ايا علم لرونکي اوبې علمه سره برابر دی ؟ ﴿ يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ [المجادله -۱۱] خدای ﷻ به په تاسوکې دايمان لرونکو اوهغه چاچې علم ورکړل شوی درجې لوړې کړي. ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ [فاطر -۲۸] . له خدای نه يواځې هغه څوک ويرېږي چې علم لري .په نوي احاديثوکې درسول الله ﷺ داڅو ويناوې کافي دي :

[فضل العالم على العابد كفضلي على أناكم (۴۹)]

په عابد باندې عالم دومره فضيلت لري نکه زه يې چې ستاو په ادنا انسان لرم .

[إنّ العلماء ورثة الأنبياء وإنّ الأنبياء لم يورثوا ديناراً و لادرهماً وإنّما يورثوا هذالعلم فمن أخذه أخذ بحظٍ وافرٍ "ابوداؤ د و الترمذي "]

ژباړه : علماء دانبياوو وراثان دي اوانبياء کرامو په مېراث کې دينار اودرهم نه دی پرېښی بلکې داعلم يې په مېراث کې پرېښی، نو چاچې علم ترلاسه کړ هغه لويه برخه ترلاسه کړه . دعلم ددې قدرداني اودهغه په لوي دهڅونې په نتيجه کې داسلام په تاريخ کې داسې علمي نشاط بلکې جوش اوجذبه اوپه هغه دقربانېدلو اوپه هغه کې دانهماک ولوله پيداشوه چې دهغه په نتيجه کې دې نړيوال اوتلپاتي علمي پاڅون ترټولو

(۴۹) ترمذي داحديث شريف حسن بللی دی

زیات زماني (مهالیز) اومکاني (ځایئز) مسافت وواهه اومعنوي مسافت وهل خوبي ترهغو دواړو نه زیات و.[۵۰]

نامتو فرانسوي لیکوال ډاکټر لیبان په خپل مشهور کتاب " تمدن عرب " کې لیکي : عربو په خورا حیرانوونکي توګه دعلم په زده کړه کې خپله وړتیا اوصلاحیت ښکاره کړ په دې ځانګړي کارکې ډېرقومونه له دوی سره برابر شوي دي خو په ګرانه سره به څوک له دوی نه لوبه ګټي ، کله به چې دوی کوم ښار په لاس کې واخېست نو لومړی کاربه یې هلته مدرسه اوجومات جوړول وُ په لویوښارونوکې به دوی هروخت زیاتې مدرسې لرلې .

" نجمن دلي تو ویل" چې په ۱۱۷۳ع کې مړشوی دی وایي چې ده یواځې په اسکندریه کې شل مدرسې لیدلې وې ، له عامو تعلیمي مدرسو پرته په بغداد ، قاهره ، طلیطله ، قرطبه اونورو لویو ښارونوکې دارالعلوم وُ چې په هغوکې دعلمي څېړنو کارځایونه ، رصدځایونه ، ستر ستر کتابتونونه لنډه داچې دعلمي تحقیقاتواړوندهرڅه موجود وُ یواځې په اندلس کې اویا" ۷۰ " عام کتابتونونه وو .

دعربو مؤرخینو له وینا سره سم دالحاکم الثاني په کتابتون کې چې په قرطبه کې وُ شپږ سوه زره ټوکه کتابونه وو یواځې دکتابونو فهرست یې

---

(۵۰) ددې هڅو اوعلمي موضوعاتو دپیژندلو لپاره هغو کتابونو ته مراجعه وکړئ؛ چې په ګڼ شمېر ژبوکې لیکل شوي دي اودعلماوو دکتابونو تذکرې پکې راغلي دي ، دبېلګې په توګه دځو دیادونه کوو ؛ دابن الندیم " الفهرست " ، دحاجي خلیفه چلپي " کشف الظنون " دعلامه محمود حسن ټونکي " معجم المصنفین " (چې شپېته ټوکه اوشل زره مخونه لري اودځلوېښت زره مصنفینو حالات پکې راغلي دي) او الثقافي الرسلامیي في الهند دمولانا عبدالحی حسني ددمشق چاپ ، دبروکلمان " تاریخ ادب عربي " دفواد سزګین " تاریخ التراث العربي " او نور .....

په ځلور ځلوېښت ټوکو کې وُ. دده په اړه چا ډېر ښه ويلي دي چې ځلور سوه کاله وروسته چې کله چارلس عاقل دفرانيس دشاهي کتابتون تاداو کېښود نوله نهه سوه زيات کتابونه نه وو پکې جمعه شوي او په دوی کې دمذهبي کتابونو يواځې يوه الماری هم نه وه [۵۱].

دشيندليو علمي واحدونو په منځ کې يووالی

دعلمي تحريک دفعاليت اوپراخوالي په اړه چې محمدي بعثت اواسلامي دعوت کوم رول ترسره کړی له دې نه يې دعلم دسهي موخې په لوري رهنمايي کولو اودمثبت تعميري اوګټورو کارونو له پاره ذريعه ګرځولوکې زياتې هڅې کړي دي اوپه دې لړکې يې له هغه مخکې نه زيات رول لوبولی دی.

دعلم ګڼ شمېر کړی شندلي پرتې وې بلکې کله خو به يوه دبل په ضدوُ دحکمت اوطبعياتو علم له دين سره په جګړه بوخت وُ آن چې درياضي اوطب په څېر مغصومو علومو ماهرينو هم کله کله سلبي اوالحادي نتائج رااېستل لکه ديونان علماء چې له څو پېړيو يې په فسلفه او رياضياتو کې خپله ځانګړتيا خوندي ساتلې وه. ځيني يې مشرک وملحد وو اوديونان علوم او فکر مکاتب ددين له پاره خطره اودملحدينو له پاره سند اونمونه ګرځېدلي وُ. په داسې حالت کې داداسلام ستر احسان اولويّه کارنامه وه چې داسې يووالی يې رامنځته کړ چې ټول علمي واحدونه يې سرهٔ وتړل اودده له پاره دادول کړنه ځکه هم اسانه وه چې دده دعلمي سفر دپيل ټکی Starting Point په سمه اوسهي توګه تاکل

---

[۵۱] د "تمدن عرب" اردو ژباړه دسيدعلي بلګرامي مخونه ۹۹-۳۹۸.

شوې وه ده خپل پیل له ایمان دالله ﷻ له مرستې اوپه هغه له اعتماد نه کړی ؤ اود ﴿اقراء باسم ربّك الذي خلق﴾ په عملي کولو سره یې داسفر پیل کړی ؤ او ډېر ځله یې دپیل سموالی دپایلې اوانجام دسموالي ضمانت ورکوي .

اسلام دقرآن اوایمان په برکت سره دداسې وحدت انکشاف وکړ چې ټول وحدتونه یې سره وتړل اوهغه وحدت دخدای ﷻ معرفت دی چې دهغه په اړه خدای ﷻ دخپلو مومنو بندګانو ستاینه کړې ده : ﴿ ویتفکّرون في خلق السّموات والأرض ° ربّنا ما خلقت هذا باطلاً سبحنك فقنا عذاب النّار ° ﴾ [آل عمران -۱۹۱] . (اوداسمانونو اوځمکو په پیدایښت کې فکر کوي ای زمونږ ربه ! تادا(هرڅه) بې ګټې نه دي پیداکړي ، ته پاک یې ، نو مونږ داور له عذاب نه وساتې) .

پخوا زمانه کې کائناتي وحدتونه لکه پېښې اوتغیرات انسان ته متضاد ښکارېدل اودی به یې په حیرانتیا او اضطراب کې اچاوه اوکله خو به خبر کفر او الحاد اودکائناتو په خالق باندې ترنیوکو پورې ورسېده هغه ؤ چې په ایمان اوقران باندې ولاړ " اسلامي علم " نړۍ ته داسې وحدت ورپه برخه کړ چې داکائناتي وحدتونه یې سره جمعه کړل اوهغه دالله ﷻ غالبه اراده اوکامل حکمت دی .

یولوی جرمنی عالم " هرالد هوفډنګ Harald Hoffding ددې وحدت دموندنې اوپه علم . اخلاقو اوانساني ژوند باندې دهغه داغیزې یادونه کوي اولیکي : هرمذهب په توحید باندې ایمان لري ځوک چې

دانظر یه لري چې دکائناتو دهرشي دوجود علت یودی (پرته له هغو ستونزو چې له دې فکرنه په لازمي توګه رامنځته کیږي [۵۲]

داایمان اوعقیده په انساني فطرت باندې خورا ګټوره اومهمه اعبزه کوي اوددې نظریې منونکو له پاره داعقیده لرل آسانه کیږي چې دنړۍ ټول څیزونه له یوه قانوني وحدت سره تړل شوي دي ځکه دعلت وحدت دقانون دوحدت غوښتنه هم کوي ،دمنځنیو پیړیو دیني فلسفې په کثرت کې دوحدت تصور دخلکو په ذهنونو کې ځای کړی ؤ چې په هغه سره غیر مهذب انسان دطبعي مظاهرو دډېرښت له کبله له هغه نه غافل ؤ اوددې کثرت اوډېرښت په مشاهده کولوکې له دې کبله غلطي او پېچلتیاوې راتلې چې دده په لاس کې له هغو سره دذاتي ربط پیداکولو هیڅ مزی نه ؤ

په دې توګه علم مقصودي ، ګټور اوخدای ﷻ ته درسېدلو ذریعه وګرځېده اوخپلې هڅې یې دانسانیت دچوپړ اودتمدن اوټولنې دنیکمرغی له پاره په کارواچولې ، اوداډول فکر دانسان دفکراوعمل په نړۍ باندې ترټولو زیات احسان ؤ چې دانسانیت برخلیک یې بدل کړ اودانساني فکر لاره یې هم بدله کړه ، لویدیځ والو پوهانو هم په علومو ، فنونو اوانساني فکر باندې دقرانکریم ددې احسان یادونه کړې ده ، چې مونږ یې ددوو تنو په وینا رانقل کولو اکتفاء کوو :

نامتو ختیځ پوه (مستشرق) مارګولیت G-Margoliouth چې داسلام په خلاف په زیات تعصب سره شهرت لري دراډول J-M.Rodwell دقران دژباړې په سریزه کې لیکي : دنړۍ په سترو مذهبي صحیفوکې قران یومهم مقام لري . که څه هم په داډول تاریخ جوړوونکو

---

(۵۲) History of Modern Philosophy - P .۵

لیکنو کې دده عمرله ټولو نه کم دی خو په انسان باندې دحیرانوونکي اغېزو په شندلوکې له بل چانه وروسته نه دی ، ده یونوی انساني فکر پیداکړی اودنویو اخلاقو اساس یې کېښود [۵۴]

یوبل ختیځ **Harald Hoffdlng** لیکي : مونږ باید په دې تعجب ونه کړو چې قران دعلومو سرچینه دی داسمانونو ، ځمکې ، انساني ژوند ، تجارت اوحرفت یادونه چې په ده کې شوې ده په هغه باندې په ګڼ شمېر کتابونو یا تفسیرونو کې رڼا اچول شوې ده اوپه هغه باندې دبحث اومباحثې دروازه پرانستل شوې ده ، اوپه مسلمانانو کې په بالواسطه توګه دمختلفو علومو دترقي لاره هواره شوه ده یواځې په عربو اغېز ونکړ بلکې یهودي فلاسفه یې هم دې ته تیار کړل چې په مذهبي اومابعد الطبیعي مسائلو کې دعربو پیروي وکړي .اوبالآخره چې عیسایي علم کلام له عربي الهیاتو نه څومره ترلاسه کړه دهغو یادونې ته اړتیانشته ، دروحانیت په ډګر کې داسلام هڅې اوکوښښونه په مذهبیاتو پورې محدودنه دي .

له یوناني فلکیاتو اوطبي لیکنو سره دپېژندګلوي له کبله ددې علومو دمطالعې لورته متوجه کړ ، دمحمد ﷺ په ذریعه چې نړۍ کومه وحې ترلاسه کړه په هغه کې دفلکي اجسامو دګردش یادونه دهغو دعبادت له پاره نه ده شوې بلکې دخدای ﷻ دوجود دنښاني اودانسان دخدمت په توګه دهغه یادونه شوې ده ، ټولو مسلمانو قومونو په ډېر بریالیتوب سره دفلکیاتو مطالعه کړې ده په پېړیو پېړیو له دوی سره داعلم ؤ اواوس دزیاتو ستوریو عربي نومونه اواړوند الفاظ کارول کیږي ، داروپا

---

(۵۴) Rev.G. Margoliouth,s In Introduciion To The Koran - by J M - Rodwall. London. ۱۹۱۸

دمنځنیو پیړیو دفلکیاتو ماهرین دعربو شاګردان ؤ ، داراز قران دطبي علومو دزده کړې هڅونه هم کړې ده اوپه عمومي توګه یې دفطرت مطالعې اوپه هغه کې غور اوفکر ته لک متوجه کړی دی [۵۵].



(۵۵) Hartwig Hirschfeld. New Researches Into Composition And Exegeses of the Quran . aondon . ۱۹۰۲ p.۹

اتمه لوړینه

په دیني چارو کې له عقل نه کار اخیستل . په ځان اوڼړی کې دغور اوفکر هڅې

دعلم او تفکر په اړه دپخوانیو مذاهبو چلند

په اسماني مذاهبواوکتابونوکې مونږ ته داسې مذهب اوکتاب نه دی معلوم چې له عقل نه دکار اخیستلو اوله هغه نه دګټې پورته کولو ، غور ، فکر اوله تجربو نه دنتیجواخیستلو ،داسبابو اومسبباتواونتجایجو اومقدماتو نه د بصیرت اوعبرت اخیستلو ، دعوت یې ورکړی وي . اوپه خپل چاپیریال باندې دفکر اوغور کولو انساني وړتیا نه کارنه اخیستل ، له ځاني اوافاقي نښو نه مخ ګرځول ، دهیوادونو او قومونو دژوند له تېرو پېښو نه عبرت نه اخیستل ، اودفرد ، ټولنې اوحکومتي سطحې داعمالو او اخلاقو له پایلو نه دمخ ګرځولو په لړکې یې د قرانکریم په څېر کارترسره کړي وي .

دبصارت اوبصیرت بلنه

قرانکریم له ظاهري حواسو (چې سترګې زیات اهمیت پکې لري) نه په کار اخیستلو اوپه سمه توګه کارولو باندې ډېر ټینګار کړی دی څو انسان وکولای شي له بصارت نه بصیرت ته ورسیږي ددې لومړۍ مرحلې په اړه وایي :

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ أَفَلاَ يُبْصِرُونَ﴾ [السجده -۲۷] ژباړه : ایا دوی دې ته نه ګورې چې مونږ وچې اوشاړې ځمکې ته اوبو وررسوو بیا دهغو په ذریعه کروندې پیداکوو چې له هغو نه ددوی څاروي خوراک کوي اوپه خپله دوی هم نو ایا داخلک یې نه وینې ؟ لید او بصارت خورا ستر نعمت دی اودهدایت ذریعه دی خدای ﷻ دهغه چا بدې بیانوي چې له دې ستر نعمت نه ګټه نه اخلي :

﴿ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ اللّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ وَاللّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ۷۱ ﴾ [المائدة -۷۱]. ژباړه : نو هغوی ړانده اوکاڼه شول بیا خدای ﷻ دوی ته په رحمت سره توجه وکړه بیا هم ددوی زیات ړانده اوکاڼه شول اوخدای ﷻ ددوی کړنې ډېرې ښې وینې .

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلاَ تَتَفَكَّرُونَ ﴾ [االأنعام -۵۰].

ژباړه : ته ورته ووایه چې ایا ړانده اوبینا سره برابریدلی شي نو تاسو ولې فکر نه کوئ ! ؟

﴿ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالأَعْمَى وَالأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلاً أَفَلاَ تَذَكَّرُونَ ﴾ [هود - ۲۴].

ژباړه : ددواړو ډلو حالت دادی دی لکه د ړانده اوکانه ، اودیوه لیدونکي او اوربدونکي ایا ددې دواړو حالات سره برابر دي نو ایا تاسو نه پوهیږئ ؟

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ﴾ [الرعد - ۱۶].

ژباړه : ته ورته ووایه چې ایا ړوند اوبینا سره برابر دي یا دا چې رڼایي اوتیارې سره برابربدلی شي ؟

﴿ وَمَا يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ ۱۹ وَلاَ الظُّلُمَاتُ وَلاَ النُّورُ ۲۰ ﴾ [فاطر-۱۹-۲۰].

ژباړه: اونه ړوند اوبینا سره برابربدلی شي اونه تیارې اورڼا سره برابربدی شي .

دخدای ﷻ له نښو نه په مخ اړولو اوسترګو پټولو باندې دسخت تهدید په ترڅ کې وایي :

﴿ وَكَأَيِّن مِّن آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴾[یوسف -۱۰۵]. ژباړه : اوپه اسمانو اوځمکه کې څومره نښې دي چې په هغو باندې داخلک تیرېږي اوله هغو نه وربور کېږی . او مخ ځینې اړوي . او سترګورو ته غیرت ورولي وایي

﴿ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الأَبْصَارِ ﴾ [الحشر -۲].

ژباړه : نوای سترګورو ! عبرت ترلاسه کړئ !

له عقل نه دکاراخېستلو اودعقلمندودغیرت دپارونې له پاره د " تعقلون" توری په قرانکریم کې څو څو ځایه راغلی دی تردې پورې چې په

کومو آیتونو کې د " لعلکم تعقلون" ، افلاتعقلون" او " ان کنتم تعقلون " جملې کارول شوې دي دهغو آیتونو شمېر دروېشتو ته رسیږي . دبېلګې له پاره څو آیتونه دلته را اخلو : ﴿ کذلک یبیّن الله لکم ے یاته لعلّکم تعقلون ﴾ [البقره - ۲۴۲] .

داراز په ښکاره توګه تاسو ته خدای ﷻ خپل ایتونه بیانوي ددې له پاره چې تاسو پوه شئ . ﴿ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾[آل عمران - ۱۱۸] .

مونږ تاسوته په ښکاره توګه نښانې بیان کړي دي که چېرته تاسو له عقل نه کارواخلئ . ﴿ وَلَلدَّارُ الآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ﴾ [ال عمران -۱۶۹] .

: دآخرت کور دهغو خلکو له پاره دی چې تقوا ولري نوایا تاسو له عقل نه کارنه اخلئ ! ؟

﴿ لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ۱۰ ﴾[الانبیاء - ۱۰] .

بېشکه چې مونږ تاسوته داسې کتاب نازل کړی دی چې په هغه کې ستاسوله پاره نصیحت پروت دی بیا هم تاسو نه پوهیږئ ! ؟

﴿ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ۱۳۷ وَبِاللَّيْلِ ﴾ [الصّافات - ۱۳۷-۱۳۸] .

: تاسو په هغوی باندې سهار او ماښام تیریږئ نو ایا تاسو بیاهم دوی له عقل نه کارنه اخلي ؟

دجهنم خلکو چې له عقل نه کار نه دی اخېستی دهغو یادونه کوي اووایي :

﴿ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴾ [الملک - ۱۰] .

: اوهغوی به (داهم) وواي چې که چېرته مونږ اورېدلی یا مو له عقل نه کاراخېستلای وای نومونږ به له دوزخیانو نه کیدو .

دا راز د" یعقلون " توری دستاینې او بشارت په ځایونو کې له شل ځله زیات راغلی دی . قرانکریم دفکر کولو بلنه ورکړې ده ، دفکر کولوو ستاینه یې کړې اودبې فکره خلکو بدي یې بیان کړې اوپه قرانکریم کې داتوری یولس ځایه راغلی دی لکه خدای ﷻ چې فرمایي :

﴿ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾[آل عمران - ۱۹۱].:

دوی هغه دي چې خدای ﷻ په ولاړو ، په ناستو ، په څنګ دپروتې په حالت کې یادوي اوداسمانونو اوځمکې په خلقت اوپیدابښت کې فکر او غور کوي .

﴿ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ [الأعراف - ۱۷۶] .:

نوداحالات اوکېسې ته بیان کړه کیدای شي چې دوی غوراوفکروکړي .

﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ [الرعد -۳] :

بې شکه چې په دې کې دهغه قوم له پاره نښانې موجودي دي چې له غور او فکرنه کار اخلي .دهمدې غور اوفکر په برکت سره مومنان اوعارفین دې ستر حقیقت ته رسیدلي دي چې دهغه په اړه قرانکریم ددوی په ژبه سره وایي :

﴿ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا ﴾ [آ ل عمران -۱۹۱] :

ای زمونږ ربه ! دا هرڅه تابې ګټې نه دي پیداکړي .

دفکرددعوت اغېز اوپايله

ددې په نتيجه کې هغه فکري هڅې رامنځته شوې چې علوم اوضائع او بشري تمدن يې اغېزمن کړل او اغېزې يې په ګرده نړۍ کې خپرې شوې ګواکې داسې پراخه درڅه اوکړکۍ پرانستل شوه چې له هغه نه رڼايي اوتازه هوا راغله اواسلام ګواکې هغه قلف مات ياپرانست چې دازادی اوسليم فکر دښمنانو اودپخوانيو مذاهبو غلطو استازيو انساني عقل ته ور اچولی ؤ اونړی له هغه ژور خوب نه راپاڅېده چې په زرهاوو کاله پرته وه ، له دې خوب نه يې سترګې خلاصې شوې دخپل واک شوي پرمختګ دبياترلاسه کولو اودلارې له خنډونو نه دځان ژغورلو له پاره يې په تيزي سره مخته ګامونه واخېستل ددې نړيوال اغېز او متنوع تحريک په اړه يو ستر فرانسوي عالم " Jalivet Castelot په خپل کتاب " دتاريخ قانون " کې ليکي :

دمحمد ﷺ له وفات نه وروسته عربو ډېره تېزه ترقي وکړه اوداسلام دخپرولو له پاره يې وخت هم ډېر ښه برابرؤ له دې سره اسلامي تهذيب هم خورا حيرانوونکی پرمختګ وکړ اودسوبو اوفتوحاتو په ترڅ کې هغه هرځای خپور شو اوپه علومو ، فنونو ، شعر او ادب کې دهغه اغېزې راښکاره شوې اود اراز ترڅو پېړيو پورې عربو د عقل مشال په لاسونو کې نيولی ؤ اودهغو ټولو علومواستازيتوب يې وکړ چې له فلسفې ، فلکياتو ، کيميا ، طب او روحاني علومو سره يې تړاو درلود .

دراز هغوی يواځې په عرفي معنی فکري مخکښان اومخترعين نه وو بلکې دخپلو علمي خدمتونو په نتيجه کې چې په ډېره لوړ دماغی سره هغوی سرته رسولي وو دوی ددې په سمه توګه مستحق وو ، دعربي تمدن

عمر کم ؤ خو اغبز ي يې خورا اوږدمهاله وې او مونږ يې په زوال باندې تاسف کوو .

وړاندې ليکي : که څه هم واکمنو پانګوال ذهن درلود خو ددوی په ذريعه چې کوم کارترسره شو هغه ددوی له شخصيت نه ډېرلوړ ؤ . ددوی په نتيجه کې يوحيرانوونکی تهذيب رامنځته شو . اروپا دعربي تمدن پوروړې ده کله چې هغه له لسمې پيړۍ نه ترڅوارلسمې پيړۍ پورې غالب او واکمن ؤ اروپا هغه نه په فلسفه اوعلمي فکر کې استفاده وکړه اوکوم چې په منځنيو پيړيوکې پټې اغيزې شيندلې وې . مونږ دهغه عربي تمدن ، عربي علومو ، عربي ادب اوفن په مخکې جهال اوناپوه ليدل کيږو . هغوی له هغې روغې فضانه مستفيد شول چې په هغه زمانه کې دعربي افکارو په ذريعه رامنځته شوي وه ، په دې څلورو پيړيوکې له عربي تمدن نه پرته بل هيڅ تمدن نه ؤ او ددې تهذيب توغ دعربو علماوو پورته کړی و (۵۶)

موسيوليبون Gustave Lebon ليکي : خلک تجربه اومطالعه او استعرابي منطق Inductive Logic چې دنوي علم داساس حيثيت لري بيکن Francis bacon ته منسوب کوي خو اوس دا اعتراف کول ضروري دي چې داطريقه په مکمله توګه دعربو ايجاد دی .

بريفالت Robert Briffault په خپل کتاب The Making of Humanity کې ليکي : داروپا دپرمختګ هيڅ داسې اړخ نه ليدل کيږي چې په هغه دې اسلامي تمدن احسان نه وي کړی اويادهغه د څرګندو اغيزو تاپه نه وي پرې لګېدلې . دی مخکې ليکي : يواځې طبعي علوم چې په هغو کې دعربو احسان منل شوی دی . په اروپا کې دژوند

(۵۶) الإسلام والحضارة العربية للاستاذ محمد کرد علي دويم ټوک مخونه ۵۴۳-۵۴۴

پیداکولو دمه په غاړه نه لري بلکې اسلامي تمدن داروپا په ژوند بندې خورا زیات ، هراړخیز اومختلف النوع اغیزې کړې دي . اودده پیل له هغه وخت نه کیږي کله چې داسلامي تهذیب اوتمدن لومړنی ځلاوې اروپاته رابښکاره شوې [۵۷]



(۵۷) The Making of Humanity .P.۲۰۲

نهمه لوړينه

دداسې لارښود امت پيداکول چې دانفرادي اوټولنيزو اخلاقو نګراني وکړای شي

يوه مثالي لارښود امت ته اړتيا

دکومو خبرو چې اوږ انساني تاريخ ، ارواپوهنې اوعلم الاخلاق پوره تائيد کړی دی په هغوی‌کې يوه خبره داهم ده چې لوړې موخې ، ښايسته تعليمات اودعمل لوړې نمونې ترهغه وخته پورې نشي رامنځته کيدلی اوکه رامنځته هم شي نو دائم اوپاتې کيدلی نشي څو چې د هغو ترشا يوانساني ټولی بلکې په سمو الفاظو يوداسې امت نه وي چې ددې دعوت اوتحريک علمبرداروي اوپه دې لاره کې هاند اوهڅې کوونکی اوعالي نمونه وي .

له دې کبله مونږ وينو چې دځينې انبياوو (عليهم السلام) (څه معنی خو مصلحين يا داخلاقو ښوونکي) تعليمات هم له دې امله ډېره موده پاتې نه شول چې دهغو ترشا کوم امت نه وُ چې د هغو دپيغام مسوليت يې په غاړه اخېستی وای . په هغه لاره کې يې قرباني ورکړی وای . اودخپل ژوند ، تمدن . حکومت اوټولنې په ذريعه يې دهغه عملي نمونه وړاندې کړې وای . پ بله يې داشوه چې کومو سيموته چې دوی لېږل شوي وو ، دهغه

ځای قومونه اوقبائل دهغو رمو په ځېر شول چې شپون يې نهوي اوخپل سري شي

منتخب اومسؤل امت

کله چې خدای ﷻ داپرېکړه وکړه چې محمد ﷺ به اخري رسول او خاتم النبيين وي اوله ده وروسته به نه بل نبي راځي اونه به کوم کتاب نازليږي ، نو دا راز خدای ﷻ انسانيت له دې خطرې نه وساته اوله محمد ﷺ سره يې يوپوره امت هم مبعوث کړ . ګواکې محمدي بعثت دوه ګونی بعثت ؤ چې دنبي بعثت دامت له بعثت سره يوځای ؤ نو خدای ﷻ ددې امت داسې تعريف کړی دی ، لکه له نبوت نه پرته چې دکوم مبعوث اومسؤل کيدلای شي :

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴾ [آل عمران -۱۱۰]. ژباړه : تاسو بهترين اوغوره ټولی ياست چې دخلکو له پاره پيداکړل شوي ياست تاسوبه خلک له بدونه منعه کوئ اوښوته به يې رابولئ اوپه خدای ﷻ به ايمان راوړئ .

﴿ وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ﴾ [البقره -۱۴۳] : اودارازمونږ تاسو يو نياومت امت ګرځولی ياست ځوتاسو په خلکو باندې ګواه اوسئ اورسول به ګواه وي په تاسوباندې .

په حديث شريف کې هم دادول الفاظ راغلي دي چې رسول الله ﷺ دصحابه کرامو يوې ډلې ته وويل " إنما بعثتم ميسّرين ولم تبعثوا معسّرين "

[صحيح بخاري] تاسو ددې له پاره ليږل شوي ياست چې اسانتيا پيدا کړئ ددې له پاره نه چې په خلکو تنګي راولئ.

دبعثت اودعوت مسؤليت اودهغه شعور په صحابه کرامو اوتابعنو کې په پراخه پيمانه پروت وٌ اوهروخت به دخپل مسؤليت احساس ورسره وٌ. حضرت سعدبن ابي وقاص ﷺ حضرت ربعي بن عامر ﷺدخپل سفير په توګه دايران سترجګړه مار رستم ته ورولیږه رستم له ده نه پوښتنه وکړه چې ستاسودلته راتګ موخه څه ده ؟ نو ده دا داعيانه ځواب ورکړ :

" الله أبتعثنا لنخرج من شاء من عبادة العباد إلى عبادة الله وحده ومن ضيق الدنيا إلى سعتها ومن جور الأيان إلى عدل الإسلام " [البداية والنهاية –۷–۳۹] .

خدای مونږ ددې له پاره راليږلي يو چې مونږ هغه څوک چې غواړي دبندګانو له بندګي نه راوباسو اوديوه خدای بندګي ته يې تيارکړو اوددنيا له تنګي نه يې د هغې پراخوالي ته اودمذاهبو له ظلم نه يې داسلام دعدل سيوري ته راولو .

يوه مثبت اوښتون ته دټولنې اوتمدن اړتيا

دې نظر دانسانيت آئنده خورا اغېزمنه کړه اود خلکو له پاره دمذاهبو . تحريکاتو . اوتمايلاتو په تاريخ کې ديوې نوې تجربې حيثيت درلود چې په تاريخ کې يې يو اوښتون رامنځته کړ ځکه چې دشپږمې مسيحي پيړۍ نړيوال حالت داسې نه وٌ چې په هغه دې څو نيک کسان اغېز وکړي لکه قران مجيد چې دخدای دغضب دښکارشويو يهودو په منځ کې هم ديو څو نيکو انسانانو يادونه کړې ده :

﴿ لَيْسُوا سواء مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ۱۱۳ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُوْلَـئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ ۱۱۴ ﴾ [آل عمران ۱۱۳-۱۱۴] . ژباړه : ټول اهل کتاب يوډول نه دي په دوی کې يې يوه ډله قائمه ده دشپې په وخت کې دخدای آيتونه تلاوت کوي اوسجدې کوي په خدای ﷻ اودقيامت په ورځ ايمان لري په ښو امرکوي او له بدونه منعه کوي اودښو کارونو په لور ځغلي داخلک له نيکو خلکو نه دي .

خودې ښو افرادو په انساني ټولنه او انساني کړنو باندې څه اغيز نه درلود ځکه هغوی يواځې څو کسان وو اوقومونه دڅو افرادو پروانه ساتي . لکه په هرځای او هر وخت کې داسې نيک خلک وي او اوس هم شته و چې په اعمالو . اخلاقو و اوعباداتو کې په خلکو کې ممتاز حيثيت لري ، خو کومه خلاء چې دقومو ، نسلونو ، تمدن اوټولنې په سطحه وي هغه ترهغه وخته پورې نشي پوره کيدلی څو هغه خير اوصلاح اوعملي نمونه هم دامت اوانساني ټولنې په سطحه نهيو چې هغه لوړنبوي تعليمات ، غوره اصول اواخلاق ، مثالي انفرادي اوټولنيزې کړنې . حکومت اوسياست ،تجارت اوجګړه ، نيستي اوبډايي ، دادول نيک خويونه هروخت اوپه هرحالت کې ولري او ددې ډلې او امت عامه نښه اوځانګړی حصوصيت وګرځي . صحابه کرام اوهغه مبارک خلک چې په ښوونځي کې يې روزنه شوې وه . اودياماں اوقران مدرسه کې تربيه شوي وو . ددې پورتنيو اوځانګړتيوو څښتنان وو.

يوه نياومن اودنړيوال تاريخ ماهر لويديځ وال پوه اونوماند عالم ددې ډلې خورا په زړه پورې انځورکښلی دی اوددوی څرګندو اوګډو ځانګړتياوو ته يې نغوته کړې ده . چې دنبوت تازه بڼ اودپسرلي موسم

ورته ویل مناسب دي اوپه دې ارزي هم : جرمني عالم کانتاني Caetani په خپل کتاب (سنین اسلام) کې لیکي : داخلک درسول الله ﷺ داخلاقي میراث رښتونی استازي . په آئینده کې داسلام مبلغین وؤ او محمد ﷺ چې غوښتل نورو خلکوته دده تعلیمات ورسول شي هغه یې په ښه توګه ورسول . له رسول ﷺ سره پرلپسې نږدې بوالی اودهغه مینې داخلک دفکر اوجذباتو داسې نړۍ ته ورسول چې له هغه نه لوړ اومتمدن چاپیریال هیچانه وؤ لیدلی . په حقیقت کې په دې خلکو کې له هره پلوه خورا زیات تغیر راغلی وؤ او دوروستنیو جګړو په مشکلو حالاتو کې دوی ددې خبرې شهادت وړاندې کړ چې رسول الله ﷺ دافکارو تخم په کومه ځمکه کې شیندلی وؤ هغه حاصل خیزه ځمکه وه . چې دخورا ښو وړتیاوو انسانان پکې پیدا شول داخلک دسپیڅلو صحیفو امین اوساتونکي وواودرسول الله کوم لفظ یاحکم چې ورته رسیدلی وؤ دهغه یې ډېره ښه ساتنه وکړه. داداسلام هغه داحترام وړ مخکښان وو چې مسلماني ټولنې ته یې لومړی فقهاء ، علماء اومحدثین ورکړل (۵۸).

دکائناتو احتساب

مسلمان امت ته دنړیوالې نګرانۍ . اخلاقو ، اوتمایلاتو ، دانفرادي اوبین المللي کړنو احتساب ، دانصاف پلي کولو ، دحق شاهدي ، په ښو امرکولو اوله بدو منعه کولو ؛ مسوئلیتونه ورپه غاړه دي اودقیامت په ورځ به ددې مسوئلیتونو دترسره کولو پوښتنه ورنه کیږي اودوی به ځواب ورکوي : ﴿ يا أَيُّها الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ

---

(۵۸) T.W.Arnold: Preaching of Islam London ۱۹۲۵.P.۴۱-۴۲ له Ceantani Annali, Islam. Vol- ۱۱-P.۴۲۹ نه اخېستل شوې

قوْمٍ عَلى ألاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أقْرَبُ لِلتَّقْوى واتَّقُواْ اللّهَ إنَّ اللّهَ خبيرٌ بما تعْمَلُونَ ﴾ [المائدة -۸]: اى ايمان والو ! دخداى ﷻ له پاره پوره پابندي كوونكي اوپه عدل سره شهادت وركوونكي اوسئ اودكومې ډلې دښمني دې تاسو دې ته تيارنه كړي چې تاسو له هغوى سره انصاف ونه كړئ انصاف كوئ چې داتقوا ته ډېر نږدې دى اوله خداى ﷻ نه ويريږئ. بيشكه خداى ﷻ په دې پوره خبر دى چې تاسو څه كوئ !.

داامت يې دې ته هڅولى څو دخپلو دندو په ترسره كولو كې ناغيږي ونه كړي دكومو په نتيجه كې چې انسانيت له ستونزو سره مخ كيږي اودځمكې په مخ فتنه او فساد او انارشيزم خپريږي نو داكوچنى انساني ټولى چې په مدينه كې يې ژوند كاوه اوله څو سوو زيات نه وو مخاطب كوي ، اودهمدې دعوت اوعقيدې په اساس داسلامي ورولى دټينګولو ټينګار ورته كوي اوفرمايي : ﴿ إلّا تفعلوه تكن فتنةٌ في الأرض وفساد كبير ﴾ [الأنفال = ۷۳]. كه چېرته داونه كړئ نو په ځمكه كې به لويه فتنه اولوى فساد خپور شي.

نو ايا دنن ورځې مسلمان امت ددې مخاطب نه دى چې كرده نړۍ پرې آباده ده چې لوى لوى حكومتونه او وګړوال ځواك لري ؟ كله چې دوى دمشرتابه اودعوت منصب اومقام خالي پريږدي اوله خپل ټولنيز مسؤليت نه مخ واړوي نو په نړۍ باندې به ددې ستر كوتاهي اوخطرناكې تېروتنې څومره بدې اغېزې لويږي ؟!!

قرآن دې امت ته خپل بلنيز اودمشرتابه مقام ورپه يادكوي داصلاح ذمه واري . دامر بالمعروف اونهي عن المنكر مسؤليت حواله په تېرو قومونو باندې وركوي اوددوى شعور او احساس پاروي او ورته وايي : ﴿ فلوْلا كانَ منَ الْقُرُون من قبْلكُمْ أُوْلُواْ بقيَّةٍ ينْهوْنَ عن الْفساد في الأرْض إلاَّ قليلا

مَمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا أُتْرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجْرِمِينَ ﴾ [هود -۱۱۶]
: نو کاش چې ستاسې په مخکنيو امتونوکې داسې دشعورخاوندان خلک وای چې په ځمکه کې له فساد نه يې خلک منعه کولی پرته له څه لږ خلکو نه چې مونږ هغوی ته نجات ورکړی وُ اوهغه خلک چې په ځانونو يې ظلم کړی وُ . په هغه چاپسې شول . چې په ناز اونعمت کې وو او هغوی مجرمان وو .

ستر شاعر ډاکټر محمد اقبال داحقيقت په خپل هغه شعرکې چې د (ابليس کې مجلس شورا) ترعنوان لاندې دی په ډېره ښه توګه وړاندې کړی دی دمجلس دمشرابليس په ژبه يې داخطره په ګوته کړې ده چې دمسلمانانو له وجود . دهغوی له بيدارې اودهغوی له نړيوال مسؤليت نه ابليسي نظام ورسره مخ دی ابليس خپلو مشاورينو ته وايي :

تو ڈالين جس کے تکبيرين طلسم شش جهات
هو زر روشن اس خدا نديش تاريک رات
تم اسے بيگانه رکهو عالم کردار سے
تابساط زندگے پراسکے سب مهرے هون مات
خير اسے مين هے قيامت تک رهے مومن غلام
جهوڑ کر اورون کے خاطر يه جهان بے ثبات
هے وهي شعوروتصوف اس کے حق مين خوب تر
جو چپها دے اس کے انکهون سے تماشاے حيات
هر نفس ڈر تاهون اس امت کے بيدارے سے مين
هے حقيقت جس کے دين کے احتساب کائنات(۶۰)

ژباړه : دچا تکبرونو چې دشپږو اړخونو طلسم توټه کړ دهغه خدای پرسته انسان تیاره شپه هم رناوه . تاسو دوی دنړۍ له کردارنه بیګانه اوجلاوساتئ خو دژوند پرغولي باندې ددوی ټول مُهرونه مات شي . خیر په دې کې دی چې مومن ترقیامته پورې غلام پاتې شي . دابې ثباته جهان دنورو له پاره پریږدئ ! . هغه شعر اوهغه تصوف دده له پاره ډېرښه اوغوره دی چې دژوند تماشه دده له سترګو نه پټه وساتي . هره ګړۍ دهغه امت له بیداري او وېښتیانه زه ویریږم دچاددین حقیقت چې دکائناتو احتساب دی .

دامت پرلپسې مسؤلیتونه

له دې نظر سره داخبره لازمي ده چې په انساني تمدن کې به تاثیري عمل جاري وي . اوپه ځنډ سره به ددې له نوي سره جائزه اخېستل کیږي . اوله تخریبي اوشرخوښونکو عناصرواوفاسدو تمایلاتو نه به یې ساتنه کیږي .په ځانګړې توګه ددې دوه لاملونه وي : یوداچې دنړۍ قومونه به داصلاح اوفساد دنویو اومتضادو عناصرو تابع کیږي اوله هغه نه به اغېزمن کیږي .

ژوند خو تل روان دی اودژوند کاروان یوځای اوهیڅکله دریږي نه. له دې کبله په کمه کمه وقفه کې به ددې تګلوري کتل کیږي اوددې نوې اړتیاوې پوره کول لازمي دي دتاسف ځای دی چې په دې آخر وخت کې مسلمان ملت دتخریبي اوفسدو تحریکونو اوفلسفو تراغیز لاندې راغلی اودنړیوال قیادت له ډګر نه ګوښه شوی اوپه خپل ځان بوخت دی .

دویم لامل دادی چې مسلمان امت داخري اسماني پیغام لرونکی تل په امت اودانسانیت دهیلو مرکز دی بناء دا امت باید خپل پیغام له سپني سره ولګوي اودانسانیت دکاروان مشرتوب په لاس کې واخلي په عقایدو، اخلاقو ، اوانفرادي اوبین المللي تعلقاتو باندې نظر ولري ځکه چې قومونو یواځې په خپل تاریخ ، تیرشوي عظمت، اوپخوانیو بریالیتوبونو سره ژوندی نه شي پاتې کیدای ، بلکې هله به ژوندی پاتې کیږي چې پرلپسې هڅې ، دمسؤلیت احساس ، هروخت دقربانۍ له پاره تیار، اوخپل تازه دم اونوی ځواک اوصلاحیت په کارواچوي کله چې خپل منصب اومقام پریږدي او دعافیت ګوښه غوره کړي نودتاریخ دزاړه دفتر یوه برخه وګرځي اوزمانه یې دهیرې په تاک کې کیږدي ، نو ځکه محمدي امت ته ضروري ده چې له نوي سره خپل دعوتي ، تهذیبي ، اودقیادت سفر پیل کړي .

لسمه لوړنه

نړیوال اعتقادي اوتهذیبي یووالی

نړیوال اعتقادي اوتهذیبي یووالی

هغه نړیوال وحدت چې دهغه دپراخوالي ، ژوروالي اوښه والي ساری تاریخ په ټولننو اوانساني تهذیبونوکې نه دی لیدلی ، هغه وحدت دعقیدې په اساس ولاړ ؤ او اوس هم قائم دی اوهغه عقیده ، توحید - محمدي نبوت ، ختم نبوت اوپه آخرت ایمان لرل ؤ ، چې په هغه کې په ښکاره دکائناتو اوالهي قدرت دمشاهدې اوتوحید یووالی ښکاریږي اوداشیاوو ماهیت ، دهغو ارزښت ، په خدای ﷻ ایمان ، دپیدایښت مقصد ، دژوند بې ثباتي ، اوپه هغو اقدارو له یقین نه متعین کیږي چې اسلام رامنځتنه کړی دی اودپیغمبر ﷺ پیروي، دصحابه کرامو ژوند ، اودلومړی پیړۍ مسلمانانو له خپل وس سره سم وړاندی کړی ؤ .

یواځې دزمانې ، چاپیریال تربیت اوخارجي اغېزو په توپیر سره . خو هغه وحدت په ټولو اسلامي ټولنوکې اوداسلام له راځرګندېدو وروسته په ټولو زمانوکې دقدر مشترک په حیث پاتې شوی اودیوه مذهب دپیروانو اویوه امت په منځ کې له ټولو مشترکو عناصرو ommon Factors ، نه زیات څرګندوالی . ځانګړتیااو ژوروالی لري .

له دې وروسته داسلام تهذيبي يووالی دی چې ترډېره حده په شرعي احکامو اواخلاقي ښوونو باندې ولاړ دی که څه هم په معيارونو اوپه هغو دعمل په نوعيت کې يوڅه اختلاف وي . له هغه اختلاف نه خلاصون نشته چې داسلام راوړونکو قومونو، هيوادونو ، زمانو اوحکومتونو د اختلاف په نتيجه کې رامنځته شوي وي . خوبيا هم داتهذيب داسلام ځانګړې ټاپه اوبېل چاپ لري . اوپه عقيده کې يووالی لري . په ټولنيزو چارو کې اانسانيت ته احترام لري . دنورو تهذيبونو په پرتله مساوات ، اخلاق . په کړو وړو کې دخدای ﷻ نه وېره ، حيا اوتواضع زياته لري ، داراز دنورو معاصرو مادي تهذيبونو په پرتله په دوی کې ډېر ممتاز صفات شته لکه دعمل په ډګر کې دآخرت له پاره هڅې . دخدای له پاره جهاد ، دجګړې په ډګر کې مېړانه اوشفقت ، اوپه انفرادي کورني ژوند کې پاکوالی، دوی په هرشي کې دنظافت اوپاکوالي ډېر خيال ساتي آن چې دڅارويواومرغانودپاکولو له پاره دحلالولو اوذبحې بېله طريقه لري .

دوحدت او يووالي ځانګړې نښې

مسلمانان که څه هم په مختلفو هيوادونوکې اوسي يوله بله سره لري وي ژبني اوتهذيبي اختلافات هم لري خو نومونه يې سره نږدې اوله نورو قومونو نه بيل وي زيات نومونه يې دعربي ژبې وي اويايې دانبياوو ، صحابه کرامو ، اهل بيت اونيکو سلفو نومونه په ځانونو اېښي وي . ددوی نه نومونو نه هم دتوحيد عقيده ، دخدای حمد اوعبديت څرګندېږي . دعقيدې او محبت دڅرګندولو له پاره د " محمد اواحمد " نومونه زښت زيات ليدل کيږي .

دملاقات اويوه بل سره دمخامخ کېدو لوپه مهال " السلام عليکم " ويل هم زيات رواج دی . اوډېر قرآني الفاظ او آيتونه په مختلفو خايونو اودبېلو اړتياوو له پاره دمسلمانانو په ژبو باندې وي لکه : الحمدلله ، ماشاء الله ، إنشاء الله ، إنا لله وإنا إليه راجعون ، لاحول ولاقوة إلا بالله . دادينې اوتهذيبي يووالي ، فرائض اوواجبات ، شعائر اونور .. دغونډو او کډو تاستو په وخت ډېر ښکاره کيږي . لکه پنځه وخته لمونځ په خپل وخت کې دمختلفو هيوادونو له وختونو سره سم معلوم رکعتونه زيات به جوماتونو کې اداکول کيږي . اوپه دې کې هر مسلمان ، دهرځای اوسيدونکی اودهرې ژبې ويونکی برخه اخلي

اوپرته له څه لارښوونې دلمونځ کوونکو په غوښتنه دلمانځه امامت هم کولای شي . قرآنکريم هغه يواځينی اسماني کتاب دی چې په ټولو هيوادونواو مختلفو زمانوکې په تجويد اوترتيل سره لوستل کيږي او حفظ کول کيږي [۶۱] داراز په ټولو جوماتونوکې په يو ډول آذان ترسره کيږي [۶۲]

---

(۶۱) دبرتانيکا په دائرة المعارف کې د "محمد" دتوري لاندې ليکي . دځمکې په مخ ترټولو زيات لوستونکی کتاب قرانکريم دی

(۶۲) دآذان په اړه داکوچنی ، خو په زړه پورې مضمون لوستونکو ته وړاندې کوم چې : دکندهارله دوه مياشتنی مجلې نه رااخيستل شوی : هغه غږ چې هروخت په نړۍ کې ازانګه کوي هغه آذان دی که چېرې تاسو دنړۍ نقشه وګورئ نو درته څرګنده به شي چې په اسلامي هيوادونوکې اندونيزيا دځمکې په ختيځ کې پرته ده داهيواد له زرهاوو ټاپو وزمو نه جوړ دی چې په هغوی کې جاوا ، بورينو ، سيلبذا او سماترا لويې ټاپووزمې دي داسلامي هيوادونو سهار دسيلبزله ختيځو ټاپووزمو نه پيل کيږي ، هوري چې دسهار پنځه نيمې بجې وي په افغانستان کې دشپې يوه بجه کيدونکې وي له سپيده داغ سره سم داندونيزيا په ختيځو ټاپووزموکې دسهارآذانونه پيل شي اوپه يوه وخت په زرګونو موذنان دلوی څښتن تعالی دوحدانيت او اودسپېڅلي پيغمبر درسالت =

= داعلان غږونه پورته کړي دالړي له ختیخو ټاپووزمو څخه دلویدیخیو ټاپووزمو په لور ستنیږي چې نیم ساعت وروسته په جاکارتا کې دموذنانو د آذان کولو وار راځي دجاکارتا څخه دالړي په سمارتا کې پیل کیږي خودسماترا په لویدیخو کلیو اوباندوکې دآذان له پیل کېدونه وړاندې دملایا په جوماتونوکې آذانونه پیل کیږي . له ملایا وروسته دبرما وار راځي له جاکارتا نه چې دآذانونو کومه لړۍ پیل شوي وي هغه یو ساعت وروسته بنګله دیش ته رارسیږي .په بنګله دیش کې آذانونه پای ته لانه وي رسیدلي چې له کلکتې نه تر سرېلانکاپورې دآذانونو لړۍ پیل شي بل لورته دالړي له کلکتې څخه دبمبئ په لور اوړدیږي چې دټول هندوستان په فضاکې دتوحید اورسالت اعلانونه روان وي په سرینګراوشالکوټ کې دسهار داذانونو وخت وي له شالکوټ نه ترکوټې ، کراچی اوګوادر پورې دځلوېښتو دقیقو توپیر دی چې په دې وخت کې په پاکستان کې دسهار آذانونه اوچتیږي په پاکستان کې دآذانونو دلړۍ له پای ته رسیدو محکې په افغانستان او مشهد کې اذانونه پیل شي بیا له افغانستان نه تربغداد پورې یوساعت توپیر دی چې په دې مهال کې په سعودي عرب ، یمن ، عرب متحده امارات ، اوکویټ کې آذانونه اوریدل کیږي له بغداد نه تر اسکندریې پورې بیا یوساعت توپیر لري چې په دې وخت کې په شام، مصر ، صومالیه ، اوسوډان کې اذانونه کیږي .
اسکندریه او استنبول په یوه لیکه کې په ترکیه کې اذانونه پیل وي له اسکندریې نه تر طرابلس پورې دیوه ساعت څنډ دی چې په دې څنډ کې په شمالي افریقاکې په لیبیا اوتیونس کې دآذانونو لړۍ روانه وي . دسهار آذان چې داندونیزیا له ختیخو ټاپووزمو نه یې پیل کیږي نهه نیم ساعته وروسته دبحراقیانوس ختیخو څنډو ته رسیږي ، حـ ـیانوس ته چې دسهار داذان وخت نه وي رسیدلی په ختیخو اندونیزیاکې بیا دماسپښین دآذانونو لړۍ پیل شي خوپه ډهاکه کې دماسپښین تر اذان وړاندې بیا په ختیخه اندونیزیاکې دمازدیګر آذان دهوا څپې څپروي . دالړي په یونیم ساعت کې جاکارتا ته رسیږي چې په ختیخو ټاپووزموکې دماښام دآذان وخت کیږي دماښام آذانونه چې له سیلبنز څخه ترسماترا پورې رسیږي نو په دې کې داندونیزیا په ختیخو ټاپووزموکې دماخستن دآذانو لړۍ پیل شي په دې وخت کې په افریقا کې دسهار دآذان لپاره دموذن ګوتې په غوږونوکې وي . تاسو لږ خبر شئ چې دځمکې په کره باندې یوه ثانیه هم داسې نه تیریږي چې په هغه کې دې په سلګونوک اورزګونو موذنان دلوی څښتن تعالی دتوحید اودحضرت محمد ﷺ درسالت اعلان نه کوي

درمضان میاشت په ټوله اسلامي نړۍ کې دموسمونو له اختلاف سره دروژو میاشت ده . مسلمانان دوه اخترونه کوچنی او لوی اختر نمانځي اودخدای ﷻ دشکرانې دوه رکعته لمونځ اداکوي ، اوله دې وروسته په خطبه کې هر ډول فرقې اودرتبو واله په یوه ډول برخه اخلي ، داراز دحج له پاره ټول خلک له لرې لرې سیمو نه دمکې معظمې په لورې راځي اوداهرڅه داسلام په اوږده تاریخ کې پرته له څه پرېکون ، سیاسي انقلابونو ، ټولنیزو اواقتصادي تغیراتو سره سره سرته رسول کیږي ، دادداسې یووالي نمونه ده چې په قومونو ، ملتونو اومختلفو ټولنو کې یې ساری نه لېدل کیږي .

دلویدیځوالو پوهانو ویناوې

داځانګړی یووالي ګڼ شمېر لویدیځ والو پوهانو ، مفکرینو اولیکوالانو احساس کړی دی اودهغه ستاینه یې کړې ده ، مونږ دلته یواځې دڅو یې ویناوې رااخلو : " هملتن ګب " لیکي : اسلام یو تصور دی چې دیوه مربوط خومختلفو سیاسي ، ټولنیزو او مذهبي اجتماعیات په شکل کې څرګندشوی دی ، په مختلفو سیمو اوزمانوکې له ځایي ، جغرافیایي ، ټولنیزو اوسیاسي خواکونو نه اغېزمن شوی اوګڼ شمېر ځانګړتیاوې پکې ښکاره شوې دي ، دبېلګې په توګه دشمال لویدیځې افریقا اودمنځنیو

= او انشاء الله لوی ځښتن تعالی به دالړی دقیامت ترورځې پورې همداسې روانه وساتي اوپه قرانکریم کې چې لوی ځښتن محمد ﷺ ته ویلي دي چې " ورفعنا لک ذکرک" ستایاد مو لوړ کړی دی ، نو دهغه آیت مفهوم هم له دې پورته مضمون نه ښه څرګندیږي . ژباړن

پيړيو دهسپانيه دلويديځې اسيا داسلام له مرکز سره ژورې اړيکې وې ددوی تهذيب دهمدې مرکزي تهذيب يوه برخه ده .

خو هغه څه ځانګړتياوې لرلې چې هغو په لوديځه اسيا هم اغيز وکړ ، بل لورته لويې او په ځان پوره سيمې لکه دهند وچه ، اندونيشيا اودجنوبي روس له سارايي علاقونه دچين له پولو پورې متوازي عواملو دارازا ځانګړتياوې پيداکړي ، خودې ټولو اوهريوه په اساني سره دپيژندنې وړ اسلامي رنګ په خپل حال ساتلی درلود[1] .

" ولفرد کانټويل سميت" ليکي : دمسلمانانو برياليتوب دهغوی دمذهب په داخلي برياليتوب کې نغښتی دی هغوی يواځې دجګړې دډګر فاتحان نه دي اوهغوی دژوند په مختلفو ځانګواغېز نه دی کړی بلکې مقابلتاً په لنډه موده کې هغوی ژوند ته په يوه داسې مجموعي شکل ورکولوکې برياليتوب ترلاسه کړ چې هغه ته تمدن وايي ، داسلامي تهذيب په تشکيل کې ګڼ شمېر عواملو لکه دعربو ، يونان اومنځني ختيځ سامي تهذيب ، دايران ساساني ، اوهندوستاني عناصرو برخه اخېستې ده . دمسلمانانو کارنامه داوه چې دوی داټول عناصر په يو ډول ژوند دود کې سره يو کړل . اونوره ترقي يې هم ورکړه ، دا اسلام وُ چې ددې تکميل يې وکړ او هغه ته يې دپاتې کېدلو ځواک ورپه برخه کړ دژوند هرارخ ته يې اسلامي شکل ورکړ ، که څه هم دهغه دترکيبي عناصرو ماهيت هر څه وُ . اسلامي ژوند دود ټولنې ته يووالی اوځواک ورکړ په دې متحد کوونکي ځواک کې مذهبي قانون مرکزي رول درلود چې هغه په خپل ځواک سره له رسمونو اوعباداتو نېولې ترملکيت پورې هرڅه برابر کړي وُ . دې قانون اسلامي ټولنه له قرطبې نه ترملتان پورې

---

[1] hemiiltok.a.r.gibb.studieson civilization of islawlondon.ia ٦٢-p.٣-

سره يو کړې وه ، اومسلمان وګړي يې سره يو کړي وُ او ددوی دژوند ټولو اعمالوته يې ملکوتي رنګ ورکړی وړ اوپُرمحتوايې ګرځولي وُ اوټولنه يې له زماني سره برابره کړې وه ، سلاطين به تله اوراتله خوله رباني احکامو سره سم دهغوی حيثيت دځمکې په کره باندې دعمراني ژوند دتشکيل په پرلپسې هڅوکې يواځې ضمني وُ[۶۴].

داسلامي تهذيب ضمير

اسلامي تهذيب داسې تهذيب دی چې دهغه ضمير دالله پاک خوږ نوم اوپه هغه يقين دی هغه په خدايي رنګ " صبغةَ الله " کې رنګ شوی او دايمان اويقين په اساساتو باندې ولاړ دی له دې کبله هغه له رباني او ديني رنګ اوايماني روح نه نه شي بېل کيدلی اوکله چې په ده کې قومي عصبيت ، جاهلي حميت ، نسلي اوتوکميز کشمکش ، مادي هوس ، اخلاقي زوال اوټولنيز انارشيزم پيداشوی نو هغه په عارضي توګه دباندينيو اغېزو ياهغه چاپيريال اوټولنې دين ګرځېدلی چې له هغه نه کوم اسلامي عنصر اپستل شوی وي اوياله اسلامي ثقافت نه دهغه اغېز اخېستل او استفاده کمزورې شوې وي ، اويايې داسلام له اساسي مآخذونو قران اونبوي حديثو سره اړيکې کمزورې شوې وي . له دې کبله دقومونو او هيوادونو په تاريخ کې په پرلپسې توګه دفساد اوبدعتونو اوجاهلي اغېزو دمخنيوي له پاره اوداصلاح اوتجديد داسې هڅې اوکوښښونه پيل شوي دي چې په نامسلمانو قومونواومذاهبوکې يې ساری نه لېدل کيږي.

---

(۶۴) Wilred Cantuell Smith. Islam in Modern History Newyork ۱۹۵۷.P۳۶-۳۷

داراز دې مبارکوهڅو داسې بریالیتوبونه ترلاسه کړي دي چې په نورومذاهبواو قومونوکې ساری نه لري [۲] . اوداسې ځکه ممکنه شوه چې دې هڅو ددې امت له ذاتي جوهر و روح او روحیاتو سره سمون درلود اوداهڅې له هغو اصولو او اساساتو نه عبارت وې چې په هغو باندې ددې امت وجود ولاړ ؤ اوله هغه ځایه یې تاریخي سفر پیل کړی ؤ .

دانساني تمدن دخوځښت کار باید جاري وي

داسلام دتهذیبي ورکړې اوله انساني تهذیب سره دهغه دښېګڼو په تفصیل کې اودانسانیت کاروان له زوال اوځان وژنې نه ژغورل اودهغه دپرمختیا په لړکې داسلام دسترو خدمتونو له یادولو وروسته دیوه تلپاتي اوتاریخي حقیقت روښانه کول هم ضروري دي ، چې په انساني تهذیب کې تاثیري عمل او وخت په وخت له نوي سره دهغه جائزه اخېستل او هغه ته د " قدیم صالح" او " جدید نافع " امتزاج ورکول ، له تخریبي او مهلکو عناصرو اوفاسدو تمایلاتو نه دژغورلو عمل باید په ځانګړي اوپرلپسې توګه جاري وساتل شي .

دویم علمي اوتاریخي حقیقت دادی چې مسلمان امت په انساني تهذیب باندې په داسې حالت کې اغېز نه شي کولای چې دی پخپله دنورو تهذیبونو په دسترخوان باندې اتامونه ټولوي او دهغوی له سرچېنې نه خړوب کول کیږي اودهغو په اغېزو کې ترسپیږمو پورې غرق وي

(۲)پدې لړکې د تاریخ دعوت وعزیمت "دلومړی ټوک سریزه او دبریالیتوبونو دبیلګو له پاره یې پینځم ټوک وګوری !

.اسلامي تهذيب په داسې حالت کې بل څوک اېله متوجه کولای هم نه شي څه معنی چې نور قومونه خپل تقليد ته تيارکړي ، داسې هغه مهال کيدای شي چې دی په پوره توګه په دې خبره ايمان ولري چې دده تهذيب اوثقافت مستقل بالذات دی اورباني اواسماني ځانګړتياوې لري

دهرې زمانې او هرځای له پاره مناسب اوګټور دی ، په قوي اساساتو ولاړ دی ، له کتاب اوسنت نه اخېستل شوی اوپه رباني هداياتو اونبوي تعليماتو باندې ولاړ دی اوپه ده کې دعفت او پاکوالي يوځانګړی تصور پروت دی ، ځکه دده پاکوالی او " طهارت" يواځې د " نظافت" مترادف نه دی اونه دعفت معنی يواځې له اخلاقي غلطيونه ځان ژغورل دي ، بلکې داپراخي معناوې اوهراړخيز مفاهيم لري ، اسلامي ژوند له غربي تهذيب سره هيڅ مناسبت نه لري دغربي تهذيب وده دځانګړو تاريخي عواملو تراغېزلاندې په داسې چاپيريال کې شوې ده چې په هغه باندې ماديت غلبه کړې وه او يوه ښه اوږده موده دمذهب دښمني اوداخلاقو اوصالحو اقدارو بغاوت واکمني پرې کوله، لکه ددې تهذيب اودهغه دتاريخ يوستر پېژندونکی ډاکټر علامه محمد اقبال چې وايي :

که روح اس مدنيت کے رہ سکے نه عفيف

دداډول تمدن روح به له عفت نه لري وي ، تهذيبي اسانتياؤ نو يو ايجاداتو ، دسائنس معلوماتو ، داسلامي تهذيب جلال او جمال ، سادګي اوحقيقت خوښونه ، طهارت اونظافت ته توجه کول اوله اسراف اوبدخرچي نه دځان ساتنې يو کيدل او اتفاق هغه وخت ډېر آسانه کيږي چې کله اسلامي حکومتونه اوټولنې په مستقله او غيرتقليدي توګه کارپيل کړي په آرام اودکمتري له احساس پرته دتمدني پروسو توفيق ورپه برخه شي ، اوپه دوی کې د ذهانت ځلا ، اسلامي تعليمات ، اوله اسلامي تهذيب نه

داغېزمن کيدو ايمان اوځانګړتياپکې وي ، اوله دې سره په دوی کې داسلامي تشخص او امتياز وياړ هم وي .

رحمت للعلمين پيغمبر اودنړۍ له پاره درحمت دين

مونږ داتاريخي او ځېړنيز بحث اوله محمدي بعثت نه وروسته دانړيواله اومقصدي جائزه دخپل کتاب " نبي رحمت " په وروستني عبارت سره پای ته رسوو ځو ددې کتاب له پاره دنبي خاتمې کارورکړي ،دده له بعثت نه وروسته ددنيا موسم بدل شو ، دانسانانو مزاج بدل شو ، په زړونوکې دخدای د مينې شغلې بلې شوې ، دخدای ﷻ غوښتنې ذوق عام شو ، له انسانانو سره نوی خيال پيداشو چې هغه دخدای راضي کول دخدای دمخلوق له هغه سره تعلق پيداکول اوهغو ته ګټه رسول ؤ .

لکه څرنګه چې دپسرلې په موسم کې په ځمکه شنې ګياوې پيداشي ، په وچو ځانګو اوپاڼوکې تازګي اوشينوالی پيداشي ، نوی ترکونه او شګوفې پيداشي ، په غرورغوکې شنه چمنونه زرغون شي ، داراز له محمدي بعثت وروسته په زړونوکې نوی حرارت ، په دماغو کې نوې جذبه اوپه سرونوکې نوې سوداوې پيداشوې .

بې شمېره انسانان دخپلې رښتوني اصلي موخې په تلاش او هغې ته درسيدلو له پاره راپاڅېدل. په هرهيواد اوقومونوکې دانشه ليدل کېده اوپه هره طبقه کې له يوه بل نه دمخکې کېدلو جذبه په څپو وه . عرب عجم ، مصراوشام ، ترکستان او ايران، عراق او خراسان ، شمالي افريقا اوهسپانيه اوبالآخره زمونږ هندوستان اودختيځ هند جزېرې ، ټولې همدې

موخې ته درسېدلو له پاره لکه ليوني داسې ښکارېدل . داسې برېښېده لکه انسانيت چې دپيړيو له خوب نه راپيداره شوی وي . تاسو دتاريخ او ژوند ليکونو کتابونه وګورئ ! نووبه وينئ چې يواځې له خدای غوښتنې اوخدای شناسي پرته بل هيڅ کارنه وُ په ښار ښار ، کوڅه کوڅه ، کلي کلي کې به ګڼ شمېر داسې خدايمست ، لوړهمته ، کامل عارف ، حق ته بلونکي ، دمخلوق خدمتګاران اوانسان دوسته انسانان ترسترګو شي چې دهغو په عمل باندې فرشتې هم رخه کوي ، هغو دزړونو ساړه نغري تاوده کړل ، دالهي عشق شغلې يې بلې کړې ، دعلومو اوفنونو دريابونه يې وبهول، دعلم اومعرفت ، مينې اومحبت مشالونه يې بل کړل ، له جهالت اوظلم نه يې نفرت پيداکړ ، دمساوات درسونه يې وويل .له ويرژلو اوټولنځپليو انسانانو سره غاړه غړۍ شول ، داسې ښکارېدل لکه د بارانه دڅاڅکو په څېرچې دځمکې په هره برخه راورېدلې وي اوله شماره وتلي وو.

ته ددوی کميت نه بلکې کيفيت ته وګوره ددوی دذهني الوت ، دروح دزکاوت اودسليم ذوق کېسې ولوله ! دانسانانو له پاره هغوی څه ډول ژړل اودهغوی په وېر څه ډول وېجن وُ اوڅه ډول دهغوی ارواح لالهانده وو . له ستونزو نه دانسانانو دژغورلو له پاره هغوی څه ډول خطرونه په ځان منل اوخپل اولادونه اوخپلوان يې په ابتلاؤ کې راوستل ، ددوی له حاکمانو سره د خپل مسؤليت څه ډوله احساس وُ اوپه ولس کې داطاعت او مرستې څه ډول جذبه وه . ددوی دعبادت دذوق ، ددعا دقوت ، زهد اوفقر . دخدمت دجذباتو او ښو اخلاقو کېسې ولوله ! له نفس سره دهغوی دانصاف ، دخپل احساسب .په کمزورو شفقت . دوست پالنه ، له دښمن سره چلند اودخواخوږۍ نمونې يې وګوره . کله خودشاعرانو اوادیبانو متخيله ځواک هم هغو لوړوته نه شي رسيدای کومو ځايونوته

چې دوی له بدن اوعمل سره رسيدلي وو ، که دتاريخ مستند او متواتر شهادتونه نه وای نو داپېښې به افساني بلل کېدې ، داستر انقلاب درسول الله ﷺ ستره معجزه او دده درحمت للعلمين والي برکت دی .صدق الله العلیّ العظيم :

وما أرسلنك إلّا رحمتةً للعلمين [1]

---

[1] محمد وزير حامد چهارشنبه ، شپه ساعت ۱۲:۳۷ --۲۰۰۲/۳/۲۸م . سرای نورنگ

اخذ ليكونه

١ > قرانكريم

٢ > صحيح بخاري شريف

٣ > ترمذي شريف

٤ > ابوداؤد شريف

٥ > ارمغان حجاز ـــــ ډاکټر محمد اقبال

٦ > الإسلام والحضارة العربية ـــ محمد كرد علي

٧ > الإصابة ـــــ ابن حجر العسقلاني

٨ > انساني دنيا پر مسلمانون کے عروج وزوال کا اثر ـــ دليكوال كتاب ايام العرب

٩ > ايران بعهد ساسانيان ـــ ارترکرستين سن

١٠ > بال جبريل ـــ ډاکټر محمد اقبال

١١ > بدايه والنهايه ـــــ حافظ عماد الدين بن كثير

١٢ > تاريخ اخلاق يورپ ـــ دليكوال اثر

١٣ > تاريخ ادب عربي ـــــ كارل بروكلمان

١٤ > تاريخ التراث العربي ـــــ فواد سركين

١٥ > تاريخ چين ـــــ جيمسن كاركرن

١٦ > تاريخ دعوت وعزيمت ـــــ دليكوال اثر

١٧ > تمدن عرب ـــــ ډاکټر ليبان دسيد علي بلگرامي ژباړه

١٨ > الثقافة الإسلامية في الهند ـــــ حكيم عبدالحى حسني

١٩ > دستور حيات ـــــ دليكوال اثر

٢٠ > سفر نامه ـــــ ډاکټر بزنير

۲۱ > سيرت عمر بن الخطاب ـــــ عبدالرحمن بن الجوزي
۲۲ > سيرت النبي ـــــ مولانا شبلي نعماني اوسيد سليمان ندوي
۲۳ > ضحى الإسلام ـــــ ڈاکٹر احمد امين
۲۴ > العقد الفريد ـــــ ابن عبدربه
۲۵ > فتوح البلدان ـــــ احمد بن يحى البلاذري
۲۶ > الفهرست ـــــ ابن النديم
۲۷ > كشف الظنون ـــــ حاجي خليفه چلپي
۲۸ > معجم المصنفين ـــــ محمود حسن تونكي
۲۹ > مقدمه ابن خلدون ـــــ عبدالرحمن بن خلدون المغربي
۳۰ > المرأة في القران ـــــ عباس محمود العقاد
۳۱ > معركه، مذهب وسائنس ـــــ مولانا ظفرعلي خان
۳۲ > منوسمرتي (منو شاستر)
۳۳ > نبي رحمت ـــــ دليكوال اثر

BIBLIOGRAPHY

۱. Annie Bessnt- The Life and teachings of Mohammad – madras. ۱۹۳۲

۲. Arnold. T.W. Preaching of Islam. London. ۱۹۳۵

۳. Barth. Religion of India

۴. Bernier. Dr Francois. Travels Of The Mughal Empires(Amritsar). ۱۸۸۶

۵. Briffault Robert The Making Of Humanity

۶. Coulson N.J. Islamic Surveys A History Of Islamic Law (Edinburg) ۱۹۷۱.

۷. Drapar John William History Of Conflict Between Religion And Sciance London ۱۹۱۰.

۸. Devenport John Apology For Muhammad and Garm London. ۱۸۸۹

۹. Dutt R.C. Aricient India Vol .۱۱۱ Oldenburg Buddha ۱۹۰۸.

۱۰. Encyciopeadia Britannica ۱۹۲۷.

۱۱. Encyclopeadia Of Reigion and Ethics (New york ۱۹۲۱)

۱۲. Ernest De Bunsen Islam Or true Christianity .London ۱۸۸۹.

۱۳. Gibb H.A.R Whither Islam (London ۱۹۳۲)

۱۴. Gibt H.A.R Studieson The Civilization Of Islam London ۱۹۲۲.

دپرزربه درنولوستوالوته وړاندي شي:

پرنبوي سيرت دپښتو ژبې ترټولو غوره اوستركتاب

وما ارسلناك الا رحمة للعالمين

سيرت النبي ﷺ

لومړی ټوک

له زوکړې تر غزا ګانو

ليکوال

علامه شبلي نعماني رحمه الله

علامه سيد سليمان ندوي رحمه الله

ژباړه

مولانا عزيز الرحمن سيفي رحمه الله

نفيس خپرندويه ټولنه

د پرزربه د رنولوستوالوته وړاندې شي:

نومیالی مېرمن

لیکوال

علامه سید سلیمان ندوي رحمه الله

ژباړه

مولوي نورالله وفا

نفیس خپرندویه ټولنه



د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا:

www.taleemulislam-radio.com

پته: د خوشال بابا وطن، اکوړه خټک، د سید احمد شهید د مکتبې ترڅنګ
ګرځنده: 0300-5778253 تلیفون 0923-203027 کابل: 0093-0799-698570
بریښنالیک: nafeesqasam@yahoo.com
پېښور: ډهګې منور شاه، قصه خوانی